# د کتاب پېژندنه

دکتاب نوم: سیندونه هم مري .

شاعر: اسحاق ننګیال .

سریزه: زرین انځور

تدوین: پوهنیار محمد اسمعیل یون

خپرندوی: دافغانستان د کلتوري ودې ټولنه - جرمني

شمېر: (۵۰۰) ټوکه

دېښتې انځور: استاد نیاز ی

کمپوزر: غازي کمپوزنګ مرکز، پېښور

چاپ نېټه: ۱۳۷۷ لمریز ـ ۱۹۹۸ ع کال دسمبر

Ketabton.com

دکتاب د چاپ حقوق د افغانستان کلتوري ودې ټولنې سره خوندي دي

د انیترنیټ په مخ ترتیب کونکي سمسور حبیبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یادون

د تېرو دوولسیزو په بهیر کې د پښتون شاعرۍ د څو مطرح څېرو له جملې څخه یو هم خدای بښلی اسحق ننګیال و. ده د ځوانۍ په شېبو (د پنځوسمو کلونو په بهیر ) کې شاعر پیا کړې وه، خو د ژوند تر پایه پورې له هیڅ شي سره دومره خوا خوږی او نږدې پاتې نه شو لکه له خپلې شاعرۍ سره. شعر په حقیقت کې د هغه د ټکلي روح او روان د ټکورولو اغېزمنه وسیله وه.ننګیال لږه د خپلې څلېویشت کلنې شاعرۍ په بهیر کې د شاعرۍ دومره پخې تجربې تر لاسه کړې او بیا یې د همدې تجربو له کبله دومره ښکلي شعرونه وزېږول چې په پښتو شاعرۍ کې د ښکلو غمیو حیثیت لري او کولای شي د ننګیال نوم زموږ د ولس په ذهن کې تر ډېرو خته ژوندی و ساتي شاعر هم د بل هر انسان په شان په ټولنیزو، سیاسي، فکري او نورو مسایلو او چارو کې د بریو تر څنګ له بولږښویېدنو، تېروتنو، هیلو او نهیلیو سره مخا مخېږي. کله چې پر ننګیال او دده پر شاعرۍ خبرې کېږي نو ځنیو ته ضرور د هغه د شاعرۍ تر څنګ، د هغه د ټولیز، سیاسي او اخلاقي شخصیت انځور هم تر سترګو کېږي. د هنر مند د پېژندنې لپاره خو تر ټولو غوره لاره داده چې د هغه خپل هنر و کتل شي. د هنر مند تخلیق او زېږونه پخپله د هغه دی. د ی د ظاهري او په زیاته کچه د باطني شخصیت هنداره ده. نو کله چې د ننګیال پر شخصیت خبرې کېږي نو مجبور یو د هغه د شعر نړۍ و ګورو او هغه کلیمه یوه یوه تر سترګو او فکره تېره کړو چې د ننګیال له ضمیره یې سر چینه اخیستې او بیا د شعر پر ښتې په خپلو او ښکو میځلې او د مینې د نړۍ دابدیت غېږې ته یې سپارلې ده. دا خبره ر منلو وړ ده چې شاعر تر هغه پورې چې د فکري بلوغ پړاو ته رسېږي د فکر ستنې به یې یو او بل فکري لور ته کږېږي، تر هغه پورې چې شاعر خپله ذهني او فکري شتمني بشپړوي تر هغه وخت پورې یې د فکري ښویېدنو اټکل کېدای شي.

ننګیال د خپلې ځوانۍ په درشل کې په شاعرۍ پیل وکړ او دا هغه مهال و چې نور نو ټول هیواد د «عقیدې د بحران او د معنویت د سقوط» پر لور روان و. ګنو فکرونو د بېلا بېلو شعارونو تر پر دې لاندې د هیواد د ځوان پښت د ذهنونو د خپلو نې هڅه کوله. شعارونه یې خواږه وو خو وروستي عملو نه یې ترخه.. د ننګیال د ذهن یوه برخه هم د یو سیاسي فکر د جال په کړۍ کې ګیر شوه. خودې فکر لا د شاعرۍ پر بې تکلفې ښکلا خپل سیوری نه غوړولی چې د ناورین لومړی پړ او پیل شو. بیا د ناورین د پاسه بل ناورین او غمیزه راغلل چې نه یوازې زموږ د هیواد او ولس د هر ډول شتمنۍ ستنې یې و لړزولې بلکې له ګڼ شمېر متفکرو مغزونو څخه یې هم لاره ورکه کړه. دې پړ او ډېرو زیات دوام و موند او ننګیال هم پداسې ډو جغرافیایي او مسلکي چا پېریال کې ژوند تېر اوه چې هلته د ډو داسې فکر واکمني وه چې د ننګیال د اصلي شاعرۍ له سپېڅلي روح سره یې تګلوری په ټکر کې و. ننګیال پدې کلونو کې لکه د نورو ګڼو

لیکوالو او د فکر د هاوندانو په څېر په داسې یو جال کې راګیر وو چې تر دې دمه یې لانه پوره سترګې رڼې شوې وې او نه یې د شعر د ښاپیرۍ وزرونو خپلواک پروازونه کولی شول. پدې پړاو کې د ننګیال فکري بلوغ هم د خپل پوخوالي پړاو ته رسېدلی نه و، نو ځکه خو یې د هغه وخت په نظمونو ( نه په شعرونو ) کې یولړ فکري ښویېدنې لیدل کېږي، خو هغه په همدې وخت کې بیا هم دده شاعرۍ کې د فکري او انساني بغاوت او غاطفي سیند د څپو یو پټ شور پروت و او داسې اټکلېده چې یوه ورځ به دده ددې فکري تېروتنې پر ځای دده د فکر او ضمیر هغه د ننۍ نړۍ راڅرګنده او د خپل شعر ناوې به پرې سیمګار کړي. کله چې شاعرد فکري او شعري بلوغ پر لور بریمن ګامونه اخلي نو تپل سوی، تصنعي او نا شعوري اندود یې هم ورو ورو له مینځه ځي. کله چې لږ نوره رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې هم راغله او په کابل کې د يو زيات شمېر ليکوالو سترګې رڼې سوې نو هر چا د خپل هيوادني اند د اصلي جو هر ميندلو ته هڅه وکړه. ننګيال چې په پټ ضمير کې يې همداراز پټو ، له ځينو نورو څخه په دې لار کې ګامه د مخه شو. جرئت او رښتينولي يې د دې مرغلرې د ځلونې او خپلونې لپاره امېل کړل. له ۱۳۶۲ ۱۳۶۴- کلونو وروسته وختونو کې په کابل کې د مقاومت دادبياتو او د شعر د شعري جوهر د پياوړتيا لپاره په څرګند ډول هڅې پيل شوې. په همدې کلونو کې په څرګندډول د شعر او شعار تر منځ پوله ډاګيزه شوه. دادبي مبارزې په دې تود ډګر کې د هيواد دپياوړي کره کتونکي او کيسه ليکونکي زرين انځور او بيا د تکړه کر کتونکي لطيف بهاند او نور زيار او هڅې د يادونې او ستاينې وړ دي. دوی يو زيات شمېره هغه ځوان شاعر چې په شاعرۍ کې يې « شعاريت» جوهر پياوړی بر بېښېده او يا په کې د شاعرۍ تومنه څرګندېدله، دېته راوبلل چې له شعارونو څخه و چې تر ټولو لومړی له همدې پيل شوي بهير سره يو ځای شو. داد شعر د پو خوالي په لور د ننګيال دبر يمنو هڅو د پيل کلونه دي. دې بهير تر ۱۳۷۱ ل کال پورې خپل عمر ته دوام ورکړ.

په همدې واټن کې د ننګيال شاعري دومره خوږه، سپېڅلې او عاطفي شوه چې د هغه محبو بيت يې د هيواد يو ستر عاطفي شاعر تر بريده ورساوه. ننګيال د همدې کلونو په بهير کې د خپلو شعرونو څلور مجموعې ( ډالۍ ، سپېره ډاګونه ا و غوړېدلي بز غلي ، هغه شپېې هغه کلونه او ځا ځکي ځاځکي ) چاپ کړل. څرنګه چې دده شعر ورځ په ورځ د خوږوالي او کره والي پړاوونه وهل نو په ( ۷۰ ) کلونو کې دی د خپلو شعرونو له ځينو چاپي مجموعو په ځانګړي ډول ( ډالۍ او سپېره ډاګومو او غوړېدلي بز غلي ) څخه څه نا څه پښېميان و او هغه يې « شعرونه» نه ګڼل. دده د شاعرۍ دپر مختګ بهير دومره ګړندی و چې د خپلې د مخنۍ شاعرۍ زياتو شعذونو ته به يې خندل، سره له دې چې دده په شاعرۍ کې د شعر اصلي تومنه او جوهر له پيله ښکاره کېده خو وروسته وروسته يې د خوږو کلمو يو زرين شال ور په سر کړ. کله چې د ۱۳۷۱ ل کال د غوايي مياشتې پر ۸ نيته په کا بل کې اسلامی انقلاب ( ! ) په نوم يو ستر ستمي ناورين او غميزه پر افغانانو ور وتپل شول او د هيواد ټول نظام ګډوډ شو ، ننګيال ژوند او آن دده فرهنګي کارونه هم له سختو ستونزو سره محامح شول. د سرو ګوليو په باران کې يې ايله دومره وکړای شول چې خپله کورنۍ تر لغمانه پورې ورسوي. د کور شته يې، يې ټول تيت و پرک شوال او ځو ځله په يو ښار کې له

يوه ځايه پل ځای ته مهاجر شو. د کور د کاليو په کيسه کې خو نه و خو د کتابتون د چور او تالان له غمه يې له سترګو لمبې پورته کېدلې او همدا يې ويل. « ياره پير جانه افسوس چې داکتابونه يې راځخه نه وای وړي». د کتابونو غم لا نه و سوړ شوی چې ديوې درنې ګولۍ ګوزار هم ورته ورورسېده، د توپ بوه ګولۍ يې څنګ ته ولګېده او ځو ټو ټويې د بدن ځنيې برخې غلبېل کړې. له ناروغۍ لا پورته ښه شوی نه و چې بيرته يې د ليکوالو په ټولنه کې خپلې دندې ته ځان ورساوه. شپه او ورځ به همالته په ټولنه کې و. د ليکوالو انجمن يې هم کور و اوهم ددندې ځا. ځو مياشتې لا وتې نه وې چې کوم چاورته کو پنجشيری ولمساوه.تياره ماښام و، ډيوه يې لا لګولې نه وه چې دور له ټک ټک پرته داشخص له خپلونورو ملګرو سره يو ځای په کوټه ور ننوت. هغه خدای خبر په کوم فکر کې ډوب و چې يو ناڅاپو يې پردوی سترګې ولګېدې. ده لا هغو ته د ناستې او ست هيله لرله چې يو ګوزار دده تر مخه داسې راورسېد چې دده يو غوږيې هم د څه وخت لپاره بې خسه کړ او اديې ورته وويل چې.( ما چرم کن استم، سبا تايې وقت اين اتاقه ابله مې کنی،ديګر ده اينجا نبينم ات ، ای اتاق را مابرای چرم کنی کار دارم )ځو ورځې د هغه په سترګو کز له اوښکو او په څېره کې يې له يوې سترې نهيلۍ پرته بل څه نه ليدل کيدل او داسې يو حالت ته په هيله و چې بيا پدې هيواد کې د يو ملي فکر د حکومت وزرې خپرې شي او د يو سوله ايز ژوند وړانګې هره خوانه رڼا کړي. کال دوه لاوتي نه وو چې دطلبانو اسلامی عورځنګ پر کابل سپين بيرغونه ورپول. سهار دوخته، چې لاډيره خلک د کابل پر فتحې خبرنه وو زموږ ړ کور وريې ټک ټک کړ او په بيړني ډول يې وويل. « پير جانه راوځه، طالبانو کابل نيولی او سقاوي ختمه شو» هغه د يو سپين سباوون هيله و خو شاعر لکه چې ازلي بد مرغه وي. ننګيال بيا خپلې دندې ته ولاړ، خو دا ځل دا دنده بل ډول وه، نوي نظام د ليکوال د ټولنې پخواني تښکيل ته بدلون ورکړ، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګیال بیا هم په همدې تشکیل کې پاتې شو. دا تشکیل د دولت لوړ مقام ته د منظورۍ لپاره ولېږل شو. تر هغه وخته چې د ننګیال د مقررۍ امر راته ،پدې کې یوولس میاشتې تېرې شوې،خو پدې یوولسو مېاشتو کې ننګیال هره ورځ د پخوا په څېر خپله دنده پر مخ وړله، یو ځل بیا یې شپې په همغه ټولنه کې شوې چې ده ته ترې دوتلو امر شوی و. ننګیال او شاعران به ترې راتاو وو ، خو یو وخت یې اقتصادی حالت دومره ویجاړ شو چې د چا خبره د پولۍ ټک ته کېناست. څو ځله یې دا خبره زما تر غوږ تېره کړه. « یاره پیر جانه د ماشومانو غمه مې که نه وای ما په نهر هم شپې سبا کولې ، خو له کابله نه وتلم، کابل خو زما د دردونو ، غمونو ، بریاوو او ماتو کور دی، زه دا کله یوازې پرېږدم. خو افسوس چې د ماشومانو غم دی». بیا به یې بو سوړ اسویلی وکېښ او یوه ترخه مو سکا به یې پر شونډو تېره کړه. نوریې د دندې د ساتلو لپاره پیسې او مالي لګښت نه درلود چې دی پرې خپله دنده و ساتي. لغمان ته راغی او بیا یې د پېښور مخه ونیوله. په پیئور کې هم له ډیرو انتظارونو او کړاوونو وروسته ورته د بي بي سي دروز نیزې ډارمې د لیکوال په ټوکه دنده و سپارل شوه. د کلداري معاش مزه یې لا څلکلې نه وه چې د مرګ پر ښتو یې روح پخپلو وزرونو کې دابدیت په لور یو وړ او بیا د بي بي سي راډیو له لارې دا سې یو خبر خپور شو. « په خواشینۍ سره مو خبر تر لاسه کړی چې د هېواد نامتو شاعر

اسحق ننګیال نه په پېښور کې د ۴۲ کلونو په عمر دزړه ددریدو له کبله په حق ورسېد» . ددې خبر په اورېدو سره د هیواد ټولو فرهنګیانو که په داخل کې وو او که به بهر کې دا سې یو دردونکی ټکان و خوړ چې دټولو زړونو ته یې د غم لمبې ورسولې.

دادننګیال د سرګردانه ژوند په باب څو یادونې وې چې دلته یې لنډیز راوړل شو. سره له دې چې ننګیال دژوند په اوږدو کې له ډول ډول کړاوونو سره مخامخ شوی دی خو د تېرو شپږو کلونو کړاوونو هغه دومره ځولی او ټکلی دی چې نور په هېڅ وخت کې هغه دومره روحي، رواني ،سیاسي، اقتصادي او نور فشارونه نه دي زغملي. دیو لیکوال په اند.« غوره ادبیات د اختناق په حالت کې رامنتځه کېږي» او شاعر یا لیکوال دا اختناق په مقابل کې له ادبیاتو څخه دیو روحي او رواني غبرګون په توګه کار اخلي. هر څومره چې د افشار او اختناق پیاوړی وي عکس العمل یې هم هماغسې وي. ننګیال د تېرو شپږو کلونو شاعري د همدغو ډول ډول ظلمونو او اتناق زېږنده ده نو ځکه پکې سوز او درد دده تر پخوانیو شعرونو څه زیات دی. دغم او درد پدې څو کلونو کې د ننګیال د شعر ښاپېرۍ لاپسې سینګار شوې ده. دده د فکري تګلوري لیکې او ستنې محکمې شوي او شاعر د شعر د پوخوالي، فکري ثبات او د بشپړو انساني ارزښتونو په پېژندنه او ځلو نه کې بریالی شوی دی. په حقیقت کې د ننګیال دوروستیو کلونو شعرونه د هغه د ښکلې او اوچتې شاعرۍ رنګین او ما نیز ګلابونه دي.( ښکاري ته ) دده بو ښکلی عاطفي او انساني شعر دی چې دهد ۱۳۶۵ ل کال د غبر ګولي د مېاشتې پر لومړۍ نېټه لیکلی دی. دې شعر نه یوازې په هېوادنۍ کچه زیات منبنت پېدا کړ او ډېر اغېزېې وشینده، بلکې د شمالي کوریا په هیواد کې د ځوانانو دېو نړیوال فیستوال په ترڅ کې چې د افغاني سندرغاړو له خوا د مو سیقۍ په څپو کې په سندرېزه بڼه ولوستل شو نو دټولو اورېدونکو او مینوالو د منبنت وړ وګرځېد او دې شعر هلته لومړی مقام وګټه، خو د ننګیال د شعر ي بهیر د پر مختګ په وجه، دمړمینې په نږدې وختونو کې هغه دا شعر « پوره شعر » نه ګاڼه او ویل یې چې د « شعاریت » نښې په کې لیدل کیږي. ننګیال دتېرو اوو اتو کلونو په موده کې ښه ډېر شعرونه ولیکل خو د ځانګړو مجموعو او یا مجموعې د چاپ امکانا ت ورته برابرنه شول. له دې کبله دهغه دوروستیو کلونو شاعري دشعر دزیاتو مینوالو او لوستونکو له لیده لرې پاتې شوه. ځکه نو کله چې به کوم لیکوال او یاکره کتونکي دده دشاعرۍ په باب نا سم نظر ورکاوه، نو دی به ډېر په قهریده او ویل به یې. « دی نو زماله اوسنۍ شاعرۍ څخه څه خبر دی هغه خو ټوله له ما سره په کتابچو کې پرته ده...» دده یوه ستره هیله هدا وه چې د خپلو شعرونو ټولې مجموعې چاپ او پخپلو سترګو ووینې. دننګیال په ژوند خو د هغه هیله پوره نه شوه خو دادی د هغه له مړینې وروسته، په جرمنې کې د افغان فرهنګیانو او فرهنګپالو په مالي مرسته دهغه دا ارمان پوره شو. ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کله د هغه د نا چاپه شعري مجموعو د چاپ پر کار پیل وکړ، نو ننګیال مې یوه شپه په خوب کې ولید. خو له یې له خندا شنه وه او همدا سې په خو شالۍ

یې راته ویل.« پیر جانه ! زما مجموعې چاپېږي؟آ ؟ ښېشکه وا الله... » ما ورته ویل هو ستا ټول شعرونه چاپېږي. په هغه شپه له خوبه راویښ شوم، تر سهاره خوب رانغی ،.لاټین مې ولګاوه او د ننګیال په چورت کې لاړم یو ځل مې د هغه ټولې خاطرې نظر تېرې شوې.کله چې مې د هغه د شعرونو توري لوستل نو په هر توري ، هر شعر او د شعر په هره پاڼه کې راته د ننګیال تصویر تر سترګو سترګو کېده. زه ددې شعرونو تر پایه پدې پوه نه شوم چې زه په کوم حالت کې یم، لکه یو ځوک چې په خلا کې روان وي. د ننګیال دوروستیو کلونو ، فکري او عا طفي شخصیت کټ مټ د هغه داوسنیو شعرونو له مانیزې او عاطفي خوا سره منطبق و. هره پاڼه کې ننګیال و په هر توري کې ننګیالو. دا هغه ننګیال نه و چې د خپلې شاعرۍ په پیل کې او یا له هغه وروسته د ځو کلونو په شاعرۍ ځلېده. دلته یو بېل ننګیال و.هغه د خپلې مینې او عاطفي پر سپین اس سور او د ښاپېریو ښار ته روانو ، او لکه چې له هغه ځایه یې د خپل ستي او ټپي ولس د درملونې لپاره ښکلاو وټکورونه راوړل. ما هره شیبه له ننګیال سره خبرې کولې او دومره خبرې چې د هغه په ژوند به مې ورسره نه وي کړې او کېدای شي لوستونکی هم زما یه برخلیک اخته شي. خو ددې سو چونو او فکرونو په منځ کې خوشاله پدې وم چې د هغه د ټولو نا چا په شعرونو غټ جونګ چا پېږي. کله چې دا مجموعه چاپ شو نو زه به یې د الینګلر د ښکلې شارانه درې د بسرام په کلي کې د ننګیال پر قبر کېدام او مبارکي به ورته ورکړم. د هغه روح به څومره خوشاله شي او هغه ارمان چې دده په ژوند پوره نه شو ، وروسته له مرګه به پوره شي. په همدې هیله مې د هغه شعري مجموعې چې په کور کې وې تر لاسه کړې. هغه یوه شعري مجموعه چې کاپي یې ده سره په کور کې وه انځور صاخب ته هم لېږلې وه، هغه هم تر لاسه شوه. دا شعرونه چې ما وکتل زما په نظر کم ښکاره شول ځکه ننګیال چې به کوم شعر ولیکه نو د نورو شاعرانو په شان به یې خپلو ملګرو ته ضرور اوراوه. حفیظ الله ګردش، صدیق الله بدر، نور محمد لا هو او عبدالغفور لیوال ته مو د ننګیال صاحب د هغو شعرونو په باب چې پدې مجموعو کې نه وو او په ځینو اخبارونو کې په متفرقه ډول چاپ شوي وو ، وویل. موږ ټولو په اخبارونو او نورو خپرونو کې د ننګیال صاحب هغه شعرونه پیدا کړل چې په تیت وپرک ډول چاپ شوي وو او پدې مجموعو کې نه وو راغلي، بیا هم ما ته د خپل اټکل له مخې دا شعرونه پوره نه برېښېدل د کتاب د تورو لوستل بشپړېدو ته نږدې شوي وو چې یو ځل بیا په لغمان کې د ننګیال صاحب کورته لاړم. د هغه مشر زوی ( ارش ) ته مې د ننګیال صاحب د یوداسې عکس یادونه وکړه چې تر اوسه په خپرونو کې چاپ شوی نه وي او هم مې ورته وویل چې د ننګیال صاحب کتابونه او پاڼې یو ځل بیا وګورې، ګوندې څه شعرونه یې تر لاسه شي. هغه ما ته وویل « موږ څو ځله د خپل پلار کتابونه او یادښتونه واړول راواړول، څه چې وو هغه مو تاسو ته درکړل خو موږ به یو ځل بیا هم ټول کور وګورو».

په پېښور کې دمجمعوعې کار د بشپړېدو په وروستیو شېبو کې و چې د ننګیال صاحب زوی ( ارش ) په ډېرې بېړې له لغمان نه ځان را ورساوه او د ننګیال د شعرونو یوه بله کتابچه یې هم راوړخ.ما چې د ننګیال

صاحب دا شعرونه وکتل دومره خوشاله شوم چې د ټولو ستړیاوو بارمې یو ځل له اوږو لرې شو. بیا مې دا ټولې کتابچې، له اخبارو او خپرونو څخه په متفرقه ډول راټول شوي شعرونه سره پر تله کړل، تکراري شعرونه مې ترې لرې کړل، دغه راز مې دده له دوو چاپ شویو شعري مجموعو ( هغه شېبې هغه کلونه او ځاځکي ځاځکي ) څخه یو شمیر شعرونه ورسره یو ځای کړل. اوس تر زیاته بریده پر دې باوري یم چې د ننګیال نور شعرونه به نه وي پاتې. ده له خبل ناډلي ( نامنظم ) ژوند دود سره د خپلو شعرونو د ثبت انتظام ته ډېره پاملرنه کړې وه. له دې څخه دا څرګندېږي چې ننګیال له خپل ځاني ژوند نه هم له شعر سره ډېره مینه درلوده، ځکه چې هغه د خپل ژوند د ښېرازۍ مېړنی نه و خو د ښکلې شعري شتمنۍ څښتن و. ده انځور صاحب ته د یو لیک په ترڅ کې لیکي وو. «

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو شعرونه مې له ( سپنتا ) سپين ږيري سره پاتې شول او له ما سره يې اوس کوم نقل نشته، هغه غوښتل څه پرې وليکي خو حالاتو وخت ورنه کړ که چيرې مې بيا و موندل نو دروبه يې ليږم» له « سپين ږيري » څخه يې مقصد ( ښاغلې سليمان لايق ) دی چې ننګيال ور سره د شاعرۍ ښه ملګرتيا لرله. دا چې دا شعرونه به پياوړي شاعر سليمان لايق سره وي او که نه ؟ زه خبر نه يم. د ننګيال صاحب د شعرونو د کتابچو او د شعرونو د نېټه ليک له تسلسل نه داسې ښکاري چې د ننګيال صاحب نور شعرونه به نه وي پاتې. دا ليک هغه انځور صاحب ته له کابل نه د ۱۳۷۱ ل کال د زمري پر ۱۲ نېټه ليکلی و. تر هغه وروسته د څو کلونو په ترځ کې هغه خپل شعرونه له سره مو جودو چې انځور صاحب ته يې لېږلي وو ، نو کله چې انځور صاحب ته د لېږلو شعرونو نقل وروسته ترتيب شوی نو دغه راز به ښاغلي سليمان لايق ته ږر کړل شوي شعرونه هم بياله سره په کتابچو کې ليکل شوي وي. بيا هم که ښاغلي لايق سره دا شعرونه مو جود وي او هغه ددې مجموعې له شعرونو سره پر تله کړي او کوم چې پدی مجموعه کې راغلي نه وي، تر چاپ وروسته د هغو د خوندي کولو هڅه وشي نو دا به پښتو ادب ته يو ډېر ګټور کار وي. د ننګيال دا مجموعه ( سيندونه هم مري ) د هغه د ( ښېرې په مالت کې، نه جام نه څادر ، دا جل دا برسات، سيندونه هم مري، ځنيې متفرقه شعرونو او د چاپ شويو دوو مجموعو هغه شېبې هغه کلونه او څاڅکي څاڅکي له څو شعرونو څخه جوړ ح دخ ددې مجموعې چاپ د پښتو شعر په ځانګړې ډول آزاد شعر په برخه کې يوه ډېره په زړه پورې، درنه او ارزښتمنه ډالۍ ده. خو له دې درنې ډالۍ سره سره به مو دا ارمان تل په زړه کې پاتې وي چې کاشکې ننګيال ژوندی وای چې داسې نورې ښکلې او رزښتمنې ډالۍ يې خپلې ژبې ته وړاندې کړې وای. ننګيال ته دعاګانې.

**په مينه او درناوي**

**محمد اسمعيل يون**

**۱۳۷۷ ل کال - لیندۍ**

**پيښور/ پښتونخوا**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

## اسحاق ننګیال

## د پښتو دنوي شعري بهیر په یون کې

د پښتو د معاصرې او نوې شاعرۍ په یون کې، اسحاق ننګیال کله څوک هېرولی شي ! ننګیال د پښتو دنوي شعري بهیر د ښایست یوه نښه وه. ننګیال زموږ د شعر د نوي کتاب یوه زرینه پاڼه وه. ننګیال، هغه فقیر، هغه ملنګ شاعرو چې په همدغه لنډ او غم ځپلي عمر کې یې هم موږ ته هنرونو د ښایستونو دومره شته راپرېښودل چې زمونږ نوی ادبي بهیر پرې ویاړ کولای شي، خو که هغه مرګي داسې بې وخته، یو ناڅاپي او په ډېره بېړه له موږ نه وای اخیستی، په دې کې هېڅ شک نشته چې زموږ دولس ادبي هنري پانګه به یې نوره هم درنه کړې او ښکلې کړې وای.ننګیال د پښتو په اوسني شعري یون کې په عمومي توګه، دیولاس د ګوتو د شمېر له نوموتو ځلیدونکي، پیاوړي او د پاملرنې وړوي، یو یې اسحاق ننګیال دی؛ او دایو ستر ویاړدی، یو لوی ارزښت دی،یو خورامهم هنري ادبي دریځ دی. د ننګیال شعر، په افغانستان کې په ډېرو کړ کېچنو ، کړلېچنو او غمجنو شېبو کې اوج او شهرت ته ورسېد. سره له دې چې هغه د لمریزې پنځو سمې لسیزې له پیلامې څخه شاعري راپیل کړې ده، خوداوج کلونه یې د ثور له غمیزې او بیا دروسي سرو پر غلګرو، له یرغل وروسته، رارسېږي. داهغه کلونه دي چې په شروع کې یې دافغانستان په شاعرۍ کې، دهنرې-ادبي ارزښتونو پر ځای، دنظمونو په وړاندې دهنري شعري ارزښتونو لپاره هلې ځلې، نه یوازې داچې یوه لوړه هنري ادبي هڅه وه؛ بلکې دهغه وخت د حالاتو په رڼاکې په یو ډول سیاسي مبارزه هم بدله شوې وه. د سرو نظمونواو سرو شعارونو پلویان د ګوندي او دولتي واکمنۍ د فرمانونو او ستورونو ناظمان وواو یوازې پر همدغه اړخ یې ټینګار کاوه ،خو ددوی په وړاندې هنري- ادبي ارزښتونو لپاره هلې ځلې نه یوازې دا چې د یو هنري تقدس لپاره ټینګارو، دګوندي- دولتي دستورونو او فرمانونو په وړاندې یې، دیو ټولنیز-سیلسي (ملي) تقدس په توګه هم ارزښت لاره. ننګیال، سره له دې چې دشعري ژوند په څو لومړیو کلونو کې یې د شعارونو او نظمونو ځینې بېلګې هم وړاندې کړې دي، خو له شعارونو او نظمونو څخه دشعر - هنري ښکلاوو پر لور د هغه دورښمیني لارې سفر ډېربېړنی او دپوره پاملرنې او ستاینې وړ دی. ددغې وریښمیني لارې له سفر وروسته، که هغه دمینې شعر لیکلی، که یې کومه عاطفي شېبه انځور کړې او که یې کوم بشپړ سیاسي شعر لیکلی دی، تر ډېره زیاته حده یې له هنري - ادبي ځانګړنو او ارزښتونو سره نغاړلي دي.

اسحاق ننګیال په وروستیو شلو کلونو کې، دافغانستان د شعري بهیر له څو فوق العاده او استثنایي شخصیتونو څخه دی.که وروستیو شلو خونړیو کلونو ، غمجنو بهیرونو ، موږ ته کومه ښه ډالۍ هم راکړې وي، ښایي یوه یې د ننګیال په څېر دیو شاعر ظهوروي، چې هغه یې هم یوازې یوه ورځ وروسته بېرته له موږه واخیست. داسې چې که ددغې خونړۍ غمیزې پیلامه د ۱۳۰۷ لمریز دغویي له اوومې پیل شي نو ننګیال د ۱۳۷۷ لمریز د غویي په اتمه ځونیمرګ کېږي. دلته به زه، پرهغو ټکو ، هغو ارزښتونو څو خبرې وکړم، چې اسحاق ننګیال یې، زموږ په اوسني شعری بهیر کې ،تر نورو ډېرو ، زیات ځلولی او د پاملرنې وړکړی دی. لومړی د افغانستان دوروستۍ شل کلنې غمیزې انځور ګري،ننګیال له بل هر چا څخه په ښه ژوره، هراړخیزه او شاعرانه توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې ده. هغه غمیزه چې د ثورو له اوومې پیل کیږي د جدي په شپږمه اوج ته رسیا و څوارلس کاله وروسته د ثور په اتمه یو بل نوي غمجن پړاو ته ور ړاخلیږي او د ننګیال تر مرګه هم لا دغه غمیزه پای ته نه رسیږي. ننګیال د دغې غمیزې په زړه کې پروت دی، همدغه غمیزه د ننګیال زړه خوري او ځاځکي ځاځکي یې د ویر ژړلیو شعرونو په توګه څڅوي. ننګیال د همدغې شل کلنې غمیزې ډېر پیاوړی انځورګر شاعر دی. هغه د غم د دغو کلونو ډېره زیاته برخه د افغانستان په زړه، کابل کې، تېروي او د ټولو غمجنو شېبو شاهد پاتې کېږي. دغه شېبې که غمګینې او له ویر او وینو هم ډکې دي، خو شاعرانه کیږي. ننګیال د همداسې یو یو غمګین برخلیک شاعر دی او ځکه خو هغه د افغانستان د شل کلنې غمیزې دویناوال په توګه راڅرګند ېږي.

د ماښام ډمې مې بولي په ژوندون د مرګ بدلې

ای دویر پیغلې نغمه شه چې د شپو د جیل بند یم

راته وژني خوب په ګوتو د شوګیر پیغامبر راغی

مه ځه مه ځه راستنه شه چې د شپو د جیل بندي یم

غواړي ځان ته مې سجده کړي، زه په ټیټ سر بلدنه یم

د غیرت ناوې شمله شه چې د شپو د جېل بندي یم.( ۱ )

او یا داچې

زما د کور هغه وړه هغه ببېا که فضا

زما د کور هغه زاړه هغه خټین بامونه

چې ډوبېدل به د ماشومو خنداګانو سین کې

زما د کور وړه باغچه کې د سپرلي ښاپېرۍ

سرو ګلابو د شنو پاڼو جنتي تخت نه یې

چې شنو موسکاوو کې ډک جام د بد مستۍ راکاوه

زما د کلي هغه لویې، ها پراخې کوڅې

زما د کلي هغه شنه، هغه سمسور باغونه

زمونږ د نجونو حرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د سپینږیرو دېرې

زموږ د سترو کروند ګرو غرمو څپرې

د مرګ په ولوزانګې

اسمان دلویو خړوو وریځو او باروتو لوګی

ځمکه دوینو او دمړو له کوپړیوډکه

انسان دویر او ددردونو او مرګونو کوربه

کورمې دمړ اوو بېګناهو امیدو هدیره

دنیا مو ټوله نړوونکو توپانو نیولې

نو عقله !

نو عقله ای د تو پانو د غلو په لاس تبنتول شوې بېړۍ

وایه چې چېرته لاړ شم؟

او پر دې ځان څه وکړم؟ ( ۲ )

او : ته راته ګورې چې محل مې له کار غانو ډک شو

او په وبالو کې دهېلیو بچې وسوزېدل !

او رموږ د کلي میندې

دمیلاد شپو کې « بې لاسو او پښو بچیان زیږوي »

ته راته کورې؟

ته راته کورې چې مې ټول کلی چاړه چاړه دی؟

خلک په نو کو او برچو دیوبل ستر ګې باسي

اودمالت خجو نې

(c) ketabton.com: The Digital Library

به خپلو تورو تورو څڼو کې ځوزان ټک وهي

آه،

آه نازو لې سبورېمی !

آه درټا مورې !( ۳ )

ننګیال، په کابل کې د تنظیمي حکومت د ټوپکوالو د ځلورنیمو کلونو دوحشت تر ټولو او ځار شاهد شاعر هم دی. دننګیال د ناچاپې شاعرۍ زیاتره برخه ددغو وحشتونو شاعرانه انځور ګری، ته ځانګړې شوې ده.هغه د بدمرغیو په دغو بهیرونو کې د کابل « مینې» ته هم وایي چې نور درځنینې شرمېږم. د « انسان» په نوم له دغو « ناانساني» اعمالو شرمېږي او د « افغان» په نوم له دغو « افغاني ضد » اعمالو.

مینې له شرمه درکتلای نه شم

نورمو د کلي د ګلونو په کاله کې

پېغلتوب د ګل غوټیو چېرته هم نشته

او ابراهیم د خپلې ښکلې نازولې د جمال او د عفت

د لوټ کوځو کې د غارت کیسې ته خوب وړی دی

نور مو دباغ نجونو ته « هسکې» او « کرې» شملې د ښمنې ښکاري

مینې له شرمه در کتلای نه شم ( ۴ )

او یا لکه چې هغه د « کلي» په نوم شعر په یوه برخه کې وایي.

نه پو هېږم، نه پو هېږم

ای د کلي مازیګره !

ها زمونږ د کلي چم کې

هغه سپینه کېږدۍ څه شوه

هغه شنې ځپرې څه شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ها لوګرې جينۍ چېرې؟

***

تاته یاد شي مازیګره !

هغه شنې د برې د کلي

په کې هسک د شملو غرونه

په کې وربځې د چلمو

***

نه نه وران دی

کلی وران دی

یوه ځاله په کې نشته

ها د ښکلو توتکیو

یو نغری هم اباد نه دی

دا بیوه لاس ننبه

***

لښتي وچ شول

ویالې ورانې

سین د تورو کاڼو غرشو

اوس حیران یم چې د کلي

دا هېلۍ به چېرته لامبي. ( ۵ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګیال په خپلو دغه ډول شعرونو کې د جنګ هغه ربښتیني و حشي څېره ډېره ښه تصویر کړې ده چې زموږ وطن خوري، زموږ اولس وژني او زموږ د هېواد ټولو ارزښتونو ته ګواښونه کوي. ننګیال د دغو غمیزو په انځور ګرۍ کې شاعرانه او هنري ارزښتونو ته بشپړه پاملرنه کړې ده او هیڅکله یې د ښکاره، بربنډو او څرګندو شعاري خبرو په څېر دغه مسایل نه دي راوړي، بلکې له شاعرانه ښکلا وو سره یې یو ځای کړي دي، او همدا د ننګیال د دغه ډول شعرونو د ارزښت بنسټیز ټکی دی، همدغه خبره ده چې شعر له عادي او خبري مسایلو راجلا کوي.

دویم ننګیال د شاعرۍ یوه بله دارزښت وړ ځانګړنه داده چې د هغه شعرونه له عاطفي شېبو ډک دي. د هغه شعرونه لکه د عاطفې سیند ، لکه د عاطفې سمندر ، داسې دي. دهغه په زیار ترو شعرونو کې دیو خوا خوږي، دیو زړه سواند ( انسان ) عاطفه په خپل اوج کې ځان را څرګندوي. ډېرو شاعرانو او شعر پو هانو په شعر کې دژورې عاطفې پر شته والي ټینګار کړی دی.عاطفه او په عمومي توګه احساسات د شاعرۍ له اساسي برخو څخه ګڼل کېږي او په دې کې د پاملرنې وړ خبره داده چې څنګه دغه عواطف په شعر کې دانتقال ځواک پیدا کړي؟ د ننګیال په شاعرۍ کې دغه ځواک وینو. د « داکلی مه ورانوئ » د شعر یوې کوچنۍ برخې ته پاملرنه کوو...

داکلی مه ورانوئ !

ګورئ چې هلته لکه زړکې زموږ د کلي نجونې

ګورئ چې هلته د بامو پر سر نورسې پېغلې

کتار ، کتار

دلمر تر وړانګو خپل پیکي جوړوي

او په مېینو ژبو

د پېغلتوب غوږ کې د ځوان کې د ځوان هوس سندرې بولي

داکلی مه ورانوئ

داکلی مه ورانوئ... ( ۶ )

ننګیال د دغه ډول عواطفو په باب، له « ډیوې » سره په یوه مرکه کې ویلي وو. « هغه چې ډېر عاطفي نه وي، زما په اند نه شي کېدلی چې ډېر ښه شاعر شي. د خپل ژوند یوه کیسه درته کوم: داوړي یوه توده ورځ وه. په دېره کې ناست وم. یوازې او تنها له خپلو سوچونو سره لو بېدم چې یو ماشوم چې په یو لاس کې یې یو مړ ژواندی چرګ او په بل لاس کې یې تېره چاړه وه، راته راغی چې چرګ یې حلال کړم. نه مې غوښتل چې خپل لاسونه په وینو سره کړم، خو چرګ ناروغه و، مړ کېده او هلک زارۍ راته کولې، چرګ مې حلال کړ خو اوس چې له هغې ورځې نه درې کاله تېره دي، هغه چرګ مې خوب ته راځي، وسله وال وي، په ټوپک مې ولي، چاړه ېې‌رسره وي، حلالوي مې، په اوونۍ کې یو ځل داسې خوب حتماً وینم...» ( ۷ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګیال د عاطفي شاعرۍ یوه ډېره مشهوره بیلګه « ښکاري ته » دهغه شعر دی.

... ای ښکاري اشنا درته سلام کوم

پرېږده چې دا سپيني مرغۍ والوزي

لاړې شي جوړې جوړې ګلونه شي

ښکلي شي، ښایسته شي امېلونه شي

واخلي په وَزرَو کې تنکي بچي

ومو ښي سينو کې ګلابي بچي

سپيني سرې مښو کې زرکني بچي

پام کوه،

پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه ( ۸ )

د اسحاق ننګیال په شعر کې دغه ډول عواطف، د هغو احساساتو په ښه نه دي چې « شېبه یي » او « موقتي » ارزښت ولري. ننګیال عواطف دیو شاعرانه زړه دډېرې ژورې « انساني» میني څرګندوی دي. لکه چې په همدغو عواطفو کې د شاعر زړه هم څاڅکي څاڅکي راڅڅېده او ځکه خوبې دا سې ژر هغه شاعر زړه ودربږه.دریم کو بل ټکی چې د ننګیال په شاعرۍ کې د پام وړ دی ، هغه د او چت شاعرانه تخیل لرل. د نویو مفا هیمو او شاعرانه ترکیبونو جوړول او د ښکلیو شاعرانه تصویرونو نوښت دی. هغه په شعر کې له دغو نو یو شاعرانه ترکیبونو ، ژبې ته یوه نوې ښکلا وربخښي او د نویو تصویرونو له لارې زموږ د معاصرې شاعرۍ تابلو ګاني رنګینوي او د پاملرنې وړيې ګرځوي. کله کله خو یې په شاعرۍ کې دا سطورو راوړنه او پر ځای کارونه هم د هېرولو نه ده او دغه رازیې شاعرانه او هنري سمبولونو ته غور په کار دی. دغه راز موږ وینو چې د اسحاق ننګیال د شاعرۍ دغه ګڼې ښکلاوې او دغه د نوې شاعرۍ بنسټیز ارزښتونه هم دهغه په غزلیزه شاعرۍ کې ځان راڅرګندوي او هم په آزاده شاعرۍ کې. لومړی یې د ښکلي او روان بیان، خو او چت تخیل نند اره، په دغو

غزلیزو بـــېــــلــــــګـــــو کــــــــې ګــــــورو.

ویلې ویلې په درګـــــاه کـــــې د صنـــــم مــــــرم

پر سرو شونډو د ګلاب لکه شـــــبــنـــــم مـــــــرم

د سلګو مزل مې خدایه چې لــــنــــډ نــــــه کــــړې



سیـــندونـــه هم مـــري اســـــــحــــــــاق نــــــګیــــــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترې سترې يې په هر ګام او قـــــــدم مـــــــرم
پاڼه نه يم چې په تش لـــــــوګـــــي لمبـــه شـــــــم
لکه شمعه تر سبا قـلــــــم قـلـــــــم مـــــــرم
وچو شونډو ته مې ست د خــــمـــارخـــــه کـــــړم
ساقې ! دلته چې په څنګ کــــــې د حــــرم مـــــرم
دځوانۍ شپې مې جنــــت تــه نيـــسه مـــــه ږدئ
زه سر کښه په لمبو د جـهــــــنـــــم مــــرم ( ۹ )
او. روڼ مې مستقبل شو خــــــو تــېارووېـــنــــو
رب د پسرليو مې اغـــــــــــزو ونــــيـــــــو
ماوې چې مړوند به يې زر پـــــــوشـــــــه شـــــي
مات په کې بنګړي شول هــــتـــکـــړو ويــــنــــو
چېرته يو سم جام د شـــــرابـــي عــــــقـــــل
ځای د ميکدو چې مــــــــې کـــعبـــو ونـــيــــو
نور مې نو اشـــــــنا په پــــلـــــو مــــه راځـــــه
دلته هر قدم قصا بخانـــــو ونــــــــيـــــــــو... ( ۱۰ )
او. بيا رانغلې لېمو ته په پستو پستـــو وززونـــــــــو
زما د خوب کوترې ستا د سترګو لــه بــامــــونـــــو
څلو وهلي ګوره څه خواره واره پـــــــرې ګــــرځــــي
د شونډو بوراګان مې ستا د شونډو پـــــــر ګـــــلـــونو
په خپل شرنګ به ويده شمه په خپل شرنګ به راويښ شم



سيـنـدونـه هـم مــري اســــــحـــــاق نــــګيـــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنګړي مې کړه دلېچو ، ګرځوه مــــې پــه لاســونــو

زما مینه یو سیند دی او ستا زړه ورکــوتــی کـــلــی

دا سیند چېرته جانان او کېږدی د حبـــابـــونـــو

لا ښکاري چې مو ده د لېونتوب مې پـــوره نـــه ده

یو څوک راته نارې وهي دغرونو له ســــرونـــو ( ۱۱ )

همدارنګه د ننګیال په آزاده شاعرۍ کې دنویو شاعرانه مفاهیمو او ترکیبو نو او دغه راز د شاعرانه سمبولونو سیند بهاند دی. د ننګیال شاعري، د پښتو دآزادې شاعرۍ په عمومي مطالعه کې هم د پوره پاملرنې وړ ده. په پښتو آزاده شاعرۍ کې د ننګیال هستونې ښکلې او پیاوړې دي.

داد سپرلي د شینکي باد وزرونه چا تړلي؟

چې د تیارو په جهنم کې داغزیو لښکر

د بلاربو بوټو له شیدو نه ډک تیو نه شکوي

او د نرګسو داموسکۍ موسکۍ رنګینې سترګې

دلاس په نوکو باسي.... ( ۱۲ )

او د بوې بلې آزادې شاعرۍ د بېلګې یوې برخې ته یې هم پاملرنه کوو.

.... بېګاه شپونکی باد ستا د څڼو له غروراغی

په پګړۍ کې یو ټکی د یو ګل نه و

له نرۍ ملا نه یې دلمر هغه زرین و مستنی نه وراتاو

چا یې په تشې اوربښې ریښې بخڅۍ یو د سنورو نانځ نه وایښی

نور مې په کلي کې باد نه چلېږي، باد هم مسا پر شو ورنه

څومره تنها

څومره یوازې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د کلي ښکلې نازولې سپوږمۍ

بېگاه مې خوب ليدلی

زموږ د کلي د چنارو تر شنو سېورو لاندې

پر هغو نو يو پلنگي کټونو

بو ځو کار غان ناست دي

رڼې د لښتو وروي پرې. گډوي ځانته زموږ د کلي سپينې هېلۍ زموږ د کلي په دېره کې د چلمو د کړو وړو لو گيو پر ځای خورې ورې دي د ښايسته هېليو تکې سرې د پېغلتوب وينې.

کلي کې يو سېوری د برېټو

او يو شرنگ د سپينو تورو نشته

رښتيا !

د کلي په دېره کې

دزلميو ځېورو

داتڼ هغه سکڼی ماښام درياد شي که نه ؟... ( ١٣ )

څلورم د اسحاق ننگيال په شاعرۍ کې د شاعرانه ملنگۍ، شاعرانه لېونتوب، باغيتوب او ياغيتوب گڼې بېلگې هم را تر سترگو کېږي. دغه شاعرانه لېونتوب او ياغيتوب، د هغه شاعرۍ ته يو جلا رنگ ورکړی دی. د مستۍ او باغي شاعرۍ نمونې يې د لېونېو شاعرانه ولولو څرگندونه کوي.

ملا څه مې دورځې په دې ډکو کاسو ولی

دازه د توبونه يم که تو بو کې اثرنشته؛

توبې مې زړه کې سوځي که توبو ته مې زړه سوځي ( ١٥ )

ښکل کړلې زاهدو د ساقي گوتې

ماتې شوې توبې په هوا والوتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې بحرنو شي، خو دې حيران کړمه

شيخه زنګېدې په هوا والوتې

تا چې کړې ښکاره له لوپټې، سترګې

خلکو نه شملې په هوا والوتې... ( ۱۶ )

د شاعر دغه ډول شعرونه کله کله د پښتني عنعنوي، کلتوري او ا خلاقي ارزښتونو په پام کې ساتلو سره، له هغو هم پښه اړوي او د نمونې په ډول، کله چې د «ګناه» په نوم شعر داسې پيلوي.

ځــو مــــره نــېــکمــرغــه يــم ګنــاه کــو مــه

تمامه ورځ وربېځې دباد لـــه ژرنـــدو بـــاســـم

او د لمر په تناره کې پسرلي ته ترې ډوډۍ پخوم

ځـــو مـــره نـــيــکمــرغـــه يم ګناه کو مه... ( ۱۷ )

نو شعر په داسې ډول پای ته رسوي چې د کلتوري، عنعنوي او اخلاقي ټکو په پام کې ساتلو سره يې يو لوی شاعرانه لېونتوب او يا غيتوب ګڼلی شو. دداسې څرګند او بربنډ بيان بېلګې به په پښتو شاعرۍ کې بيخي لږې وي. دننګيال بې وخته مړينه، دپښتو پر نوي شعري بهير، تندر له ګوزاره کمه نه وه، او دغه ګوزار د پښتو يو ننګيال، بو بريال شاعر له دغه بهيره واخيست او دومره په بېړه لکه چې ترې پټ کړی يې وي. لکه تښتولی چې يې وي. ننګيال، يو ګل و، يو ملنګ و. دغه ګل لا بشپړ غوړېدلی هم نه و، چې پاڼې پاڼې شو. دغه ملنګ لا د خپل شعر کچکول د فطرت د ښکلا او رنګينو له ډاليو بشپړ نه و راډک کړی چې کچکول ترې چا پټ کړ. ننګيال به د خپلو شعرونو په کرښه کرښه کې ژوندی وي. خو کاشکې هغه د پښتو د شعر د لا ښکلې کېدونکې ناوې د سينګار لپاره لږ څه نور وخت هم لرلای.

دا مجموعه.

زموږ نو ميالی شاعر اسحاق ننګيال دوران کال ۱۳۷۷ لمريز د غويي ( ثور ) په اتمه د ( ۱۱۹۸ ع داپريل ۲۸ ) دافغانستان د معاصر تاريخ په دغه توره ورځ له نړۍ سترګې پټې کړې. دهغه په مرګ د اغفانستان ټولې ادبي او کلتوري کړۍ غمجنې شوې. دهيواد په داخل او نړۍ په ګوټ ګوټ کې افغانانو دهغه يادونه ولمانځل او دغونډو او محافلو په لړ کې يې د هغه پر مرګ خپله غمشريکي څرګنده کړه. په همدغه لړ کې د ۱۳۷۷ لمريز د غبرګولي په نهمه ۱۹۹۸ ع دمې په دېرشمه د جرمني د کولن په ښار کې «افغانستان د کلتوري ودې ټولنې» له خوا دهغه په باب يوه درنده ياد غونډه جوړه شوې وه. يادهشوې غونډه کې د شاعر پر ژوند، شخصيت او

سيـنـدونـه هم مــري          اســــحـــاق نـــګيـــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثارو ګڼ شمېر مقالې ولو ستل شوې او یو شمیر شاعرانو دهغه پر بې وخته مړینه د شعر د اوښکو څاڅکي توی کړل. په همدغه غونډه کې «د افغانستان د کلتوري و دې ټولنې» غړیوو پتېله چې د ارابناد ننګیال د ناچاپو شعرونو مجموعه د همدې ټولنې په لګښت چاپ شي او د همغه نېک کار لپاره په هما غه ورځ یو شمېر دوستانو یو ولس سوه مارکه سره راټول کړل. څو کاله پخوا ګران ننګیال د خپلو ناچاپو شعرونو دوه کوچنۍ مجموعې زما په نوم له کابله پېښور ته رالېږلې وې او ورسره یې زما په نوم دغه لیک هم د خپلې مجموعې په پیل کې لیکی و.

ډېر ګران انځور صاحب!

هیله ده چې ژوند ډېر درته بد نه وي، او لکه پر موږ چې یې وکړل، هاسې میر څي یې درسره نه وي کړې، زموږ خو ژوند څه ژوند نه دی او باید همداسې هم وي، ځکه زما په اند ژوند پوچ دی ژوند رنځ دی، ژوند قاتل دی او ژوند له ژونده غچ اخیستنه ده. حتا ډېر ښه ژوند هم د شرابو هغه پیاله ده چې د پېغمبرانو له ستوني نه تېرېږي. څښل، خوړل، کار کول او وید ېدل، دادي هغه کلیمې چې خدای (ج) دژوند په نامه دژوند یو په ځولیو کې اچولې دي، او زما ژوند خو تاته له هر چا ښه څرګند دی، ټول عمر مې له هل دوو نو مو نو سره ژوندو کړ.

ښیښه او شعر، سره وموژړلې او پر ژوند مو ناړې تو کړې. ښیښه یې رانه هم واخیسته، او اوس زه او شعر دوه په دوه سره ژوند کوو. ډېر کله هغه له ما مرور وي او زه له هغه «دریمګړی» نشته چې سره پخلا مو کړي، او که سره پخلا هم یو هغه تېره لېونۍ پخلا ینه نه ده، ټوله ورځ راته دعقل او منطق نا ندرۍ غړوي... ښیښه خو لاړه مګر شعر تر اوسه راسره شته. دوخت لوبې مې وېروي چې له ده هم خلاص نه شم. پخوا به مو هره ورځ د مرګ نندار ه کوله، اوس یې هر شېبه نندارې ته ناست یو، مرګ مو په وینو اورګونو کې ځاله کړې ده. یوه شپه به سوچونو کې ډوب وم چې یو څه مې زړه ته راولوېدل، زړه مې راته وویل چې دا خپل څو خام او نیمګړي شعر ګوټي تاسو ته امانت درولېږم چې که څه وشول ضایع نه شي. ښیښه خو تر ما د مخه مړه شوه، وېرېږم چې شعر مې له ما وروسته هاسې نه شي. او که هېڅ هم ونه شول راته چاڼ خوبه یې کړې! څو شعرونه مې له «سپنتا» سپین ږیري سره پاتې شول او له ما سره یې اوس کوم نقل نشته، هغه غوښتا څه پرې ولیکي خو حالاتو وخت ورنکړ. که مې چېرې بیا وموندل نو دروبه یې لېږم

یوه ورځ به که خدای کول سره له نږدې وګورو.

ستا لېونی ننګیال

۱۳۷۱/۵/۱۲

کابل

ما هماغه وخت غوښتل چې دغه دواړه برخې په یوه مجموعه کې چاپ کړم، خو دا به د خدای تعالی (ج) رضا وه چې زه د اوږدو لارو مسافر شوم او اوس هغه مجموعه د ننګیال له مړینې وروسته خپرېږي ما د خپل اوږد سفر په پیلامه کې هغه مجموعه خپل ګران ورور او تکړه شاعر او لیکوال لال پاچا آزمون ته د امانت په توګه و سپارله. له ښاغلي آزمون څخه د زړه له کومې مننه کوم چې زما او د ننګیال هغه ګډ امانت یې، د یو ستر ادبي یاد ګار په توګه دغه څو کاله په ډېرو کړ کېچنو حالاتو کې له ځانه سره وساته او دادی اوس د شعر مینه والو ته وړاندې کېږي. دغه راز له خپل ګران ورورو، پیاوړي لیکوال او د پښتو له سوي ستي خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمعیل یون څخه هم زیاته مننه کوم چې دغه مجموعه یې چاپ ته چمتو کړه، له هغو یادو شویو مجموعو سربېره یې د ګران ننګیال نور ناچاپ شعرونه هم ورسره یوځای کړل، دغه راز یې د هغه د چاپي شعرونو ځو وتلې ببلګې هم ور سره ملې کړې او داسې یوه ارزښتمنه مجموعه یې ترې جوړه کړه. له نورو ټولو هغو دوستانو څخه هم مننه څرګندوم چې له ډولونو څخه په یو ډول یې د دې مجموعې په چاپ کې مرسته کړې ده.

په مینه او درنښت

ژرین انځور

۱۳۷۷ امریز دوړی ۲۷

۱۹۹۸ ع د سپتمبر ۱۸

جرمني د کولن ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځلیک

۱- ننګیال، اسحاق، څاڅکي... څاڅکي... کابل، د افغانستان د لیکوالو انجمن: ۱۳۶۸ لمریز (۶ - ۷ ) م،م

۲- همدغه اثر. (۱۸ - ۱۹ ) م.م

۳ - همدغه اثر. ( ۹۲ - ۹۳ ) م.م

۴ - ډیوه ( مجله - لندن ) ۱۳۷۴ ، غویی ( ۱۹۹۵ ع می ) ۱۷ ګڼه ( ۲۱ )م.

۵ - ازمون، لال پاچا. پګړۍ کې کم نه يي له کاکله ( د نارنج ګل د دوديزې مشاعرې په وياړ ) ننګرهار ( د اطلاعاتو او کلتور لوی رياست ) ۱۳۷۶ لمريز، ( ۱۴۷ - ۱۴۷ ) م،م.

۶ - ننګیال، اسحاق، څآڅکي... څاڅکي. ( ۲۲ - ۲۳ ) م،م

۷ - ډیوه ( مجله - لندن ) ۱۳۷۴ وری ( ۱۹۹۵ ع اپریل ) له اسحاق ننګیال سره د ښاغلي اسمعیل یون مرکه. ( ۱۵ ) م.

۸ - ټکور، افضل، د الیکوال او د ځېرې ( د اسحاق ننګیال د شعري ببلګو برخه ) کابل، ۱۳۶۶ لمریز. ( ۴۲۸ - ۴۲۹ ) م،م.

۹ - ننګیال، څاڅکي... څاڅکي ( ۴۷ - ۴۸ م، م.

۱۰ - همدغه اثر ( ۸ - ۹ ) م ، م.

۱۱ - آزمون. پګړۍ کې کم نه يې له کا کله ګله. ( ۱۴۸ ) م.

۱۲ - ننګیال، څاڅکي... څاڅکي ( ۳۷ ) م.

۱۳ - ننګیال، کله چې لمر شين شي. آزاد افغانستان، جريده د افغانستان د مطالعاتو مرکز، پېښور. لومړی کال، لو مړۍ ګڼه، ۱۳۷۷هش، وری ( ۱۰ ) م.

۱۴ - ننګیال، څاڅکي... څاڅکي ( ۲۶ ) م.

۱۵ - همدغه اثر ( ۳۹ ) م.

۱۶ - همدغه اثر ( ۶۹ - ۷۰ ) م، م.

۱۷ - ننګیال، ګناه، لیمه ( مجله - مسکو ) لومړی کال، ګڼه، ۱۳۷۶ سنبله ( ۱۹۹۷ ع سپتمبر ) ، ( ۵۴)م

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه شپې ، هغه کلونه

داچــــــي لګيا يمه زخمــونه شمارم

تــــــورو کمڅو ته دې ګلــونه شمارم

تـــاچـــي پـــري ايښې نـــازولي قدم

هـــغـــه کـــوڅـــي هغه بامـــونه شمارم

ســـتا لـه رښتيا ستا له درواغولوګي

څـــه دې وعدې څه دې لوزونه شمارم

حـــســـن يې يو دې يې مغروره په څه

تـــــه چـــي خالونه زه داغونه شمارم

تـــه لــــوبـــوه پـــه ګريوانونو اميل

زه د ګـــريـــوان زاړه تـــارونه شمارم

حساب يې ورک شي راته راشي خندا

څــومــــــره ســـاده يمه غمونه شمارم

کــــــلــــــه بـــه راشي په مزار د ننګيال

هـــغـــــه شـــيـــبې هغه کلونه شمارم

کابل۱۳۶۴/۱/۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیبري تنده

ټول عمر درنه ده سپکېدو ته چې یې پــــرې نـــږدئ
خاوره پښتنه ده او پردو ته چې یــــې پــــرې نږدئ

پرې نږده خیبري تنده چې بیا پـــــــه وینو ماته شي
ګرمه معرکه ده سړېـــــــــدو تــه چې یې پرې نږدئ

سره چې وړي اورونــــه په کمڅو کې د پښتو ناوې
ښه ده چې لمــــــبه ده لوګېدو  ته چې یې پرې نږدئ

زلفو د جانـــــان ته چې څو سرې وینې غوټۍ نشي
لار په وینــــــو سره ده وچېدو  ته چې یې پرې نږدئ

نن مې د خـوشحال توره چې بیا هوس د شرنګ لري
تاوه په شرنـګ ښه ده چوپېدو  ته چې یې پرې نږدئ

ګورئ چې آسمنا کې وریځ د ستورو د لار پـــل وهي
ورځ خو لا اوږده، ده تورو شپو  ته چې یې پرې نږدئ

وړې یې چې غرور ته ثریا په جام د ستــــــرګـو کې
نیغه مو شمله ده کږېدو  ته چې یې پرې نـــــــږدئ

کابل ۱۳۶۴/۹/۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

## طلايي ماهيان

سهر اوچت شو

دتیازو لمن یې خیرې کړله

او سپرلنیو وږمو

ددې شینکي آسمان په دښتو کې

په سرو منګلو

باغ دنارنجو جوړ کړ.

او ،

ددې لوی دریاب په غاړه کې

دحسن په کور

دشنو اوبو دسپینو سپینو آینو دپاسه

دسرو لمرونو

طلايي ماهيانو ولامبلې.

کابل ۷ / ۲ / ۱۳۶۵

# ښکاري ته

سیـندونـه هم مـري اســـــحــــاق نـــګیـــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اي ښکاري اشنا در ته سلام کوم

پريږده چې دا سپيني مرغۍ والوزي

لاړې شي جوړې جوړې ګلونه شي

ښکلې شي ښايسته شي اميلونه شي

واخلي په وزرونو کې تنکي بچي

سپينې سرې مښو کې زرکني بچي

پام کوه !

پام کوه ماشې ته ګوتې مه وروړه !

* * *

اي ښکاري اشنا !درته سلام کوم

پريږده چې د اشنو جلګو کې وځغلي

پيغلې د هوسيو د دامان په لور

واړوي پيکې د شنه آسمان په لور

وخاندي راتاوې شي مستي وکړي

ورغړي نخرې وکړي خوښې وکړي

پام کوه !

پام کوه ماشې ته ګوتې مه وروړه

* * *

اي ښکاري اشنا ! درته سلام کوم

پريږده د غنچو په لمن پريوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د کلي باغ کې د سپرلي بلبل

زموږ د خمارونو شرابي بلبل

پریږده چي په سرو منښوکو وبولي

زموږ د بام د پاسه د سپرلو سرود

بڼ ته د غوټیو د ښکالو سرود

ځمکي ته دور یځو بارانو سرود

پام کوه !

پام کوه ماشې ته ګوتې مه وروړه !

* * *

اي ښکاري آشنا ! درته سلام کوم

ګوره دا بې ژبې مرغان مه وله !

نه یې چې کوم وړ بچی بې مور ه شي

ته هم ګوره پلار یې او بچي لري

پیغله لور ښایسته زوی ګلالی لري

درد لري ،ارزو لري ،زړګی لري

نو !

اي ښکاري اشنا ! درته سلام کوم

پام کوه ماشې ته ګوتې مه وروړه        کابل ۱۳۶۵/۳/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ثار

باده !لړپام کوه

ورو ،وروچليږه

دوير ګلان مي د سهار له اننګو ټول کړي

دوريځو سيورو ته مي ايښي دي

يي خو به ککي

ددرواغجنوستورو

لاري ثارم!!!

کابل

۱۳۶۵/۳/۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګناه

هـــیره دې جـفـا کـــه نـــور دې نه درځم په کلې
داځـلـی خـــو لـــه راکه نور دې نه درځم په کلې
مـا درته نیـا زبـیـــن زړه ګی تو تې تو تې راوړی
ډیـره دې ادا کـــه نـــور دې نـــه درځـم پـــه کـــلې
نـــن راتـــه سـا قـــې دا نګوري میو ست مه کړه
شـــونډې دې مـــینا که نور دې نه در ځم په کلې
خـو له خـودې ښـــپرانه غیر دعا ته جوړه نه شوه
سترګو کې مو سکا که نوردې نه در ځم په کلې
ټول عـمـر ډک نه شو تش کچکول د ګدا سترګو
زه ملا مت نه یم صبر مات شو ته مې ښکل کړې
مـعـــا فـه مـې ګناه که نور دې نه در ځم په کلې

کابل

۱۳۶۵/۵/۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

زړګـیه اوښـکه د لـیمـو شـوې دادي څـه وکـول
تـیـر د قـاتـلو پـه کـو څو شـوې دادي څه وکول
دلـته د ښـکـلـو میــنه سـر غواړي د عشق په بدل
راغـلي مــیــن په داسـي غلو شوې دادی څه وکول
دلتـه خـو لاری د جـنـون وې د هـوس خـونـه وې
تـاو دجـــنـون پـه زنځـیروشوې دادي څه وکول
قـــدم چـــې خـــوشـې دلته اخلې په اغزیو لګي
تـــه یـــی پـه خیال د پسرلو شوې دادي څه وکول
تـه خـو پښتون وې سر ټیټي دې چاته هم نه وه زده
بـــــې شرمه دلته په سجدو شوې دادې څه وکول.



سیـندونـه هم مـري اســــحـــــاق نــــګیـــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تشي حجري

ګلو نه شته خوله ورمو خالي دي
جا مونه ډير دي له نشو خالي دي
نوربې نو شرنګ نشته چې پا مې څوي
سپين مړوندونه له بنګړو خالي دي
نجونې سر تورې شوې بهر نه راځي
ځکه قبرونه له ډيوو خالي دي
چې يې پيزيب شي زنګ وهلې کړې
دغه کوڅې له ليونو خالي دي
چې مې رقيب په کلي زغر ده راځي
ښا يي حجرې له پښتنو خالي دي.

۱۳۶۶کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسرووینو دشپو ځانګې...

دسپوږمۍ ټیک په وربل کې

داله کوم لوري نه راغلې؟

د مو سکا په ډکو شونډو

دساړه ژوندون زندان ته!

* * *

دلته مرګ دی، دلته وینې

موږ پر خپل ژوندون په تنګ یو

تا بې غمه جهان پر ښوود

دژوندو مړو میلمه شوې

* * *

دلته زموږ د ژوند پرولو

زموږ د میندو په سینو کې

دزلمیا نو په ککو کې

دپیغلو ټو په کمڅو کې

رازنګیږي، رازنګیږي

دسرووینو د شپو ځانګې... ۱۰ / ۲ / ۱۳۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپه

تــا سو پر کمځیو باندې تیره کړه
مــوږه شپه اغزیو باندی تېره کړه
داد ژونـد مرورلي او ترخه کیسه
ټوله مــو سپر غیو باندې تیره کړه
یوه شـېبه رودل به وه د شپولـه تي
داشپــه مو پیریو باندې تیره کړه
تــا خو پــه سرور، ما د نشو ډولۍ
تـــــورو ترږمــیو باندې تېره کړه
ډیــروســـتمګرو مو دوخت تـوره
څــو ځـــلې مریو باندې تیره کړه.

کابل

۱۳۶۶/۸/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نصیب

مـوږ چـې لــه آره د شــپــو روږ دي یـو سـبا دې نه شي
کــه پـــه څـــو شــمـعـو شــپــې رڼـیږې نو رڼا دې نه شي
خـیـر دی زمـــــوږ د بــاغ ګـلـو نه کــه تـا لا تـا لا شول
ستـا د ښــا یــست، ستـا د کـمــڅو غرونه تالا دې نه شي
د خـپـل تــندي تیارو کې ډوب شوم ستا اوربل مې شو هېر
ســـتـا د بـېـلتـون خوب مې لیدلی دی رښتیا دې نه شي
خـوامــو اغــزو، لاره ا غــزو، کـلـی اغـزونـیـــولـــی
داسي سپرلی کې کــه راځــي ګــلـونـــه رادې نـه شـــي
مـوږ د تـقـدیـر مـاڼـو پـه وچ سـمـنـدر تېول لاهو کړو
دغـه نصیب بـه وي زمـوږ خـو د بـــل چـــا دې نـــه شـــي

جلا آباد

۱۳۶۶/۱۱/۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انګازې

چوپه چو پتباده

لارې چوپې دي، کوڅې چوپې دي

چرګانو نارې نکړې

ملا آذان ونکړ

* * *

داخه سهار دی؟

چې له یوه کوره یو غږ

د یوه ورد خلاصیدلو ونه خوت

چرګانو نارې نکړې

ملا آذان ونکړ

* * *

واښونه تش دي

د سوالګرو ماشومانو

پرې نازکې چغې پلنې نه شوې

چرګانو نارې نکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا آذان ونکړ

* * *

خو یو غړاورم،

یو غړ وینم،

یو غړ ښبنم

چې مې به ذهن کې ژړیږي

انګازې کوي

په ماته ژبه وايي راته:

کارغان راغلل

کارغان راغلل

کارغان تورې غاړې راغلل

واي! زموږ د باغ ګلونه

وای داونې، دافصلونه

کابل

۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند ته ژړا

ستر ګې دې شته

ته را ته ګورې؟

غږ مې اورې که نه؟

ژوندونه ! نن دې پټو ستر ګو ته

یو غلی مسا پر نا ست یم

چې اسویلو ته مې

دباداو توپانونو

دکاروان اوښې ستَمی کوي

او دغم اورته مې

دغرونو

اوددښتو

ډبرینې پښتۍ وسو ځېدې ،

او ښکې می بیر ته خورا !.

کابل

۱۳۶۷/۸/ ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درشل

چـــې پـر اغــزنو لارو ځو سبا ګلونو کې ځو
د عشق درشل ته په سکروټو په اورونو کې ځو
شــپو کې د لمر زړي کروورېځي په ستوروولو
پــاتـې مــنــزل پــورې اشنا په سحرونو کې ځو
کــړې کــو ځـې کــه د سفر څوله تبارو ډکې دي
دوينو سـور مشال په لاس کې تور تمو نو کې ځو
لـه زړونـو پـر خـپ اوروو پـر جل و هلې فصل
شيـبې، شيبې لکه وږمې مړاوو باغونو کې ځو
ودصــل لاره کــې رقــيــب خير که کو هې کيندل
سبـا بـه غاړه غـړې يـاره ! مـنزلـونـوکـې ځـو

کابل

۱۳۶۷/۴/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوونه

ګڼ شول هر خوا ته په کروندو لوونه
مــوږه کـــوو د خــپــل سرو لوونه
تــه دي ګلان دلــی دلــی وړه پــر سر
مــوږ تــه را پیښی دی د غو نچو لوونه
اوس پـــه کــی کــیږي داغــزو لوونه
خــوا شـــیــنــي نه یو پر بی سرو تنو
مــګـــر چــه نــه شي د شــملو لوونه
خــیر دی که نور را کی څه پاتی نه دي
وطــنــــــه !ځـــار درنــه دزړو لوونه

کابل

۱۳۷۶/۶/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مات خوبونه

هیڅ نه پوهیږم ،
چې سبا به مې دماتو ارمانونو
مړاوي شوي بڼ کې
دشنو اغزیو با چاهي
پر کوم ګل اوربلوي ؟
هره شیبه ، هره ګړۍ مې
دخوږو خوږو خوبونو
دماتیدلو آوازونه اورم.

* * *

هره شیبه ، هره ګړۍ
له خپله ځانه تښتم
هره شیبه ، هره ګړۍ مې
څوک له ځانه شړي.
دیو ځنګله په څانګو ناست یم



سیـــندونـــه هم مـــري اســـــــحـــــــاق نـــــګیـــــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه سيوري کې مې ځاله کړې

سيورې زما په هره ساکې

ځغلوي دخپلې سا تنستې ؛

زه ،

سيوری ،

څانګې ،

لاس په لاس د تور ځنګله له با چا هی نه

دغريبې مهاجرې کورنۍ په څير

په ګډه تښتو .

* * *

زه دمزل په هريو ګام کې

دپرون شاهدان وينم

او دنن شهيدان.

زه مې دغرونو او څيړيو

دګونګۍ ژبې اورينو افسانو ته ناست يم

چې هره ورځ کې راته ښيي

پرخوني ټکو دوينو

او اورونو تاريخ.

* * *

زه يې په سترګو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپل نن او پرون

ماتې هندارې وينم.

زه په زړو هديرو لولم

دنيکونو په لاسونو کې

دنن دزيږيدلو کيسې

.

کابل

۱۸ / ۶ / ۱۳۷۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوټنۍ

نورمې تردې چټلاندې

خوب نه راځي

نور له ختېنو دېوالونو

او بامونو سترې شوې یمه

ما ته له دې ځایه نه لیرې

په ځنګله کې

یوه دغوړګو کوټنۍ جوړه کړئ !

کابل

۱۳۶۷ / ۶ / ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باور

منم دژمـــي چـــې اثــــر نـــشتــــه دی

خو په سپرلي هـم څه باور نـشتــه دی

ګودر به وي ، نجونـــې به ډېرې وي خـو

هغــــه د ښکلیو مازیـــګـــر نشتـه دی

تـــنهـــا که وم مـــګر او به چې نـه شوم

د آتــــشــــي ستــــرګو نظر نشـتـه دی

لـــويې دیـــــری چې مو اغزو ونیـــوې

جګې شملې پګړی پــــه سر نشته دی.

کابل

۱۳۶۷ / ۶ / ۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسکو پېغلې ته

زه چې ګورم ستا د زلفو د مارپېچو غرونو باغ ته

ما ته باد شي

زموږ د پېغلو وران پېکې ، ځنګل سرونه

زه چې ګورم ستا د شونډو د شرابو سره لښتي ته

ما ته باد شي

پر وطن مې د سرو وينو ډک سيندونه

زه مې خپل او هم خو ستا بخت ته حيران يم

پر ما کاڼي وروي ، پر تا ګلونه.

مسکو

۱۳ اکتوبر ۱۹۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستړې مورمې

هر څــو زبېښــمه ورو ورو ( د بلبل اوښکې )

هر څو زبېښم دوربېښميـــنو شونډو څاڅکي

هــــر څو مــو ښم په سينې غوښنې پېغلي

هــر څــو خيـــږم د نـشـــو پـــر ميـنارونو

لامې مينه تاوده نـــه وي چــې رايـــاد شــي

دازخــــمـــي ،زخـــمــــي وطـــن مـــــې

هـــر يــــو ګــوټ شـــي د شــــرابـــو

پـــيـــمـــا نــــــــه راتـــــه دزهــــرو

راتــــــه يــــادې کــــړي مــــچـــکـې

د مـــــــلــګـــــروســــور تـــــتــر مـــې.

!اى زمــــــا ورانــــــه وطـــــنــــــــه

اى د مـــــــــرګ او ويـــنـــو کــــــوره !

لـــړ مـــې پـــــر بړده ، لـــړ مـــې پـــر يـــړده

چـــې ميـــلمـــه يـــم پـــــس لــــه عـمره

ديــــــــــور پ د ښـــــــــا پــــيـــــر يو .

کيف۱۹ اکـــتـــوبر ۱۹۸۸



سيـــندونـــه هم مـــري          اســـــــحـــــــاق نــــــګيــــــــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما زوی آرش ته :

# ستړي شعرونه

زه دې له لرې نه آواز اورم

زه دې له لرې ننداره کوم

چې لټوې مې سرګردانه نا آشنا کوڅه کې

چې لټوې مې د دې سترو میخانو غاړو کې.

خوږه

د شنو ونو د لاندې له خپل سیوري سره

ښیښنه د غم د میو لاس کې

له هر ګوټ نه وروسته

د اورلګیدو د کوچنۍ لمبې رڼاوو لاندې

ستړي شعرونه لیکم.

هو کې !

دوینو شعر ، د غم شعرونه

او ستا د ماتو مړاوو شو یو آرمانو نو غزل.

۱۳۶۷ / ۹ / ۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راشئ او وګوررئ !

راشئ او وګورئ !

زما دژوند دا « شنې شنې » اود « مستو » شاعر یو شپې

راشئ او وګورئ !

زما د غزلونو میلاد اوکوچینوالي دغه تنګې کوڅې

راشئ او وګورئ !

زما د شعر چغې مساپرمانېام کې

چې په سرو وینو لامبي

چې سترې ساندې بولي

چې تو تور تم کې د څو وچو اورلګیدو

دې کوچنۍ رڼاته

وینه شي، څاڅي او ژاړي سربڼاله دې کنې ځمکې ته.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشئ او وګوري !

زما د مړو خوبونو د آسمان دانړېدلې ځاله

راشئ او وګورئ !

زما د غزل سترګو کې

څپې، څپې دوینو او سرو اوښکو چینې.

راشئ او وګورئ !

زما د شعر ګلونه پاڼې پاڼې

الماسي برېښنده غاښو کې دخاړو پاتې.

* * *

راشئ او ومې ګورئ

راشئ او ومې ګورئ

چې څنګه خلاص شم شو ګیرونه د سهار له شنو بادونو سره

وایم چې نه یې لیکم

خو پاڅم و خو ځم او ګرځم

لا هماسې له غمو ډکو شعرونو سره.

کابل

۱۰ / ۹/ ۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شومه دم

راځـــه چې څه د ستورو دلالو نو شــومـــه دم دی
په څـــنو د سپوږمۍ کې د ګلونو شــومـــه دم دی
کـیـــســـې خو په والله چې د شــرابـــو زړې شوي
جـانانه د سرو شـونــډو د جـامونو شومه دم دی
د شـمـعـې پـه رڼـــا کـې به مې ستا څیره لیدله
اوس راشه چې مې کـور د مشالو نو شومه دم دی
خیالونه شول څپې څپې په شنه سین د آسمـــان کې
تـــه ګـوره چې آشنا !د غزلونو شــــومــــه دم دی
زمــا د انـــتظـــار شــبـې او ستا نیم کښه سترګې
زما د شوګیرو ، ستا د خـــو بـــونـــو شـومه دم دی

کابل

۱۳۶۷ /۱۰/۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجمل ختټک ته:

# شمشاد شمله، زيږې خبرې

ته رانه ځي اوزه تښاکي پر ځـګــر ګــر ځـــوم
دذهن باغ کي دې کرم ياد دي پر ســـر ګـــر ځوم
اشنا ! درتلي نـشـمــه لارتړــولــه اغـزونيو لې
دزړه پر ګل دي لــکــه پـــر خـــه هر سحر ګر ځوم
ځاځکی غزل به مې لـيـکه تا به تری جوړ کړ درياب
اوس به د شعر مــنـــګـی خالي پر کوم ګودر ګرځوم
بــــي شــــکــه کـور د پښتنو کی لروبر خونشته
چـی مې دزړه »دالان« نه ځې خاوري پر سر ګر ځوم
ستـا دا شمشاد ، شمشاد شمله او ستا زيږې خبرې
لـکــه روڼ ســتـوری په آسمان کي دخيبر ګرځوم
ګــــوره زاري درتـــه کــوم چــي درنه نشمه هير
ستا »دغيرت چيبغه« خـوزه لـرو بــر ګــر ځوم

۱۳۴۷/۱۱/۳



سيـنـدونـه هم مــري اســــحـــــاق نــــګيــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخاورین کلي نا وې

ها غه ده وینم یې تر خاورو لاندې

یوه سپېڅلې څیره

اویو تنکی ماشوم

چې پوست په غیږه کې نیولې دی دځمکې ادې

تې ورکوي

اوله خاورین زړه نه یې ور کړلې

د تورو توروو ینولپې

* * *

هاغه ده وینم یې تر خاورو لاندې

یوه رنګینه پاڼه

یوه نازکه لښته

چې شنه بادونه یې خاورین کلي ته ځي

اوورته ساورکوي

باران یې زلفې مینځي

اوشنې وږمې یې غوړته بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښتا ښت او دشنې مينې کيسې.

* * *

ها غه ده وينم يې تر خاورو لاندې

يوه د حسن ډيوه

يوه ښا يسته شهزادګۍ

يوه د شنو، سپينو او سرورنګونو ډکه

نازولې ناوې

* * *

ها غه ده وينمه يې

چې له خاورين کلي نه راغله

دښتا يست پراوږو.

* * *

ګوره سپرلى راغې

هلته يو ګل وټو کيد.

کابل ۱۳۶۷ کب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فصل

دخزان رټلې ګل یم په سپیڅلي بهار سوځم
دګونګۍ شمعې رڼا یم د شپې زیږم سهار سوځم
ور ته او ښکه شم د ستر ګوزما سترې سفر ګورئ
لاېې کوز پر شونډونه یم چې په ښکلي رخسار سوځم
د کمڅیو د بڼ ګل وم لکه روڼ د شفق څا څکې
ستا د تورو زلفو غره ته اوس تنها لکه خار سوځم
دلیلې زړه کې شوې هیرې د مجنون لیونۍ ستر ګې
ټول لوزونه ځو انیمرګ شول دوعدو پر مزار سوځم
دوفا دانې مې کښت کړې د جفا فصل زرغون شو
دژړا چم خومې نه زده خو دزړ په انګار سوځم
کابل
۱۳۶۸ وری

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکاري نظر

زده کــه دې خـــوارېږه نه دي تر خه خوارتــه ووايــــه
مـات مات دې منګې شه جنۍ څه خوراتــــه ووايــه
زه ســـاده پــه غـــورو دلـيــمـو کله پـــو هيــږمه
نــيــمــه راتـــه ووايـــه د زړه خــوراتــه ووايـه
نـــه وايــمـه نـه چې راته وکړه دوصال کـيـســـه
خــيــر دى يـــوغـــزل د بيلتانه خوراتــه ووايـــه
مـــا دې دالــفــت زړې د زړه بـر ســرکـــر لـي دي
تــــه پـــرې د ســپـر غو د بـارانــه خوراته ووايه
ستر ګې مې باولۍ شوې تاښکاري نظر ته کيـنا ستې
اوس يـــې هـــغـــه وخــت د قتلېده خوراته ووايه.

کابل

۱۸ /۱۳۶۸/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه سوی پرغوټۍ

نازولې غوټــۍ راغـله

د سپوږمۍ امیل پرغــاړه

د سپرلي وینې پر شونډو

او د ستورو د سرو اوښکو

په چپنو مینځلــې زلفــې

* * *

دا ډیرۍ د سپینـــو واورو

د جــلګو سپیــن کفنـــونه

یـــر غلـــو نـــه د ږلیـــو

د بخجـنو بادو کړیکـــې

تو پانـــې خو نړۍ وریځې

د تـر خــو سیلـیو ژبــــي

د ګلو نو د مـرګ چغــــــې

دویر جنـــو ورځو مینـــدې

سیـــندونــه هم مـــري                اســـــحـــــاق نـــــګیـــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نیستۍ پر سین لا هو شول
راته سور پسر لی شین شــو
خو مې زړه پر غوټۍ سو ځي

* * *

زما زړه پر غوټۍ سوځي
چې د مرګ له پولې راغله
له لــو خړو ډک جهـــان ته
د شرابو جام پـــه لاس کې
خماري نــشې په ستر ګو ،
خو شیبه پـــرې تیره نه ده
چې بې اوراو توپان سو ځي
د ثواب بنګړي پر لیچـــو
له ګنـــاه تشــــه لمنــه
دازمو ږ دوینو ســین کــې
دازموږ غریب سپرلي کې ! ! !

کابل

۱۳۶۷/۱/۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بې لارو لارو پل

تاوې د رځم به

مامې زړه د رته باغچه کړ

زما د مړه امید انګړ کې

د نرګس او زنبقو ګلان و غوړېدل

زما د ذهن د آسمان

د اجل وهلې د ښتې

او وچې شوې چینې

لکه د شنه هسک کرونده کې

د سپوږمۍ

اوربو ستورو د موسکا وو پټې

هاسې پر فصل راغلی.

* * *

ستا د راتلو د شیبو ټال کې زنګیدم زنګیدم

ستا د راتلو هر قدم ته مې د شعر پیغلې مینځې کړلې

ستا هر قدم ته مې د شعر نازولې وینې و پاشلې

سیندونه هم مري اسحاق ننګیال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ته رانغلې.

خو ته رانغلې د شینکي باد د کمڅیو

غورځیدلې غوټۍ

زما د بې ګله شملې ول ول کې تلپاتې شوله

او هر سحر راته په ذهن کې

دا ستا د قدمونو

د بې لارو لارو پل ښیي.

۱۳۶۸/۱/۲۹

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیلۍ

توريې سيلۍ دي به جونګړو کې رڼا نــــه پريږدي

دلته دوينو ليوني چيرته خــــنـــدا نـــه پريږدي

چې د آشنا خــورو ورو زلـــفـــو کې نشته ګلان

ظالم وختونه د ســپرلي ستوني کې سا نه پر يږدي

پــــرون پـــه کــانړو نن چې داسې په سکروټو لګو

شـيـبې سلګۍ ته خو مو هيڅکله سبا نه پريږدي

ويـنو کې زيږي ،پکې لوی شي ، پکې ومری بچي

قاتلې شپې دي د عا ګوی کور کې د چا نه پريږ دي

داســـې ميلمه شو په وطن راته د مرګ ســــوداګر

چاته عزت ، چاته شمله، چاته حيا نه پـــــريـــږ دي.

کابل

۱۵ /۱۳۶۸/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شهادت کیسې

چامې د مات ، زخمي زخمي

او مړ اوي شوي خوب تعبیر ونکړ

چې مې د اوښکو د ګلونو ننداري ته

د دې لرې وطنو نو له باغونو نه

د شا تو مچۍ ولې راځي ؟

* * *

چامې د زړه دوینو سین کې

وینې ځښو نکي کبان و نه لیدل

چې یې د مستو خندا ګانو

او پېالو له کړ نګهار نه یې

دې لوی کلي او ټول وطن ته خوب نه ورځي.

* * *

چا د آسمان له چاودې زړه

زخمي سینې

او له ویر جنو ستر ګو ونه پوښتل

سینـدونـه هم مـري



اسحاق ننګیال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د سپوږمۍ ناوې
دهسک دواټ په منځ کې
د شهیدو ستورو وینو نه

پر مخ ولې خالونه ا یښي ؟
او شپو ته بولي
د آسمان د طلایې بڼ
د هر گل او سرې غوټۍ
د زړه چاودون او شهادت کیسې

کابل
۱۳۶۸/۴/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درې نومونه

زما د دښتو پوښتنه ولې کوې؟

زه مې د ژوند لپاره

درې نومونه ښکلي

او له هر څه نه سپېڅلي لرم

شعر

شراب

او د شنو ولو د شنو څانګو د غرمو سیورې.

کابل

۱۳۶۸/۴/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماضي پانه

د سـروینـو پـرون وینم
چـېږ د نـــن شفق ته ګورم
راتــه تــېـرې کیـسې ښیي
د مــاضي پـــانه آینه شوه.

*   *   *

چې کې لوی سمندر وینم
پـه یـاغي څپو کې لا مبم
دزمـان ګـلـونـه میـنـځم
د آزاد سـاحـل پـه څـاڅـکو
دنـجـات پـر بـېړۍ سوریم
کـــلــه تــنــدر کـله اوریم
ږنــګــوم د ســکـون څـلي
ویـښـېږم د مـانـو کـلی
هـــر مـحل راته میوند دی
هـــر ه دښــتــه تاتره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

*   *   *

چــې کــې لویو غروته ګورم

تــول جــهان راته شمله شي

داکـــــړې وړې درې مـــې

راته رزم شي، جــګـــړه شي

هــر ه تـــیـــړه دوطـــن مـــې

د جـرګـــولـــو یـــه دېره شي

هـــر ه چـــغـــه د بـــابـــامې

پــــر » لاتیانو« زلزله شي

هــر بـــو توغ، هره جنډه مې

د پـــرنـــګ پر سر لمبه شي

هـــره پـــېـــغـــلـــه دوطن مې

مـــلالـــۍ شي، زرغونه شي

چـــې دامـــسته برېښنا وینم

راتـــــه تـــوره شي تېره شي

د پــــرون غـــرورته ګورئ !

چې زموږد لاس وسله شوه.

*   *   *

لا دهســـک څنو کې زانګې

دا ا سمان اسمـــان خیبر مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داد نـنـګ د کـسو تور شو

داجـهـان جهان سپین غرمې

لاد فـتـحـې سرود بولي

دامـیـوند میوند سنګر مې

دغـــــازې ادې خنجر مې

لا د تورو ګـــــوزار غواړي

د زلـمـي شـهـید ټټر مې

زېری !زیـری !چې لاسره مو

دنـنـګـونـو معر که شوه

داپـــه سـر ګـټـلـې لاره

بیا زموږ په وینو سـره شوه.

کابل

۷ / ۴/ ۱۳۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حاصل

بیا مو په کلیو، کروندو کې
د ماتم د ماښامونو ډمې و نڅېدې
بیا مو د ژوند واټ
د سرو اوښکو د ماښام شفق
په وینو سور کړ.
او په دې سترېو مروندو کې
د غنمو او ګنیو د هر فصل پر ځای
هره شپېه د ځوایمرګ ژوند
او د سرو وینو حاصل اخلو.

کابل ۲۶ / ۴ / ۱۳۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا ستوري هم تويې شول

دا ستوري هم تويې شول

دا سبوږمۍ هم بوره شوه

او ددې شپو تورو ځنګلونو کې زېږېږي

او لوېږي د شر مېښو

او ددښتو د بګوو بچي

* * *

دا ستوري هم تويې شول

دا رڼا هم مړه شوه

او د زړو کيږدېو منځ کې

د کوچنيو ماشومانو د خنداوو

او په غرو کې د زاړه شپونکي

د «های های» آوازونه ټپ شول

* * *

دا ستوري هم تويې شول

سبا به لمر هم مړ وي

او مونږ د شپو بنده ګان خاندو

درڼا وو د مرګونو

او شهيدو ښکلو ستورو ډلو ډلو جنازو پسې.

کابل ۱۳۶۸/۵/۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه ورځ...

بیا به سره لیچې درامبېلو

زموږ د کلي د ګلابو

له شینکي قده راتاو، راتاو شي؟

بیا به د سرې غوټۍ ډولۍ

د پسرلي پر مرمرینو اوږو

راشي زموږ د کلي باغ ته؟

بیا به د غرونو

دزاړه شپونکي په شونډو کې

د بېن زړه

زخمي اسوېلي سا واخلي؟

بیا به زموږ د کېږدۍ مخه

دوریو له سپېڅلو او معصومو آوازو ډکه شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوکې !

همداسې به شي

غرونه به هست شي

او دادښتې به

له ډېرو ترانو سترې شي

خو هغه ورځ چې.

زما پر قبر

د پولادو شناختې هم ويلې وې.

۱۸ / ۷ / ۱۳ ۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که سپوږمۍ نه وای...

که سپوږمۍ نه وای

زموږ د شنه ښکلي آسمان کلي کې

زموږ د باغ خوږو انګوروبه

د چاله حسنه رنګ اخیسته؟

او د کوچیانو کاروانونوبه

پر کوم لوري مزلونه وهل؟

* * *

که سپوږمۍ نه وای

زموږ دشنه ښکلي آسمان کلي کې

د مساپرو سلامونه به له لرې وطنونو

د آشنا سترګو ته چا رسول؟

اوزموږ کیږدۍ به

د تورتم له خونړیو لاسو چا ژغورلې؟

* * *

که سپوږمۍ نه وای

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د شنه ښکلي آسمان کلي کې

د شعر پېغلې به تنکيو آننګيو ته

د مينې خال له چا پوراوه؟

او دوختونو تروږمۍ کې به

دژوند او د اميد ګامونه چا اخيستل؟

کښت دې سمسور سپوږمۍ !

ژوند دې زرغون.

ځواني دې هسکه اوښېرازه اوسه !.

۱۳۶۸ / ۷ / ۲۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمبې په دام کې

دلته غوټۍ له ډېرې تندې و سوې
دلته د باغ ډیوې شوې قتلې
داغزو پر خو نړیو لاسو
او لته ځمکه شوه د سُر بو
او اورونو پرغرمو بدله.

* * *

دلته په کلیو کروندو کې
د ماتم د ماښامونو ډمې ونخښدې
دلته دژوند واټ
د سرو اوښکو د ماښام شفق
په وینو سور کړ
او په دې سترېو کروندو کې
دغنمو او ګنیو د هر فصل په ځای
هره شېبه د ځوانیمرګ ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د سرو وینو حاصل اخلو.

* * *

دلته په سترګو کې

تنکۍ اوښکې هم و چې شولې

دلته سیندونه، ګودرونه

او وېالې ترږې شول

« دلته ډوډۍ وږې ده» .

* * *

دلته د شنه سپرلي دګلو دزېږدا

او شهادت نېټه راغبرګه شوله

او زمونږ په مېنو او جونګړو کې

خواره لوګي

زموږ د ژوند د پای ټکي شول.

* * *

دلته وطن په وینو سور دی

او لګېادی زموږ دوینو پر مدار څرخي

دلته زموږ داوښکو سین کې ملایک او شیطانان،

او پرښتې او تور دېوان سره په ګډه لامبي

دلته دغرونو غرور مات دی

او هر سین ته اتکړې دي پرتې

دلته داورلمبې په دام کې نیسي.



سیندونه هم مري اسحاق ننګیال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

دلته اوبه، دلته اورونه، دلته خاوره

اوبادونه رانه غلو وړي دي

دلته د ستر ګو له ککيونه قی شوی

د شملو او لو پټو انځور

دلته زموږ د لاس تسبې لو د لوليو

او لغړ و فواحشو په غوږو کې زانګي

دلته وبالې تړې دي

« دلته ډوډۍ وړې ده».

۱۳۶۸ / ۷ / ۲

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښېرې په مالت کې

جانانه ! دلته مه راځه لمبې دي په مالت کې
زندۍ دي زولنې دي، غرغرې دي په مالت کې
چې ته به لوبېدې پکې اوس هغه ګلان نشته
ايرې دي په مالت کې، هديرې دي په مالت کې
د مينې ګودر وران شو د منګيو کتار مات دی
له سرو وينو نه بيا جوړې وبالې دي په مالت کې
سبا به وي منم خو په ماحول کې د کوډګرو؛
په موږه خو خورې ورې تباړې دي په مالت کې
ذزه هم سترۍ نه شو پرموږ زور د ستمګرو
هر څو مره که ژړا وې دي ښېرې دي په مالت کې

۱۴ / ۸ / ۱۳۶۸

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آس(۱)

هغلته لرې يو سپين اس ولاړ دی
لکه د ګلو پرخه
لکه د قو بڼکه
لکه د ښکلي يار د سپينو غاښو سپينه بربښنا
لکه اوبو کې د ښاپسته ووښاپېرو د مړ ندونو سپوږۍ

* * *

هغلته لرې يو سپين آس ولاړ دی
لکه د ستورو اوښکه
لکه د ټولې دنيا سپينه نازولې سپوږمۍ

ورپسې منډې وهم
چغې وهم
تښتي رانه
راځنې کرکه لري

سيــندونــه هم مــري اســـــحــــاق نـــګيـــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقط همدا سې لکه ته چې رانه کر که لرې

منډې وهې

تښتې رانه.

هلته بو آس ولاړ دی

هلته بو اس ولاړدی

لکه د ګلو پر خه

لکه د قو بښکه.

۱۵ /۱۳۶۸/۸

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هیلۍ

پانې راورژیدې

ځانګې بربنډې شولې

کفن د سپینو واورو واغوسته

دځمکې ادې

کنګل زموږه په ویالو کې

دابو له ستوني ساواخیسته

او ځوانیمرګ شول د سیندونو

نازولي کبان.

نوای هیلۍ خورې !

وزرونه پرانیزه ورځه

دغه ماحول

ګرانې !داستا داوسیدو کله دی ؟

کابل

۱۳۶۸ /۹/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سلامونه

هلته چې شنه ښکلي بادونه

غوړوي په شنو ګڼیو

دشنو پرخو امیل ،

هلته چې ولې دي

دجل په موسومونو کې

دستړیو پردیسیانو دغرمو ځپرې

او دویالو رنې اوبه دي

دسپوږمۍ دپیغلتوب آئینې

آشنا ! هماغلته زموږ کلی دی

زموږ دژوند هغه ویالې

اوکروندی هلته دي .

ګوره ! که راغلې کله زموږ

دغه زاړه ، دغه کوچني کلي ته

ماته پلو کې

زموږ پټیو نه دتللیو

« قځلا خو » سلامونه راوړه !.

۱۳۶۸/۱۰/ ۸

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غلا

نن مې مودو نه پس په سترګو کې
دخوب په ځنګله اورولګيد
خوسپين سهار روند شو.
نن مې دکور په ديوالونو کې ځنګيږي
دځوانۍ دزړه چاودون
او دګناه يو ويروونکی انځور.
کور مې لوټ شوی خوبه !
صدف په نارو باندې لوند دی
مرغلری ورنه غلو وړې دي:
زما دمور دلاسو نښې ها سپيڅلې تسبې
اوپه انګړ کې
دانګورو دتاکونو هغه ښکلې ، هغه مستې شنګلې.

۱۳۶۸/۱۰/۲۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماښو ته سرود

موږه دې وينو ماښو !

موږه دې وينو بېړې !

ماښو ! زموږه دلته ږو کودر آباد دی:

د زلميو او د پېغلو د تنکيو زوړ د وينو ګودر

دلته زموږ د وطن ميندې د کوډلو

او دورانو کلاګانو انګړونه

هر سهار په خپلو ستړيو ستړيو اوښکو مينځې.

* * *

زموږ بوختيا : وير سره غاړه غړۍ

زموږ ( مېلې ) پرهديرو ، ټوليدل

او ټنګ ټکور مو : د ګوليو نخا

ژوند مو داور اود ايرو

او د سکروټو او سپرغيو

يوه تکه سره بټۍ ده ماښو !

مړي مو کور کې مسا پر

سيــندونــه هم مــري                اســـــحـــــاق نـــــګيــــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ځنګلونو او د دښتو د ناولو سرمښانو خوراک.

* * *

خو موږ دې وینو بیړې !

موږه دې وینو د توپان او ګردا یونو په سرونو

د ګلونو او عمرونو لالهاندې بیړې !

موږه دې وینو د یاغي سین په موجونو کې

چې اوړې اورا اوړې

غورځې، پرځې

او خوځیږې

د څپو پر غرونو لارې باسې.

* * *

موږه دې وینو ماښو !

موږه دې وینو چې ( سلام ) ته دې هر ګام کې

د وختونو لیوني پیریان

د شپو له ځنګلو نو وتې.

موږه دې وینو چې دې ښکارته

هر څپک کې

د نهنګو وینې څښونکې لښکر ناست دی

له غاښونو نه ارې جوړ دې.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږه دې وينو چې د درد کومې کې سا وباسې

موږه دې وينو چې يوه تناکه مړه نه وي بله درځې

موږه دې وينو چې د ژمي باد دې ژامو کې ډبره شوله

تاوه او راتاوه شوله.

* * *

خو موږ دې وينو ماڼو !

چې هره ورځ او هره شپه، هره ګړۍ راته د استا

د سفرونو او مزلونو د ګامونو ښکالو

دلته راځي.

موږه دې سوز، موږ دې ګداز اورو

موږ دې په لاس کې دورغوي کرښې دلته لولو.

ماڼو ورځه !

ماڼو درومه ! سفر کم مزلونه لږ پاتې دي

د ستم زور اوبه دی.

* * *

که چېرته تم شې ماڼو !

او د ساحل په لوري لارونکړې

د وخت پرپاڼو به وروستې شي تورتمونو کې

د ستړيو قافلو ديون سپېڅلې کيسې

د ګلکځو نو شنې ريښې به چيرته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشنه ساحل پر آزادۍ باندې باور ونکړي.

* * *

موږ به د مرګ او د ژوندون پر تم ځای ناست یو

ستا هر ګام ته مو له زړونو نه

د وینو مشالونه ایښې

موږ دې هر ګام او هر قدم

د خپلو اوښکو په دې ماتو ، تکو سپینو مرغلرومینځو

راته هادي شه مانېو !

راته هادي شه مانېو.

کابل

۱۰ .۱۱ .۱۳۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لاس راکوي او که نه ؟

بیا داسمان دروازې بیرته شوې

باران دی چې وریږي پسې

خود سرو وینو باران.

ځمکه شوه ټوله سر ترپایه پر چینو بدله

د سرو لمبو په چینو

دنیا مو ټوله په نا پایه سمندر واوښته.

* * *

« نوح » بیا دعا دمرګ

دوخت دګنا کارو کړې

موږ ګنا کار چیرته یو ؟

نه خو مو چاته لیونی ویلی

نه مو پیریان دچا دعقل غله ګڼلي چیرته

خو ځو ډوبیږو بیګناه

د سرواورونو دموجونو سیند کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

ای د « جودي» پر غرونو ناستې

زموږ د « نوح » بیړۍ !

موږ ه په خپله لیوني یو

او پیریان رانه عقل وړی

لاس راکوی او که نه ؟.

۱۶ / ۱۱ / ۱۳۶۸

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# موسم

بې له تا دوينو شپې شوې ، ميلمنه مــو شـــه دکلـــــي

د « زيئوس » دکاله وړانګې «آتنه» موشــــه دکلــــي

څوچې غار په وينو لوند دی ، ګډوې لوګي دغــوښــــو

څو يو سترګی ديــو پاچا دی نو وسله مو شـــه دکلـــي

دتيارو اوښې ګونډه دي ژوند ترې سا ايستلې نــه شــــي

دسپوږمۍ دروح آينه شه او ډيوه مـــو شـــــه دکلـــي

ورته يوې لولۍ سترګک کړ سکندر تخت د جمشيد وسو

دامړ ژواندی قوم راويښ کړه زلــزلــه مــوشــــه دکلـــي

چې دژوند هره چينه يې تر هر پل لانـــدې کـــړه وچــــه

دادمرګ په سره موسم کې ته قبله مـــو شـــه دکلـــي .

۱۳۶۸/۱۱/۲۶

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما لیلا

زما لیلا د ښنو نارنجو د باغچو ونه ده
چې د سپرلي باد يې د ګلو دوړمو سپينو چينو کې
د خپل ټول ټول عمر مزلونه مينځي.

* * *

زما ليلا د ښنه آسمان د لويو کليو
د سپوږمۍ پيغله ده
چې تورو شپو کې ځانګه ځانګه شي
د دښتو او ځنګلونو تورو څڼو ته
غونچې د مرغلرو اوبي.

* * *

زما ليلا د چنارونو او سپيدارو
ښايسته مرغۍ ده
چې چيرته ښاخ له ونې وزيږي
نغمې ورته د عشق او د پاکۍ غږوي.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

زماليلا دهسکو غرونو دسرونو

دکيږدۍ کوچۍ ده

لکه ګوربت يې پر ژورو او پرتږو

کږيدل نه دي زده.

* * *

زما ليلا دشنو بادونو دچينو

هغه رڼه سترګه ده

چې چيرته ګرد پر رڼا پريوځي

پرې وږمې دآزادۍ ووروي.

* * *

زما ليلا دخداى دکلي دشنه باغ

دهسکې ونې سره منه ده آشنا !

چې دجنت وږي يو ازې دخپل حسن

او رنګونو په کاسو مړوي

او تو يولو ته يې لاس دقدرت هم نه رسي.

▯ / ۱۱ / ۱۳۶۸

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرمنې ته مې :

# ستا وفا

مادې په زلفو کې

يو ګل دوفا کينبوده

تامې شملې ته

دخوانۍ شيبې

غونچې غونچې کړې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کیسې

سوړ ژمی اوبه شو د سپرلي هنګامې چیرته دي ؟

دا زموږ د تربیو هغه ډکې کاسې چیرته دي ؟

شپو کې لګیدلې د زلمي شهید پر قبر چې

اوس مو پر شهید وطن دا ورکې ډیوې چیرته دي ؟

زموږه خو یادیږي د پردیسو هم بې وسه مرګ

سرې جنډې رپیږي پرې ؛ زموږ هډیرې چیرته دي؟

زموږ د ټنګ ټکور حجرې ، زموږ د محبت کلي

زموږ د شمله ورو هغه لوېې دیرې چیرته دي ؟

شته دلو پټو غرور او هسک دی د پګړیو غر

اوف چې د پښتو او پښتونوالې کیسې چیرته دي ؟

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لکه سپیڅلی لوګوس

ته دزنبقو دتنکیو اننګیو

دشبنم څاڅکو کې

دانه دانه دپسرلي ښکالو کې وتو کېدې

لکه سپیڅلی « لوګوس»

لکه دوینې دزلمي شهید سوري ټټر کې.

ته دباران او سپینو واورو

له معصومې او سپیڅلې بیګناه لمنې

زماد زړه په جل وهلې دښتې تو یه شولې

لکه وړمه دسحر

لکه کوچنې ماشوم

دیوې بې وزلې مور دویر او ددعا په بدل.

ته دلمرونو دکانونو

او سپوږمۍ له څاه نه

لو یه ډیوه شوې

په تیارو شپو کې مې وځلیدې

لکه دړوند لاسو کې سترې امسا

لکه دترږي مسا پر په مخ کې لو یه چینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ږلۍ

په دې پسرلي څه وشول ؟

سپينې وږمې څه شوې؟

چې بې خزانه باد زموږ د باغچو ګلونه

سپېرو اغزو ته

لکه ستړي با زينګر ګډوي

دا پسرلی څه شو ؟

دا زرکې چيرته لاړې ؟

چې زموږ دغرو په لاله يي دروکې

او دبادونو د پستو سينو تر سيورو لاندې

دځوزو ډلې او دکاږو کاروان غيږې موښي

او دآسمان غيږه کې

شفق راوسوځيد

په شنو پاڼو يې

ځولۍ ، ځولۍ د سرو سکروټو ږلۍ وشيندلې.

سيندونه هم مري    اسحاق ننګيال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا کلی مه ورانوئ !

دا کلی مه ورانوئ !
دا کلی مه ورانوئ !
ګورئ چې هلته د شنو ولو د شنو سیورو لاندې
ګورئ د شنې ویالې تر څنګه د جلګو د پاسه
یو کوچنی پروت دی
یو کوچنی ویده دی
او ، تر وړې لوپټې لاندې
په خوب وړو سترګو
د ناز په غېږه کې کوچنې شینکې خوبونه وینې.

دا کلی مه وارنوئ !
دا کلی مه ورانوئ !
ګورئ چې هلته لکه زرکې زموږ د کلي نجونې
ګورئ چې هلته د بامو پر سر نورسې نجونې
کتار، کتار د لمر تر وړانګو خپل پیکي جوړوي
او په مینو ژبو
د پېغلتوب غوږ کې د ځوان هوس سندرې بولي.
دا کلی مه وارنوئ!
دا کلي مه ورانوئ!
ګورئ چې هلته د هغو سپېرو کوډلو ځینې
ګورئ چې هلته ددې تورې ترورمۍ له غېږې
ساړه زګېروي جګیږي
سوزمن آواز راځي
او امیدوارې میندې
د انتظار د بڼ د سرو ګلونو لارې څاري
دا کلی مه ورانوئ!
دا کلي مه ورانوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سفر په لاره کې

مامې د مينې نو بالغه ځړېکه وليدله
چې مې د ياس او د همو نو د تيارو شپې يې
د خپلو سترګو د الماسو په تېغ څيرې کړلې.

* * *

مامې د مينې نو بالغه ځړېکه وليدله
چې د سرو وينو له بستر نه يې د ستورو نجونې
د شپو د زور له ګنهګارې غېږې خلاصې کړلې.

* * *

مامې د مينې نو بالغه ځړېکه وليدله
د سبا يې د دې وريښمينې وږمې سپورو لاندې
چې د آسمان د وريځو سين نه سفر لاره کې
د باراني ګلو سلام ته غېږه د ځمکې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهدأ زما سپین ږیري شهید پلار ته:

# د میلاد په شپو کې

ای ! ددې شنه اسمان په غیږه کې خوب وړې سپوږمۍ !

ای ! په دې شپو کې د پردیسو د سفر ډیوې !

ای ! د ګلونو او د پیغلو، پیغلو وینو پرې !

ته را ته ګورې ؟

ته را ته ګورې چې د کرېکو او تیارو ننبه شوم ؟

او د ساړه ژمي خوني او ګنهګار ابلیس

زما د ګلانو او نرګسو باغ کې اور وکاره !

تهرا ته ګورې ؟

ته را ته ګورې چې محل مې له کارغانو ډکشو ؟

او په ویالو د هیلیو بچې وسوزیدل !

او زموږ د کلي میندې

سیـــندونـــه هـــم مـــري                    اســـــحـــــاق نـــــګـيـــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میلاد شپو کې «بې لاسو او پښو بجیان زېږوي» !

ته را ته ګورې؟

ته را ته ګورې چې مې ټول کلی چاړه چاړه دی؟

خلک په نوکو او برچو دیوبل سترګې باسي !

او د مالت نجو نې

پ خپلو تورو ،تورو څڼو کې ځوزان ټک وهي؟

آه

آه نازولې سپږمۍ

آه درنا مورې !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چړې په څوکه

دا د سپرلي د شينکي باد وزرونه چا ترلي ؟

چې د سپوږمۍ شونډو کې تورو وريځو ځاله کړې

او د شيطانې شپې په لومو کې د ستو رو نجونې

د مرګ له نوکونه کترې ، مترې راتويې شولې.

* * *

دا د سپرلي د شينکي باد وزرونه چا ترلي ؟

چې د تيارو په جهنم کې داغزيو لښکر

د بلا ربو بو ټو له شيدونه ډک تيونه شکوي

او د نرګسو داموسکۍ ، موسکۍ رنګينې سترګې

دلاس په نوکو باسي.

* * *

دا د سپرلي د شينکي باد وزرونه چاترلي ؟

چې زموږ د کلي د بامو د سر سپينکۍ کوتې

د زهرجن غبار د زهرود باران له لاسه

له ډيرې ويرې د ښکاري ګوتو کې ځاله کړې

او د چړې څوکه کې

سپينې دانې لټووي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درنها کلي ته

زه به دسترګو تخم

دغه رانه کسي

دوچې ځمکې په تبجنه غېږ کې وکرمه

او ،

دسينې له باغ نه

به مې دوينو څراغ

توروکوڅوکې

دلارو يو مخ ته ،ونيسمه

څوچې په ګډه سره

دې لويو شپو کې

درنها کلي ته ټول ورسو !.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شپې پر بام

نن مې د کور له پنجرې نه

د مغرب له لورې

یوې مرورې

خو سا شوې وږمې سرا خیستی

او د ګلانو په چوپتیا کې

د کارغانو ډلو

تیارې پر سر

د سبایي په شبنم ولامبلې

سحر له شرمه

ځان ته و نه کتل

ګلانو خپلې سرې مچکې پرې کړې

او لمر خولې ، خولې

د شپې پر بام ویده پاتې شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رڼا مرګ

لا د نرګسو د موسکا په سپرلني پاڼو کې

غرمو خوړلې،

جل وهلې کربلا ویده ده

د شپو په څڼو کې

د تورو ،تورو وریځو خمار

د سپوږمۍ زړه نه

د سرو وینو پیمانې اخلي

او اطلسي باغونه

د سرو ګلا بو

د غوټیو جنازې پر اوږو

د پرهرونو

د باغچو داغي ګلونه پر سر

د تور خزان خوني سیلیو ته سلام کوي

او د سپیدو له باغ نه

د تورې د ښتې

پر اغزنې چاودې ، چاودې سینې

یوه رڼا ولویده

یوه رڼا مړه شوه (چې رنګ د لمر یې درلود ).



سیـــندونـــه هـم مــري اســــــحــــــاق نـــــګیـــــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند دوکتور زیار ته دهغه دپنځو سمې کلیزې په منا سبت:

# ته لکه لمر...

ته لکه لمر

دخپلو وړانګو

طلايي لمبونه

ذره ، ذره

په مړاوو شوبو

( ګلو ) وخښيدې

او ،

دشينکي ذهن

دهسک

له رڼو ستورونه دې

زموږ رژيدلي

اوسرتور ( بڼ ) ته

سالو وګنډه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپرلي ته

سپرلیه راشه پر دې کلي راشه

چې د ساړه ژمي قاتلو ،خونړیو شپېو

زموږ د باغ د کشما لیو وینې وچې کړلې

او ما ښامي سیلیو

بیا د سپوږمۍ دزړه چاودون

دمړو سلګیو شپو کې

د پېغلو ولو او سپېدارو ملاوې ماتې کړلې

* * *

سپر لیه راشه پردې کلي راشه !

چې زموږ د کلي د پېغلو ټو ګودر ونړېده

دلته د شو نډو په خیالي باغ کې موسکا مړه شوه

او زموږ د میندو مهربانو مورنۍ غېږو کې

شو نډې پر تیو دا کوچني ماشو مان وسو ځېدل

* * *

سپر لیه راشه پردې کلي راشه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تورو دربلو کې زموږ د سفرونو سپوږمۍ

درنو ستورو د ګلونو د میلاد په ماښام

کترې، کترې له اسماني دښتو را ولوېدله

او د شنو ورو د ځوانۍ او پېغلتوب خوبونه

د وحشي باد په قهر جن ستوني کې ونښتل..

* * *

سپر لیه راشه پر دې کلي راشه

چې زموږ د پېغلو او تنکیو سرو غوټیو ستر ګې

د څانګو بڼ نه د خزان په سیلۍ تو یې شولې

د توروشپو د تورو ېځو تر لنې لاندې

د سرو رېدیو د مور بلار به ګېډه وڅیرله!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ثا ثکي...ثا ثکي

بیا ددې تور آسمان په غیږ کې

دوریځو ها دي

په تورو شپو کې

د سپوږمۍ په وینو ولمبیده

او اورني بادونه

د شنو پستو د پیغلتوب دوخت

شینکي خوبونه

تنکي ، تنکي سوځوي

او په دې شنو شنو دامان کې

د هوسیو بچي

او دزیتونو

دتنکي ذهن بې ژبې پانې

دخپلو وینو په بدل

ثا ثکي دلمر غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پسرلی، ږلۍ، باران

سږکال به هیڅ کله سپر لی رانه شي

غوټۍ به چاته شنه موسکا ونکړي

ځکه داکلی ، داکورونه

اودا ورانې کوڅې

خپله سپرلی ، سپرلی دی

او راټوکیږي

هره ورځ پکې دښتي ګلونه

زموږ دوینو ګلان

زموږ دوینو غوټۍ.

سږکال به هیڅکله باران ونه ووروي

ځمکه به هیڅکله محتاجه دآسمان نه شي

ځکه: هرګام او هرقدم

راته باران نیولې

یوه تریدلي باران

یوې تریدلې ږلۍ

داسې باران چې زموږ دپیغلو دښو له وریځو

له دې یتیمې ځمکې

آن په آسمان ووري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد واصف باختري ته:

# لیک

ته یې سپیڅلی لکه وړانګه او اروا د مرغلرو

د صدفو د سپیڅلو رڼاګانو د ښکلا کعبه یې

ته یې سپیڅلی لکه روح د « آدم »

او د جنت د ښکلو حورو اننګیو او ککیو کې یو روڼ

دانـــطـهـور ځاځکی.

* * *

زه دې په پاکو بېګناه سترګو کې وینم

د دنیا د بیګناهو او سپیڅلو ارواګانو بې فریاده

یو ګنګ شوی ، یو بې ژبې ، یو بې وینې ، بیګنا هه انځور.

زه دې دزړه په دې ناپایه سمندر کې هرساعت

هره شیبه دیو ې یاغي بیړۍ د ستر ماتو د ستړیو شیبو

لیکې وینم.

چې لا خوځیږي پسې ، لاړې وهي ،منډې وهې ځې او د آرمان غاړې ته نه رسیږي.

* * *

کله چې خاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا مالګينې خنداګانې ماته وير ، ماته فرياد

ماته فغان رابښي

ژړا دې نه پيژنم

کله چې ژاړې نه ژړلی نه خندلی شمه.

خو دومره پوی يم چې کاتب دمخلو قاتو زماوستا

دژوندون پاڼه دخپل «قار» او له «مستی»

ډکو شيبو ليکلې

چې ژړا نه پيژنو

خندا مو هم نه ده زده.

ته يې سپيڅلی لکه ورانګه او اروا دمر غلرو

دصدفو دسپيڅلو رڼاګانو دښکلا کعبه يې

ته يې سپيڅلی لکه روح د (آدم ).

۲۸/ ۱ /۱۳۶۹

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیوری ( ۱ )

داڅو ونې

داڅو ولـــې

داڅو څانګـــې

دازموږ دوطـــن نــه دي

دوی نه بــوی ځـــي د پــــرديـــو .

* * *

دا سپڅلې خــاوره وايـي:

دوی زمادغيږی نه دي.

دادباد دمور آواز دی:

چې ماتی ورکړی نه دی.

دلمر وينې وهي کوکې:

چې دوی مالوی کړي نه دي.

* * *

کانې غرونه راته وايي

داسيندونه راته وايي:

پام چې څنګ له يې ورنه شې

يو ساعت شي درته سيوری

بل ساعت درنه سا اخلي.

۹ / ۲ / ۱۳۶۹ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شناختې

یه ښکلې ، ښکلې

یه سپیڅلې ملایکې !

دې مالت او په دې چم کې

ګنا هونه هومره ډیردي

چې تا هیڅ

دخپل وبال او دګناه غاړه کې

څوک نه وینې.

وایه ! په دې لار چې راتلې

هغه زموږه دپلرو

اودنیکو قبرونه څه رنګه وو ؟

ښښه یې وه؟

خاوره یې وه؟

شناختې یې وې او که نه ؟

موږ خو دپلار او نیکه هغه سپیڅلې

اودرانه قبر ته نه پرېږدي څوک.

۱۳۶۹ / ۲ / ۹

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګامونه، قدمونه

سیلۍ ، دکومو اورنیو غروله څوکو دې

زموږ کلي ته لاره کړې؟

موږ چې قدم په قدم اخلو

ستا دغیږې داورونو پر سکروټو

او سپرغیو لګو.

چې دغنمو فصل شین شي

اود غوږ ګو نازولي بچي قد وباسي

ددنیا ټولې سرې لمبې مو میلمنې شي

دکبلو او کبانو دسپیڅلو خنداګانو

دمعصومو څپو وینې ز بیښې.

* * *

سیلۍ !له کومې نا سپیڅلې اوبد بختې لارې راغلې

دګناه او دویرونو ساز پر شونډو

زموږ دژوند اوددعا او عبادت کلي ته ؟

موږ چې قدم پر قدم اخلو

هرقدم مو دکربوړو پر قدم اوپر پلونو لګي

قدم زګیروی کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګامونه چیغې وهي

لارې له شرمه لارې نه راکوي.

* * *

سیلۍ ! قدم چې دلته اخلې باغ له شرمه

خپل ورمېږ غوڅوي

موږ له غوټیو او غوټۍ له موږ مخونه نیسي.

وایه ته څوک یې ؟

د کوم ځای یې ؟

او له کومه دې زموږه ددعا او عبادتکلي ته پېښنه کړې؟

۱۳۶۹ / ۳/ ۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تو پیر

دادشنه آسمان ناوکۍ
څومره مینه ګرکې ده !
شپې چې دګناه شي
هر څو ځان پر خیرو ولړم
داراته موسکۍ شي
دخپل ځان په سپینو پیو مې څادر مینځي
دلته مې دځمکې
داسپین سرې نیا میره شي
هرساعت راته قبلې
دشنو ږنډونو په اوبو ولي.
۱۳۶۹/ ۳/ ۹
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلی

لښتي وچ شول

ویالې ورانې

سین د تورو کاڼو غر شو

اوس حیران یم چې د کلي

دا هېلۍ به چېرې لمبي؟

* * *

نه پوهیږم، نه پوهیږم

ای د کلي مازیګره !

هازمونږ د کلي چم کې

هغه سپینه کیږدۍ څه شوه؟

هغه شنې څپرې څه شوې؟

هالو ګرې جنۍ چېرې؟

* * *

تا ته یاد شي مازیګره !

د ګودر د غاړې لیکې؟

لکه باغ د ښاپېریو،

لکه لارې د کوترو؟

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاته باد شی مازیگره !

هغه شنې د ېرې د کلې؟

پکې هسک د شملو غرونه

پکې وربځې د چلمو؟

* * *

نه، نه وران دی

کلی وران دی

بو ځاله پکې نشته

هادښکلو توتکیو

بو نغری هم آباد نه دی

د ابیو د لاس ننبه

* * *

لښتې وچ شول

وېالې ورانې

سین د تورو کاڼو غر شو

اوس حیران یم چې د کلي

دا هیلۍ به چیرته لامبي ! !.

۲۵ / ۳ / ۱۳۶۹

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چغه

وخت د دیدن اورشو د لمبــې پــر ســر ولاړیمـــه

څه وکړم پښتو ده دوعـــدې پــر ســر ولاړیمــه

څاڅکی څاڅکې راغلم ستا د حسن پربام پرېــوتــم

اوس چې پر ځان پوی شوم د ناو ې پر سرو لاړیمــه

ته خو به تندی د شپې نن بیـا پــه کاســو وولـــې

زه څومره کمبخت یم د توبې پــر ســر ولاړیمـــه

لږ خودې کاږه واږه بانه رابانـــدې سیـــورې کـــړه

خیر دی مسا پر یم د غرمـــې پــر ســر ولاړیمـــه

اوښکه د غزل مې د ساحــل د غاړې چـغــه شـــوه

ډوبه مې بېړی ده د څـپــې پــر ســر ولاړ یــمــه.

۱۴ / ۴ / ۱۳۶۹

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتو خبرې

ماته د انکار تاته د هو خبرې نه دي زده
تاته د راتلو ماته د تلو خبرې نه دي زده

ته خو به مانې د وعدو بیا راته ودانه کړې
ماته له دروغجنو د ګلیو خبرې نه دي زده

ستا خو به امېل لکه سپوږمۍ په ټټر وزانګي
ماته د ناڅیرو ګرېوانو خبرې نه دي زده

ته د خم مېلمه شه، سر تر پښو د مستۍ څانګه شه
ماته بې له اوښکو د نشو خبرې نه دي زده

زه بې له پښتو نه په ټول ژوند پر بل څه پوی نه شوم
ستا لکه مغله د پښتو خبرې نه دي زده

کابل

۱۳۴۹/۶/۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویر مالت

ته راته خانده زه سلګو سره خوشالـــــه يـــمه

ته پسرلی شه زه اغزو ســــره خـــوشالـه يمه

دوير مالت کې دهـــوس دادا نـــــشته قـــدر

دغم موسم دی له غمـــو ســـره خـــوشاله يمه

ستوري دې اوري پـرخې پرخې پر خوب وړي نظر

زه لکه شمعه شوګيرو سره خوشــــالـه يـــمه

دزلفو وريځې وروره بلې دې نه شـــي ډيـــوې

دژمي شپه يم له تپارو سره خوشـــالـــه يـــمه

نا دان قاتل راته په لاره کې کـــــرلـي سپرغۍ

زه لکه دود لو يو لمبو سره خوشالـــــه يـــمه

ځومره خوږه شوه په دې چم کې دوحشت ارتـــقا

چې يې ښاغلو ليونو سره خوشالــــه يـــــمه

۱۳۶۹/۹/۳۰

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پسرلی

پسرلی ، پسلی شو

پسرلي مې چې کري

ګلابي حورې

پسرلی مې چې د خدای

له مهربانو سترګوو وري.

* * *

پسرلی شو ، پسرلی شو

هره لویشته د وطن مې

د نرګس ډ که کمڅۍ شوه

هره لښته مې د کلي

تکه شنه د جنت څانګه

غنمي وږمې په زلفو

غرنۍ کوترې راغلې

د هوسیو لونې ناڅي

د شنو دښتو پیغلتوب ته.

* * *

پسلی شو ، پسرلی شو

دلمر سرې تورې یې ښکل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمبوي دریا ناوې
غوځوي د شپې رګونه
کړي د ښتو د آسمان کې
دانځرو شنه با غونه
سپوږمۍ سپین رباب اخیستې
رانه ستوري نڅاګر شول.

* * *

پسرلی شو ، پسرلی شو
تو دوي مې سرې وینې
زور خمار پر عقل ولم
سد مې اخلي د تاک وینې
ګناه کار ساقي ته ناست یم
راکوي جنتي « پینې »
هره پانه د هر ګل مې
دې یاغي سر ته پګړۍ شوه
هریو کانې مې ګلاب شو
هره پرخه مې غونۍ شوه.

۱۳۶۹ / ۱۲ / ۲۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلیزه

نن مې دښکلې لور د حسن پر سپرلیو
یو بل ګل وټو کید
نن یې دژوند پنځلسم ستوری رابرشو
دکمخو پر ماښام
نن یې دتاند عمر د لښنې پېغلتوب ته
بل ګهیځ شین شو له.
لورمې نن پیغله  شو له

* * *

نن مې وعده وه چې د زړه دوچې د ښتې
د سمسورې غوټۍ جشن لما نځم
نن مې وعده وه چې به ناوې کړم
د کور پنځلسمه سپوږمۍ
نن مې وعده وه چې سلګۍ ورته
د شمعو دودوم
او بلومه ديوې
خو نن د خپلې بد نصیبې سرې غوټۍ
مو سکا ته کېنا ستم
ما یې د باغ د پېغلتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې تنکۍ شپې سلام وانه خیست

ما شمعې ونه شوای راوړای

ورکې ډیوې بلې نه شوې

ما یې ترخو شونډوته

رنګ د خوږوهم ورنکړ

ما یې پر زلفو یو کو چنی پوړنی

نه کړو راخور.

* * *

او نن ماښام چې ټوله ورځ

روژه په خوله

دلوی الله پر عبادت بوخته وه

په دې ګناه چې

په نغري کې

ماښامي ډېر تر وسوځېدل

موريې له شپې نه

تر سبا ورته غمبوري

په ځپېړو شنه کړل.

هو !

مورږ د بچو کلیزې د اسې لمانځو

زموږ د ستور د اسې دی ! ! !

۱۳۶۹ / ۱۲ / ۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبدالباري جهاني ته (۱)

دهغه دشعر په ځواب کې:

مساپر خيالونه راغلل

مساپر له لرې غرونو

مساپر له لوی سفرنه

يادوي «دماضي پاڼه»

رانه پوښتي دنن وينې.

* * *

اوس به څنګه ورته وايم ؟

اوس به څنګه ورکړم «زيری»؟

چې به ستړيه مساپره !

هره ولويشته ددې کلي

چې دخدای (ج) له خوبه شنه وه

اوس يوازې دکارغانو

او زاړه شيطان کيږدۍ ده.

* * *

اوس به څنګه ورته وايم ؟

چې دغرونو ځنګل لوټ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخیږیو څڼې پرې دي

ځالې ډکې له کربوړو

دچنارو په سینه کې.

* * *

اوس به څنګه ورته وایم؟

چې دنن مینزو کړې ماتې

دپرون ښکلې هنداري

زموږ بوډۍ مور یې کړه بوره

ټول وطن شهید شهید شو

دلته مري دماضي فصل

دلته مري دسبا زړي

شمله ور غرونه مات شوي

رامیراتې لوپټې دي.

* * *

اوس به څنګه ورته وایم؟

چې مې مري دمستۍ کلی

دلته ویر دی خندا نشته

دمرګي لوبه جاري ده

چا خندا راته وژلې

چا مو کور پر انګار وویشت



سیندونه هم مري اسحاق ننګیال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چامو پخو چړو باندې

دبچیو مرۍ پرې کړې.

* * *

اوس به څنګه ورته وایم؟

چې دنجونو تور وربل کې

سپرلې شین شو دځو زانو

دلته اوس دګودر لاره

داغزو لښکر نیولې

اوس دښکلو دسرو شونډو

هغه شنې موسکاوې مړې دي

اوس دښکلي ریبار ژبه

داغیار پر نوکو وتې

دلته لویې دیرې نشته

دحجرو تږغر تول شوی.

* * *

اوس به څنګه ورته وایم؟

چې شهید پلو پر سترګو

دوطن ادکۍ ژاړي

رنګوي ددعا څلي

هسکوي دښیرو غرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

«زور» له لوړ ګریوانه نیسي

د سرو اوښکو په لاسونو

ترینه غواړي د خپل فصل

د دې شنو دانو مرګونه

چې نامردو بزغلیوکې

د مور څه قدر نشته.

* * *

ته دې ورک سیوري ته ژاړې

زه له خپل سیوري نه ستړی

ته له ځان سره په جنګ یې

زه فلک سره په جنګ یم

راته وایي:

ژمې درومي

توتکې به بیرته راشي

لکه وړانګې د سپرلیو

په وریښمین وریښمین وزرونو.

* * *

زه ویم:

ای د ټولو ربه !

که ته چیرې توتکی وای

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دریا دې وای دا ورځې

ته راتلې زموږ پر کلي؟

لکه وړانګه د سپرلیو

په وربښمین وربښمین وزرونو ؟.

۱ / ۱ /۱۳۷۰

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاک

چې يې دنيا ته سترګې راکړې

او غونچې غونچې شوې

پرهغه ورځ مې د مور سرې سترګې غوټۍ شوې

بيرته ونه غوړېدې

چامې پر تړېو او ماشوموشونډو تې کې نه ښود.

پرهغه ورځ هم دلمر سرې وينې شوې وچې

او يوه شيبه راونه وريدې

شپه شوه ، شپونکې ، سپوږمۍ د ستورو درمو

وړېو وريو پسې هم ونه وتله

تمامه شپه دمړو سلګيو پرزانګو ويده شوم.

* * *

سهار چې پا خيدم

زموږه دکاله دسرو انګورو نرۍ ونې راته ايښې وه

غو لانځه پر سپيرو او جل وهليو شونډو

ماورته مور وويل.

سيــندونــه هم مــري اســـــحـــــاق نـــګيــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس هغه څاڅکې دانګورو مې پرزړه باندې

نيالګې ولاړ دى

څو چې لوييږم ښاخور تاک مې

له ژوند سره سم لوييږي

زه او تاک دواړه له يوې ريښې يو.

۱۰ / ۳ / ۱۳۷۰

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دلبرې

هر څو مره چې پې مخې دي او ښکلې دي د لبــرې

هــغـــومــره ستمـــګرې او قاتلې دي د لبـــرې

پو هېږم څو خو نخوره مېـلمنـــې وې درنـــه لاړې

زړګـــيــــه !خپـه نـــه شې نازولـــې دي د لبـــرې

نه لوز، نه يې و عده، نه يې رښتيا ده چا ليـد لې

دې چم کې دوفا له غرو لـويدلـــې دي د لبـــرې

زموږ که څواني اورشوه ددوی ګل له څنو پريـوت

داهسې پر خپل حـــسن غولېــدلـــې دي د لبـــرې

توبه !الکه د خوار فقير دې خپلـــې غوسې وسوم

درنې دي، پېښتنې دي اوښـــا غلـې دي د لبـــرې.

۲۹ / ۳ / ۱۳۷۰

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آزادي

دلته ځوک نور د سپرلیو
د ګلونو او وږمو په سوچ کې نه دي
دلته چاته نور زموږ د کورونو
د بامو سپینو کوترو ته
دانې ورکول نه زده.

* * *

دلته د ښتو کې د باد له کوچې هیر دي
چې بیا ښکل کړي
په پردیسو وچو شونډو
د لو ګرې پیغلې ځنې
دلته پر کاله نشته
چې د استړې تو تکې پکې دمه شي.

* * *

دلته وینه ، مینه مړه ده
دلته فصل د لمر وچ شو
دلته قتلې دي د عشق او د ځوانۍ
او پیغلتوب د دې سپیڅلو ګناهونو
د جنت ښکلې هنداره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

دلته سا په باغ کې نشته

دلته مات د ګل انځور دی

دلته بڼ کې زرغون شوې

د ساراوو دزړو بګوو چیغې.

* * *

مورډ دمرګ کام کې ژوندي یو

دښکاري ګوتو کې ناڅو

دسبا کښبت یې رالوټ کړ

دادنن شیبو دیوانو

دپرون پاڼې وروستې شولې

دمړو اودخاڼو په لاسونو.

آزادي خووي همداسې

ژوند خو داسې وي کنه !؟

۱۳۷۰ / ۵ / ۲۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څو منثور شعرونه

مصطفی جهاد ته :

## زموږ مړينه -۱-

پرېږده ،

آرام ویده شه !

زموږ مړینه داسې ده

لکه زوکړه مو چې وه

اوزوکړه مو

لکه مړینه مو چې ده.

* * *

پرېږده !

هغوی چې د خپلو کورو نو

پر د ستر خوانونو

ډوډی خوند نه ورته ورکوي

ژوندي وي.

پر ېږده !

هغوی چې د پر دېو د کابارو

دافینو اوالکولو په چینو کې

د لغړو فوا حشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پستو او مر مرينو غولانځو پر غرونه

پوه شپېه خوب

زموږ د ټېو لو په ژوند نه ورکوي

ژوندي وي.

او پر پرده !

هغوی چې و بارګنې

دخپلو ناوو پغلتوب

له هغوی نه

په پرديو کټونو کې واخلي

ژوندي وي.

او ،

زه اوته

چې ژوندي وو مړه وو ،

نو ،

پرېږو ځه

آرام ويده شه !

لکه زوکړه موچې وه

او زوکړه مو

لکه مړينه موچې د ه .۱۳۷۰ /۳۰/۵ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درد -۲-

دپلار مړینه مې ولیده

او دورو نږو زړه چاودون هم

لوږې مې ډېرې وزغملې

او تندې هم

خو بوه یې دومره دردوونکې نه وه

لکه:

نشه چې نه وي پوره

او ښیینبه پای ته ورسي.

۱۳۷/۶/۱۷

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیغمبران هم ژاړي -۳-

ونې ! ولې ژاړې ؟

ښا خونه یې راته غوڅ کړل.

چا ؟

ښاخ مې ،

ومې روزه، و مې روزه

چې رالوی شو

تبرته لاستی شو .

* * *

- مورې ! چېرته ځې ؟

-د خدای کلي ته.

-مګر دالویه نړۍ ؟

-نړۍ خو دد ېوانو ده .

- مېړه دې شته ؟

- رانه ورک شو .

- اوزامن؟

- لرم یې: قابیل او ها بیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

- مسیحه ! ته او او ښکې ؟

-او ښکې نه ، وینې.

- دیهودا اله لا سه.

ومې روزه، ومې روزه

چې رالوی شو

دښمن ته یې و سپارلم.

* * *

- وطنه ! ته؟

- او دادی زه هم ژاړم.

- څوک دې ژړوي؟

- ملت مې،

ملت مې دوه برخې شو:

- قاتل او مقتول

دریمیګړی نه لري.

۱۸ / ۳ /۱۳۷۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## برخه ـ۴ـ

هغه ورځ مې چې غو ښتل

کمڅۍ یې ورته له ګلونو ډکې کړم

دد ښتو او ښو نو ګلان

سیلیو یووړل

او نن چې، ګلان بیا راوغوړېدل

هغه نشته..

* * *

هو کې !

زموږ برخه همدا سې ده

تېر کال مو چې وېالې

له او بو ډکې وې

زموږ د کلي ژرنده ورانه وه

او اوس چې

د کلي ژرنده بیا ودانه ده

په ویالو کې اوبه نشته.

۱۲/ ۶ /۱۳۷۰

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دنیا

زما زړه تر جهان لوی دی دجهان تنـــګــــه سینــــه ده

چې زه نه پکې ځائـــیـــږم دادنیا ځـــومـــره وړه ده ؟

زه دجـــل دغـــرونـــو تـــږی پـــر وا ګیـــر نه یم دلپو

ســـاقـــي ! چـم مـــې دګوټ نه زده زما بحر پیمانه ده

ما مسیح حیران لیدلی دخپل مورد عفت ســـوال تــــه

ماچې نوم دعشق اخیستی راته لـښتـــه زمـــانـــه ده

موږ ئې ځنګ ته دګودر ناست یو پو کوو پکې ساګانې

ګنې داد ژوند ډیوه خـــو لا پخـــوا تـــر ازل مـــړه ده

دتقدیر کچکول پر غاړه مرګ نـــه خیر دهستـــۍ غواړو

دادنیا ځـومره لـولۍ ده ، دادنیا ځومره سپـــیـــره ده .

۳ / ۶ / ۱۳۷۰

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مساپر

څه د ښکلو او ښکو ستوری مساپر پر خاورو خوریم
د چا سترګو نه لویدلی یو ټوټې ټوټې انځوریم
اوس به چیرته پسې لاړ شم نا اشنا کوڅې دي ډېرې
دا د زړه تیر به مې څوک وي چې یې زه د شګو کوریم
چې یې ټپ په سترګو ړوند کړم ترې سرو بادونو یوړم
داد چا د نظر دودیم؟ دادچا د نغري اوریم؟
قتلوي مې چې خوبونو، لیوني خیال مې چې وژني
دا د کوم پښتون شملې ته د مغول د خولې پېغوریم
ځغلوم آس په دریاب کې، ګرځوم بېړې په وچه
دا د کوم جنون امسا یم؟ دا د چا د عشق شبکوریم؟

۱۳۷۰ / ۶/ ۸

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیاله

دائـــوانـــي مـــې صدقه شه ،خوپیاله مې تشه مه شه

دزړګـــي لپــــه چپــــه شــــه ، خو پیاله مې تشه مه شه

ښه پوهیږم چې مې وژني دابر بنـــدېِ دتـــاک پیغـــلې

عمره !يو ځاځکې نشه شه، خوپیالـــه مې تشه مـــه شه

ځوئي ځښم نه تمامیږي راته څه دزهـــرو سینــــد شــــو

دادژوند وچه چینه شه، خوپیاله مې تشـــه مـــه شـــه

داد دوه کاڼو دنیا چې دومره ګرانـــه پرمـــوږ پـــلـــوري

لکه دود پر اور خوره شه ، خو پیاله مې تشه مـــه شــــه

نه په بر دعمر خوښ یم، نه په ګز دژوند خـــوشحـــالـــه

ټول دلوخو پښو ناره شه، خو پیاله مې تشه مـــه شـــه.

۱۳۷۰ / ۷ / ۷

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لاره

دژوند مزي خولنډ شول هغه شپه قراره چيرته ده ؟

ياران دلارې ډير دي خوملګرو لاره چيرته ده؟

کاروان مو دسپوږمۍ تر څنګ بر شو ، خوزموږ مينه

چې تاويل ځاروانه ! اوس دخداى لپاره چير ته ده

ساقي ! راځئ وچې شوې ډالۍ ورته دزړه لپې

زموږ دوينو تږي داويده خماره چيرته ده

موږه سادګان ئې ددوکو په ژرنده دل کړلو

اى عشقه ! ددروغجن ديدن هغه رويباره چيرته ده

دادومره پيړۍ شپه کې دسبا سبا نارې چې دي

شمه مو دنيمزالو ډيوو تر سهاره چيرته ده؟.

۱۳۷۰ / ۸ / ۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کب

سیند لاهمغسې

ځپاند روان دی

او دا سپین ږیرې جاله وان

خدای زده

پرکومې دې شګلنې غاړې

خوب وړی دی نه ویښیږي

سترګه مې ورپیده

او ستا د کور کوتره راغله

ستا راکړی ګل ئې

زما شملې نه یوړ

زه پوهیدم چې

نن به داسې وشي

او نور به هیڅکله

درونه رسمه:

بیګاه مې خوب کې

له لاسونو ځنې

کب لویدلی !

۳ / ۱۰ / ۱۳۷۰ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

نیمه شپه ده ، نیمه شپه ده

د سپوږمۍ څانګو ته ناست یم

یو څو سیوري راته ناځي

لکه ډمې عربانې.

د جنت پیالې ئې راوړې

څه وریښمینې پریښتې دي؟

رانه اخلي تاج د عقل

د جنون جوغه ئې راکړه.

* * *

اوس د زړه پر پاڼو لیکم

ستا د دوه سترګو غزلې

لکه خدای چې مینه لیک کړه

داد حورو په لاسونو.

جنوري ۱۹۹۱ مسکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څانګه

دکومې شپې بلــه ډيــوه ئــې څــانــګـــې؟

چې مــې دزړه پــه کــور خــوره ئــې څــانــګـــې !

لړ صــبــر وکـــړه چـــې وزګـــار خـــوشـــمـــه

څنګه بې صبره پــيــمــانــه ئــې څــانــګـــې؟

شــيـبــه دژمـــي دراتـــلـــو خـــونـــه ده؟

داسې چـــې بيا کـــړه وړه ئـــې څـــانـــګـــې !

نه چې ياغـــي شـــونـــډو مـــې وکـــړ تـــېـــرى؟

له شرمه بيا چـې تکـــه ســره ئـــې څـــانـــګـــې !

څنـــګه دعشـــق پـــرقـــيـــام نـــکـــړم بـــاور؟

چـــې راتـــه سيـــورى او شـــمـــله ئـــې څـانــګـــې !

دوخـــت سيـــلـــۍ دې رانـــه وړاى کـــلـــه شـــي

دپښتني کـــور ميـلـمـنـــه ئـــې څـــانـــګـــې !

جنوري ۱۹۹۱

عشق آباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه او غر

تاسو مې پېژنئ؟

زما دتن هډوکي

اودخاورو په رنګ مسته وينه

زما دغرونو دهستۍ نښې دي

مامې دغرو له تيو پې روډلي

زمادکور دبامبو تېۍ له پاسه

غر ولاړ دی

اوپه انګړ کې

هرقدم ته دخېړيو ونه،

په هريو ښاخ کې يې

دلمر دزيړېدلو کيسه

اوشين آسمان يې

خپلو سترګو ته

له پاڼو نه

رانجه پوروي

ماته دخوب او ستړيا

چم نه دی زده

تيارو ته ستوري،

سيـندونـه هم مـري                    اســــــحـــــاق نـــــګيــــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسبا بر بنډو پیغلو ته

لمنې ګنډم

او کرۍ ورځ ستګې په لار تیروم.

سترګې په لار یم

خو د څه لپاره ؟

نه پو هیږم !

وه چې زما تر سیوري ها خوا

دادنیا نن څومره ښکلې ښکاري

دریغه !

له شرمه راته پاس

دکتو وس نه لري.

۲ / ۱۱ / ۱۳۷۰

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغنمو وږی

لوی احمد شاه بابا ته:

( ۱ )

دغنو وږی زما دپګړۍ څانګه
دغنمو وږی زما دغرونو ژبه
دغنمو وږی زما دماضي درمند
دغنمو وږی زما دسبا توره.

* * *

دغنمو وږی زما داوښکو تکی
دغمو وږی زما دموسکا پاڼه
دغنمو وږی رنګ دښاپیریو
دغنمو وږی زما دیار سندره.

* * *

دغنمو وږی لمر دشپو دتیو
دغنمو وږی سیوری دغرمو مې
سیندونه هم مري اسحاق ننګیال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـــنـــمــــو ورېی ورېم دســـــپــــرلــــيـــــــو

دغنمـو ورېی تــــن دشـــنــــو خـــيـــــړيـــــو.

* * *

( ۲ )

دغــنـمــو ورېی پــاس پــر شـــمـــلـــې شــيــن شو

طـــلائـــي تـــاج ئـــې نـــســـكـــور كـــړ لـــه سرونو

دغـــنـــمـــو ورېی شـــنـــه دويـــاړ جـــنــډه شـــوه

لـــكـــه ســـره ويـــنـــه آيـــت دپـــانـــي پت شو.

* * *

دغـــنـــمـــو ورېی تـــوره دبـــريـــښـــنـــا شـــوه

ددښـــمـــنـــو وريـــځـــو ګـــيـــډی ئې كړی خيرې

دغـــنـــمـــو ورېی زمـــاد غـــرونـــو بـــاد شـــو

لـــه هـــيـــبـــت نـــه ئـــــې زمـــرو ګيدړې راوړې.

* * *

دغـــنـــمـــو ورېی ويـــنـــه دغـــيـــرت شـــوه

پـــه كـــكـــرو كـــې ئـــې اور دايـــمـــان پـــو كـــړ

دغـــنـــمـــو ورېی زمـــا دپـــلار شـــمـــله شوه

تـــيـــتـــيـــدل ئـــې لـــكـــه ستـــوری چيرتـــه نـــه زده.

* * *



سيـندونـه هم مـري اســـــحـــــاق نـــګيـــــــال.

دغنمو وږی اور شو پر نا مردو

هره لویشته ئې تنور کړه پر بګوو

دلمر بڼ ئې له لویدیزې سیلۍ خپل کړ

دشمال دباد ترخه ژبه ئې پرې کړه.

* * *

دغنمو وږی ټول هیواد شو

دغنمو وږی ټول ولس دی

دغنمو وږی زما دوطن هسک شو

چې ترغاړې ئې دبل لاسونه لنډ دی

* * *

دغنمو وږی زما دپګړی ثانګه

دغنمو وږی زما دغرونو ژبه

دغنمو وږی زما دماضي درمند

دغنمو وږی زما دسبا توره.

۱۳۷۰/۱۱/۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کښت

دزلفو شپې دي راوړي خونسکورې درنه نه شي
ته گوره هغه کړې وعدې نورې درنه نه شي

بلد نه یم په غېږ کې د سپېڅلې گناه چیرې
دا شونډې وچې روږدې دي سمسورې درنه نه شي

ما ښنلي کله نه دي ساقي تور شراب په جام کې
ستا سترگې تکې سرې ښې دي چې تورې درنه نه شي

کمځی دي راته دار کړه چې منصور شمه ژوندی شم
ویرېږم له هغې نه چې منگورې درنه نه شي

له وربځو نه خیر نشته کښت مو هم له سینه ده لېرې
سپرلیه ! څوغوټۍ دي چې کمزورې درنه نه شي.

۱۳۷۱/۱/۱۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبدالباری جهاني ته «۲»

د هغه د شعر په ځواب کې.

ما درته نه وې چې یاغي شو اولس؟

ما درته نه وې چې ژړېږي وطن؟

ما درته نه وې چې نړېږي غرونه؟

ما درته نه وې چې ورانېږي وطن؟

* * *

ما درته نه وې چې د کارغیو سیوری

تاج د شیطان شولو ټوي پرښتې؟

ما در ته نه وې چې د حورو حسن

پرۀ مو پلوري، خرڅوي پرښتې؟

* * *

ما درته نه وې چې د نن سندره

غریبه اوښکه شوه په اورو سوه؟

ما درته نه وې چې ډیوه د سبا

ماته هنداره شوه په کور وسوه؟

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

مادرته نه وې چې هـــادرنـــې لـــوپټـــې
داور او وینو پـــــر ګـــودر زانـــــګي؟
مادرته نه وې چې ها سپېڅـــلې تـــسبې
د څو لـــو لیـــو پـــر تـــتر زانـــګي؟
ما هـــو زخـــمـــي تـــن دوطـــن ژړلـــو
اوس لــه وطـــن نـــه وطنـــونـــه جوړشول
مـــــایـــــې لایـــو درد دواکـــړی نـــه و
اوس یـــې له هـــر تـــپـــه تـــپـــو نـــه جـــوړ شول

* * *

تـــه اویـــې مـــه ژاړه جـــوړیـــږي وطـــن
زه ویـــم چـــې نـــه یـــې نـــا خبـــر بـــه یـــې
تـــه وایـــې اوردی بیـــا ګلان دی پســـې
زه ویـــم لـــه دې اوره بـــهـــر بـــه یـــې.
۱۳۷۱/۱/۱۵
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ويني پر کاله

اوښکې د شېبو که د کلو وې په سر واوښـــــتې
لېه وې اوبه، که په نېزو وې په ســـــرو اوښتې
ټول عمر باران و ،يـــو ه شپـــه مو رڼه ونه ليده
پوه نه شوو د ژمي که سپرلو وې په سرو اوښتې
نه به وايې ژبه د غه گونگ زړگی شاهد خــودی
لښتې د کمځو که توپانو وې په سرواوښتـــــې
خير که مو سر لاړ د پېښو پل مو ژوندی پاتې دی
څو ورځې کانې په قافلو وې په سر واوښتـــــې
سترې نه شوې غاړې زموږ اودا پڅې چړې ددوی
ويني پر کاله د پېښتنو وې پر سر واوښـــــــتې

۱۸ / ۱ / ۱۳۷۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېديا

سپېره بېد ياده پکې پل د بنيا دم نشته

يو څو پېر ېان دي له پرديو غرو راغلي

بربنډ ېږي ، ناځي ،ناځي

چې تياره شي بيا سينې پر خپلو ميندو سړوي

پرخوا ړه خوب پر ېوځي.

* * *

دزهروونه ده ولاړه

پر بيزو ادې يې سيورى کړى

بيزودزهرو پرګې خوري هره ګړۍ ورځنې حمل اخلي

دورځې ديرش، ځلوېښت ځوانان شي

بيا قتلېږي

خو بيزوادې پرګې خوري

اولګېاده هره ورځ نوي بچېان زېږوي.

پېرېان ګڼ ېږي

سينـدونـه هم مـري



اســــــحـــــــاق نـــــګيـــــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبیزو ادې په ویر او پر خواریو خاندي

چې شپه تیاره شي

بیا سینې پر خپلو میندو سړوي

پرخوا ړه خوب پرېوځي

سپېره ببډ یاده پکې پل دبنیادم نشته

۱۳۷۱ / ۱ / ۱۹

لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګيله

زه دې د کومې ښې ځوانۍ په خاطر؟

ستا دنيمګړې مينې

د سمسور تيا په هيله

پيالې په سر واړوم.

اوزه دې کومو مهربانو سترګو

ته شين غزل وليکم؟

پيالو ته شونډې

دغزل زلفو ته لاس نه ورځي

کله چې زړه کې مې يې.

۱۳۷۱/۱/۲۲

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شيخ

شيخ بې نعمې ګڼه ېږي

شيخ د جومات کړکۍ ترلې دواتونو د بوالو ته ناخي

شيخ د خپل عشق د باکرې مور

له تيونو نه شراب څښلي دي.

* * *

شيخ لکه سپينه پاغونده

بادونه يوسي

بېرته راشي

او خپل مست سيوري ته بنه وخاندي

شيخ د کو کنارو ګلان و تومبي په تورو څڼو

شيخ توره شپه شي

په غلا غلا د زليخا د مخ پوړني پسې لاس غځوي.

شيخ بې نعمې ګڼه ېږي

شيخ د خپل عشق د باکرې مور

له تيونو نه شراب څښلي دي

شيخ تورو څڼو کې تومبلي

د کوکنارو ګلان.

۹ / ۳ / ۱۳۷۱ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګړۍ

ګړۍ پېړۍ ده چې دنیمې شپې له ټکې ځنې نه خوځېږي

ستوري سو ځي،

شمعې مري،

دترږمیولېونۍ د زنداني شېبو د ژوند خړې آینې ته ناځي

کانه په لار کې د مېږیو د راتلو شېبو ته غوږ آیینې دی

* * *

د دوو دښتو د کمڅو پر سر سپوږمۍ بندي ده

او مسافرې پښې د غوږ ګود کاله پر لوري لاره باسي

متې زخمي دي،

بې نو کانو ګوتې څڼو کې د شپې پاتې دي

ړوند د ګلونو د رنګونو تماشې ته ناست دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

ګړۍ زموږ د ژوند سپېڅلې او محکوم کلام دی

ګړۍ، بيړۍ ده چې کږه ملا سمولی نه شي

ګړۍ غريبه

د پيړيو د سکون پېټی په سر ګرځوي.

* * *

کانه په لار کې د ميږيو د راتلو ښکالو ته غوږ اېښې دی

ړوند د ګلونو د رنګونو تماشې ته ناست دی.

۱۴/۳/۱۳۷۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پو ښتنه

دو مره قدری یاد شي چې بو څه خودې په تـــلــه ووې
پوه نه شوم قسم دی چې تا څه ووې مـــاڅـــه ووې
ټوله شپه رښتیا دې پټ دزړه کورکې ســاتلـــی وم؟
یو غلچکی خوب و په کاله مې تېـــر بـــده ووې
ستا دنظر تندر ته مې ټول خوبـــونـــه درمند شول
چاراته له وربځو نــــه خـــبر دبـــارانـــه ووې؟
ویښ وم که ویده وم خدای زده د برې مودې تېرې شوې
مینه دې له زړه وه اوکه هسې دې په خـــولـــه ووې؟
کړې مې وعده وه چې دې بیا په کـــلي نه درځـــم
هېره وه له ما نه خوریښو د ګرېـــوانـــــه ووې
وپوښته رښتیا ترې کوم مغول دې چم کې شتــه که نه؟
څومره سپکې سپورې مېلمانه ته پښـــتانه ووې؟
۱۴ / ۵ / ۱۳۷۱
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داکلی. داوطن

کلونه تېرشول، ځواني مري

او درنګونو سپرلي

زموږ پرسوي او غریب مالت

ګذرونکړ.

وږمو د ستړي شپون

دځنو په ځنګلونو کې نځاونکړه

دتورو دښتو دکیږدیو دوریو ژبې

بیا وچې شوې

* * *

بیا مو دکلي دچنارو

پرنیم سوېو تنو اوربل شو

دشنو غنمو دورېښمین فصل کمځیو ته یې

رنګ بیا د لوګیو ورکړ

بیا یې د ستورو سره تو کری

دتورو وریځو

دشیطان مریې ته وبښله

* * *

کلی ، وطن

سیــندونــه هم مــري

اســــحـــــاق نــــګیــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیاد څپلیو د میخونو جنګ کې سا وباسي

کلی ، وطن مو

د څو تورو تجمل ته

بیا له سره قربانیږي

هرقاتل یې

دزخمي ځان له هډوکو ځنې

لاستې د «بیرغ» اخلي.

* * *

زموږ سرونه

زموږ وینې

دشنو چرسواودبنګو هغه شنې دانې دي

چې دودوي یې «باباقو» ملنګ

دغم او دستړیا شیبه کې.

۱۳۷۱ / ۴ / ۲۵

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنازې

وربځو دستورو جنازې ښخې کړې

بیا پر دې غرو

درنو ستورو د نارنجو ګلان نه وربږي

راته د سترو مسا پرو پښو پل ورک شو.

* * *

هره شپه مې ځوانې مېږې تندرونه وژني

هره شپه د ځوانو مېږو جنازې ښخوم

خدای زده

دې لار کې چېرته روغه څېرۍ شته او که نه ؟

چې راته غېږ پرانیزي

څادر مې باد وړی دی !!

۲۶/ ۴ / ۱۳۷۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلی – د یره

ماته د کلي مازیگریو ځلي بیا وخندل

د مرور ورېمو پېغلو مې د شونډو جل وهلې پانې بیا ښکل کړې

کلی مې بیا لکه دوینې د زړګي پر فصل وبهېده.

* * *

د پلار حجره لکه کنډر پرته ده

نور ترې د سترو بزګرانو د چلم دودونه راخېږي

نور یې انګړ کې د ښاغلو مساپرو د څپلیو د ګل مېخونښې هم نشته

له ماتې ملایې نړېدلي د سنځلو نازولې څنې

او پلار بوازې د کابل په هدیرو کې مساپر پروت دی.

* * *

بیا مې د کلي د آذان آواز له خوبه ویښ کړم

آذان پر کلي باندې خور دی خو په غږ کې هماسې

د سپین ږیری « بلال» سوز نشته( ۱ )

ټول د پکول شاته لمونځونه کوو

او د جوماټ محراب له ما نه د « بلال» سپینه پګړۍ غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• ❋ ❋

کلی هماسې له دیرونه ډک دی

د کلي لارې د زلمیو د رنو د رنو ګامونو لاندې سا اخلي

خو ګودرونه ړنګ دي

د کلي پېغلې انګېرونو کې د نیاز ړې څرخې تاووي

او زه لګیا یمه د پلار زړه د بره چلوم

۱۸/ ۶ / ۱۳۷۱

- د شاعر منظور مشر تره مشهور دیني عالم مولوی عبدالحی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلونه

کرلي مې جانان دي په اورنو کـــــــې ګـــلونــه

زه هسې لټومه په ګلـــونـــو کې ګـــلونــــــه

زاهده رانه کېږي چې ماښـــــام قضـــا ګـانـــې

ليدلي مې دزلفو ماښامـــونـــو کې ګلـــونـــه

ورمې وې نابلدې د کمڅو له غـــرونـــو راغلـــې

زرغون مې شول د کلي په خوړونو کې ګـــلونـــه

هر ګوټ سره ګلاب شي تکې سرې د پیالو مورګې

جامونه په ګلونو کې، جامونه کـــې ګـــلـــونه

په شونډو کې موسکا خوبوه وکوه جـــانـــانـه !

سپرلی شه غوړوه مې په زخمونو کې ګـــــلونـه.

۱۳۷۱ / ۷ /۲۵

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د «آدم» وصیت

زه «آدم» یم زه «آدم» یم

له جنته شړل شوی

پردې ځمکې بادشاه شوی

ورور دې ورور پۍ کانې وويشت

نازولی زوی مې مړ شو.

* * *

زويه ! زړکاله پوره شول

يو څو ورځې دې مېلمه يم

څو خبرې درته کړمه

نن به يم سبا به ځمه.

* * *

دغه سپين مزی درواخله

د پستو پستو وربښمو

پکې حک مخ دنبيانو



سینـدونـه هـم مـري اســـحـــاق نـــګيــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمله وو بادشاهانو

پرښتو وو دی او دلی

له جنته دی راغلی.

* * *

خو وښته زما دړیرې

او همدا جنتي مزی

په بوه تابوت خوندي کړه

ورته جوړ قفل او کلي کړه

ځو چې ته یې او دنیاده

پر دښمن غلبه ستاده.

* * *

داګوتمۍ مې هم درواخله

درته وبه ښیي لارې

دا «میمون» آس مې هم ستادی

ورسره برښنده توره

هر بری د ستا بری دی

هر زور ګیر د ستا مریی دی.

• * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ننبې د ستا ننبې

زما لکړه ستا لکړه

زما لاره دستا لاره

زما چاره د ستا چاره

خووروستی خبره واوره

وینه توی زما دزوی کړه

دمظلوم زوی په بدل کې

زویه ځه ته هم قاتل شه !

د «آدم» د غاړې ګل شه !

۶ / ۹ / ۱۳۷۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمق په لټون

اوربېدلي مې کيسه ده خدای زده کله
له ملانه، له عامي نه که له بله

يو سپين ږيری چې يې وخت د ځنکدن و
په هوښيارو کې هوښيار او عزتمن و

خپل زامن يې کړل پر ځان باندې چاپېره
وې خبره درته کړم چې نه شي هيره

څه چې شته نيم يې په ما پسې خيرات کړئ
څه يې وېش نيم څه يې پخه او څه يې سقات کړئ

نيم يې ورکړئ د کوم ځاس نامي دله ته
کوم احمق، نادان، رذيل، حرامزاده ته

چې په نوم د حماقت ترې څوک برنه وي
دغه نيمه برخه ټوله دې دده وي

سړی مړ شو د خيرات کټوې بارشوې
ګېډې ډکې ددارااو دنادارشوې

زامن ټول شول مصلحت يې سره وکړ
د احمق سړي لټ--ون ته يې زړه ښه کړ

وې فرض کړی م-و بابا پر موږ داکاردی
پسې ګرځو په دې ښار که په بل ښاردی

ګوندې وي چې په دې کار کې کوم حکمت وي
د سپين ږيرو خو په نېکو مصلحت وي
زامن لاړل نيمه برخه يې تر ملا کړه
په شپو شپو يې خپل زاړه کلي ته شاکړه
دا احمق يې ښار له هر لاره
پسې تلل له يوه ښاره تر بل ښاره
لټوه هغوی احمق چې ښه شا خداروي
احمقان خو ګنې هر چېرته بسيار وي
خو شا خدار احمق هېڅېرې پيدا نه شو
څوچې سريې د پايتخت په کوڅو وشو
دوی له ورځو يوه ورځ ليدل په ښار کې
چې راجوړې دي مېلې په هر بازار کې
هرې خوا نه راټول شوي ښه ځوانان دي
څوک يې پيغلې، څوک زاړه، څوک هلکان دي
د چا شونډو کې موسکا وې دي غوړېږي
څوک تندی پر زنګنو وهي ژړېږي
يو خو اساز دی، پايکوبې ده او خندا ده
بله خوا چغې نارې دي او ژړا ده
چا کړه شمله پر سر ايستې زبونې کړي
ورونه ګرځي په مېلو کې هورې دورې

سيندونه هم مري                اسحاق ننګيال.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی لیدل هغه کانې چې نه وې چېرې

دوی لیدل چې د مېلې په هغې خواکې

تخت ځلېږي درنګونو په رڼا کې

پکې ناست یو عزتمن سړی دی ګوره

چې وریږي پرې ګلان له هر لوره

طلایې تاج یې پر سر لکه دلمر دی

تیارسی ورته سردار دی که لښکر دی

جوړ ټولګی ورته ولاړ دی د ساقیانو

ښکلې پېغلې او پکې دي د زلفانو

د مېلې پر بله خوا بله کیسه ده

دوی لیدل چې هلته بله هنګامه ده

دوی لیدلو یو سړی چې عزتمند دی

له یوې پښې له ونې نه ځوړند دی

څوک یې سروهي په سرڅوک په سوکانو

نه زړه سوی د جنکونه د ځوانانو

له ما شوم نه هم خیرات د خپل سر غواړي

خو وهي پکې هر څوک د لاس سوبارې

بیا په لټه د دلیل او د برهان شول

له یو چا ځنې یې وکړل تپوسونه

چې رابښیه د خدای پار دی دلیلونه



سیندونه هم مري        اسحاق ننګیال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیـــوه مـــــولــــې دومره هر کلــــی کـــړ؟
او له بل ځنیني مو جوړ د کوخې سپــــی کــــــــړ؟
وې هغه چـــــې اوس د تخــــت پر سر مستـــي کړي
پــــس له دې نه ې به پر موږه بــاد شاهـــي کـــړي
او دابل چـــې تـــا لیـــده ســــر پـــــــه ژړاو
یــــو ساعــــت مخکــــې زموږ پر ســــر بادشاو
موږ دنــــوي هــر کلـــی کـــړو څــــه چې غواړي
بیا چې زړو شو نــو وهــــو پکــــې ســـوبــــاړي
دبابازامـــنو ووې چـــــې مــــو ومـــــــوند
ها احمق چې مو په ټول جهــان کې نــــه مــــونـــد
د شاهي په باغ کې ناســـت نــــه ګــوري منــــي
ښـــه پــــوهیــږي د سبـــا ســــو بـاړي ويني
نیمه برخه د بــــابـــا یــــې رابـــهـــر کـــړه
بیا یـــــې ټـــولـــه دبـــاد شـاه په لاس کې ورکړه.
۱۳۷۱/۱۰/۷

کابل

# بادشاه او معشوقه یې

تېره هېره زمانه کې يو باد شاو
نازولی په هر ملک ددې دنياو
خدای ورکړې دبدبه د تاج او تخت وه
په هر ځای ورته ګونډه اوښه د بخت وه
خزانې يې وې د شتو وتې له شماره
هر خزان يې ښايسته و له بهاره
نه کمی و دلښکرونه دزرو
نه کمبو د پکې د مينځو اونو کرو
شماريې نه و په حرم کې دبي بېانو
نه دښکلو معشوقو نه د ساقيانو
هر محل يې ددنيا پرسر جنت و
رب ورکړی له ازله داعزت و
دبادشاه په دلبرانو کې يوه وه
چې په ټولو کې ښايسته لکه ډيوه وه
لکه حوره هسې ښکلې نازولې
ته به وايې له جنته ده راغلې
چاليدلی داسې حسن چېرې نه و
ډېر شاهان يې په ليدو پسې رانده و

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبــادشــاه ټــولــه هستــي ددې هستــــي وه
دشپې ورځــــې پایکوبې وه بــد مستـــــي وه
دغه نورې معشـــو قــــې، نـورې بې بـېــــانې
ورته ټولې دپــــښــو خــاورې وې خوارانــــې
بــــو ویــښتــه ددې او داټـــولــه دنــیــا
بــدلــوه کلــه دداســې عشــق بــادشــــا
یوه ورځ یې په شپبـــو د بـــد مستۍ کـــې
دخوندونو اورنګونـــو په ځــولــۍ کـــې
سرې د ناز شونډې راپـــرانیستـــې اداتــــه
څـو خبــرې وې چـــې ویــې کـړې بادشاتــه
وې پلانې حــاکـــم دې ډېر درتــه خایـــن دی
تـه پـــوهـېـــږې نـه خـــو ما تـــه مبیــن دی
* * *
چـــې خیـــمـــه د مستــۍ ټــوله شوه سهار شو
د مظلوم حاکم تیارې خــونـــې تـــه لا رشــو
پس له څو ورځو پو ښتنــو احــــوالـــونــــو
پس له ډېرو تحقیقونو، تپــــوســــــونــــو
شوه معلومه چې تقصیر د حاکـــــم نـــه دی
تش تومت د معشوقـــــې د ترخــــه ژبه دی
پس لــــه هغــــــې باد شـاه ډېر ورنه خپه شو



سیـندونـه هم مـري اســـحـــاق نــــګیــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان لاړه درباريانـــو ته جــــرګه شـــــــو

وې کـــه څـــه هـــم ډېـــر پـــردې ښکلـــې ميـــن يـــم

خو والله چې پر هغـــې پېښـــې غـــمـــجـــن يـــم

زه وېـــرېـــږمـــه کـــه بيـــا هــــم داســـې وشـــې

خداى خبر چې ددې ملک چـارې بـــه څـــه شـــې

دربـــــاريـــانــو ورتــــــه ووېـــــل سلـــــطانـــه

نـــوريـــــــې مـــه منـــه خـــــبـــره عـــاليشانـــه

بـــاد شــــاه ووې نـــا مـــمـــکنـــه ده مـــلـــګـــرو

چـــې ځــــان منـــع کـــړم د هـــغـــې لـــه خبـــرو

* * *

يـــوه شپه بـــادشـــاه دربـــارنه رابـهـــر شـــو

معشـــوقـــــې سره مـلګـــرى پـــه چکـــرشـــو

بـــــر بـــېـــړۍ ســــواره روان وو پـــــه دريـــاب کې

معشوقه يې کـــړه ګـــوزاره پـــه تـــــالاب کـــې

معشوقه لاړه خـــــو اوريـــــې د عـــشـــــق بـــل و

لګيـــــدلــــــې د بـــادشاه پـــر تـــش ګـــو ګل و

بيا باد شاه شېبې پر اوښـــــــــکو لنـــــډولـــــې

اوښکې څه چې يـــې ســــرې وينـــــې بهـــــولې

باد شاه هسې خوار وزار او تـــــور کمنـــد شـــــو

چې ګوزار دعشق او مينې لـــه سمنــــــد شـــــــو



سيـنـدونـه هم مـــري اســـــــحـــــاق نــــګيــــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بادشاهي يې په نظـــر لكـــــه زنـــدان شـــوه
چـــې د عشـــق دنيا يې رنګه په جهان شـــوه
دربـار بـــانـــو ورتـــــه ووې اى امـــيره !
اى زمـــوږ د ســرو سيـــور يــه اى زهيـــــره !
اوس چې مرې ورپسې ولـــې دې غــرقـــاب كـــړه
خپـله مينـــه دې لاهــــو په دې دربـــاب كـــړه
بـــادشـــاه ووې ورتـــــه اى عــــا ليجنـــاب
زه خــــراب نـــه يـــــم نــــه ملک زما خراب

۲۹ / ۱۰ / ۱۳۷۱

كابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر قبر مې

مامې د اخپل قبر په سترګو ولید

قبر ،

زما د سفر نوې بيړۍ

دو چې ځمکې سمندر کې غړوي د مسا پرو د مسا پرې شپيلۍ

او قبر کښونکي

سترې سترې رانه پښو ځنې ځپلۍ وباسي.

* * *

بربنډې پښې، سپينې جامې پر غاړه

زهمې د خپلې جنازې پر سر ولاړ يم

د ملا غړ ته مې غوږنيولی

چې بلوي مې پر ګناه د ثوابونو ځراغ

زه ورته سرې سترګې ژړيږم

وايم دروا غدي

ملا مه يې وايه !

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کور او کلي نه مېساندې خېږي

ادې دزوی چیغې وهي

بچیان دادا بیرته له خدایه غواړي

دچا په خوله کې چیرته نشته چې شاعر مړ شوی

اودلته زما په جنازه کې

یو شاعر

خپلې میر منې سره ناځي اوسندرې بولي

۱۳۷۱ / ۱۱ / ۵

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بزګر

څنګه سرې ږلۍ په سرو اخیستم؟

زماد لاس خولو فصل نه یو شین بوټې راپاتې نه دی

چیرنه یو ژیړ وږی هم نشته چې یې پاس پر پټکي کیږدم

له ګودر ځنې په بر بټو کې موسکۍ تیر شم

په مخه لاړشم، شاته وګورم

پرښکلي آشنا بیا دیوې بلې وعدې زیرې وکړم

ږلیو څه ونه کړل؟

بزګر لګیا دی له خپل لور سره خبرې کوي

بزګر ژړیږي

او وریو ورته غوږ نیولی.

۱۳۷۲ / ۱ / ۶

لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنګړیواله

بنګړیواله توړې بیا پر کلي راغله

بنګړیواله شرنګ پرولو ،

دښایسته رنګونو څانګه

بنګړیواله زموږ د کلي

دزلمیو د « طالعو » د نازکې غوټې ورېم

بنګړیواله زموږ د کلي

د پېغلو ټو د اختر د شیبو زیری.

* * *

بنګړیواله توړې راغله

رنګه بنګه سانیولې

په پستو پستو زګیروویې

د هر کاڼي تپوس وکړ

خو زموږ د کلي لارو

د پردیسې بنګړیوالې

سیــندونــه هم مــري — اســـــحــــاق نـــګيــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تش دخولې سلام وانه خيست

وې يې: هو ! رښتيا زړه شوم

دغو سترګو رب وهلو

خدايزده چيرته

بيا پر کومو نابلدو کوڅو سرکړم؟

* * *

بنګړيواله توړې تم شه

حک حيرانه پښيمانه

بنګړيوالې په لستوڼي

دښو دوړې جارو کړې

هرديوال يې ددې کلي

له خواږه نظره تيرکړ

وې يې: نه ، کلی همدادی

داکوڅې هغه کوڅې دي

خو حيرانه يم چې څنګه

نن مې پل پکې پردی شو؟

* * *

بنګړيواله ړنګيدله، بوګنيدله

چې له لرې زمونږ دکلي

پخوانۍ ښار وښکاره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو اشنا سلام يې وكړ
اودانه يې دانګورو
دبوډۍ په خوله كې وكړه
وې يې: ځه نو بنګړيوالې
ځه ورځه پر مخ دې ښه شه
اوس نو هغه كلې نه دى
اوس هغه بيبيانې نشته
اودښكلو مړوندونه
ډير كلونه شول چې پرې دي.

۱۱ / ۱ / ۱۳۷۲ **لغمان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـچ

...خو تریخ دزهرو جام دی

نه څه سره لري نه سپینه

نه یې رنګ شته

نه یې خوند شته

نه یې پاتې شته نه مړینه.

* * *

عجیبه ډالۍ یې راوړه

پرښتو ، دجنت حورو

شپیلولي راته هدیوکي

قتلوي سرتوره مینه

سین دزوو دی تربڅاڅي

وریتوي دزړونو وینه.

* * *

اوس پو هیږئ؟ څه یې وکړل؟

ها لو بګرو دباغونو؟

یوه وښوده په ګوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل يې دل کړه پر غاښونو.

* * *

اوس يې غچ له موږه اخلي
ږدي موژرندې پرسرونو
ورشه غوځه دې کړه ونه
راشه وادې خله غنمينه
نه يې رنګ شته
نه يې خوند شته
نه يې پاتې شته نه مړينه

قتلوي سرتوره مينه
وريتوي دزړونو مينه
...خو يو تريخ دزهرو جام دی
نه څه سره لري نه سپينه ( ! )
۱۲ / ۲ / ۱۳۷۲
لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښاپيرۍ

دغره په لوړه څوکه ګورئ

چې دستورو دهيليو تر ښکو لاندې

زما دميني ښاپيرۍ ناسته ده

چيغې وهي

ټندې اخيستې پرې باران نه اوري

په تور وربل يې

دچندڼو پاڼو اور واخيست

غزل وسوځيد.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره درنه او پښتنه ده اوښکه

اوښکه دزړه له نازولي کوره راغله

زما په لپو کې راپرېوته

او به او به شوه

او زه لګيا يم لوړې لوړې ځوکې ته

په لپو کې او به خېژوم

ځوکې ته ورسم نږدې شم

بيا دځمکې تل ته ولوېږم

او به او به شم

ښاپيرۍ تنده وژني

او زه او بو وږې يم !

۱۶ / ۲ / ۱۳۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیلاني بلبلې

سیلاني بلبلې لاړې
نور دباغ دخوب په سین کې
دبلبلو دسرو ژبو
دشنو چیغو تصویر تت دی.
نور دباغ دسرو ګلونو
دبلبلو دسرو شونډو
نازولې مینه مړه ده.
نور دپاڼو پر کمڅیو
سهارونه دسپرلیو
چیرته پرخې پرخې نه شول.
« سرله سره پالنګه هسک کړه فتح خانه
لویه خدایه ، سیلاني بلبلې والوتې له باغه » .
سیلاني بلبلې لاړې
نورپر آس دننګیالیو
دپګړیو دشملو
دلوړو لوړو
آسماني غرو پته نشته
نور دبربتو پرسرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه تاوه

د پښتون

اسرافيلي شپيلۍ کښه ده

نور هغه ډګر مات شوی

او پر غاړو د پردیو

هغه مستۍ

سپينې تورې لښتې نه شوې

« رابيا » بله ناره وکړه:

« سر له سره پالنګه هسک کړه فتح خانه

رابيا ګلې پونده ورته کړه سپره شوه » .

۱۳۷۲ / ۳ / ۳۱ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روږده

زړه شـــرلـــــې يـــم لـــــه كـــوره اورمـــې بل دی په كاله كې

لړمې پريږده چې ويده شم ستا دزلفـــوپـــه ځـنـــګله كـــې

سترګې ستا سترګو كې لامبي ملامت رابانـــدی مـــــكـــــړه

تنده كله ماته شـــوې دكبــــانو پـــــه ويـــــالـــــه كـــــې؟

ما دمات زړه له هر شرنګه دشنو چيغو مالـــت جـــوړ كـــــړ

نه دی نوم وځي له زړه نه، نه مې شپه كوي په خـولـــه كـــې

دسينې پر باغ دې تلم ستا دګريــــوان قـــراول تـــم كـــــړم

اوس نو پرې چې مې زيندی كړي ستا دغاړې اميــــــله كـــــې

چې په پټه دې خوله راكړه تـا په خپلو لاســـــو غـــــل كـــــړم

نن ستری وي سبا درمند روږده داسې كوي غـــلــــه كـــــې.

۱۳۷۲ / ۴ / ۳

كابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنده

دفردوس دعیش کوربه دي

غرقوي دنیا تر نوکو

خو لاتشې مړی غواړي

دسوالګر ساړه نغري نه.

* * *

دسوما جامونه لاس کې

زموږ دوینو لامبو زن شول

نه سړیږي ، نه ماتیږي

دمړو ماشومانو تنده

۱۳۷۴ / ۴ /۲۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د دویشت کلن ځوان وراره شفیق الله متین په شهادت

# ویرنه

خلکو ګورئ چې پر کور مې د غم اور لکه غر پریوت
د فلک خونړې لاس مې لکه تبر پر سر پریوت
هریو کاڼې مو قاتل شو راته بېل بېل پر در پرېوت
د سرووینو په کاله کې بیا دوینو ګودر پرېوت
څه درانه چنارته ناست هم د مرګي پرې خنجر پرېوت
یو روڼ لمر مې د کاله و، سحروخوت سحر پریوت
مرګه څومره ګناه کار یې ورانوې د عزت کلي
له بې پتو ځنې تښتې ړنګوې د عفت څلي.

* * *

خدایه څنګه به شم صبر څنګه اور مړکړم په زړه کې
زیږېدلې یم لو یېږم دادویر په زنګانه کې
چیرته اور چیرته توپان وي راته سم ووري کاله کې
غم زما د کور کوربه دی ، مرګ مې ناست په دالانه کې
نه په غیږ کې د نیا لوی شوم نه په غیږه د نیکه کې
پرون پرې د پلار مری، شوه نن سا ه قتله په وراره کې
څه د غم په ورځ پیدا یم څه د غم په ورځ به مرمه
لویه خدایه لویه خدایه ! داڅه یمه داڅه یمه.



سیندونه هم مري — اسحاق ننګیال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

ټول کهول مې جار جاري واې خو« شفیق» راته پـه کـــوروای
دازلمی ستوری دکور مې دنیـــکه پـــر درګـــاه خـــور وای
تل دقام دپګـــړۍ ګل وای دټـــبـر دپـــت انځـــور وای
غم یې تل زما پـــر ســر وای دادژونـد پـــر نیـــلي سوروای
دده درد وای زما مرګ وای دده کـــور وای زمـــا ګـــوروای
زما خونـــه وای خـــرابـــه خـــو دان نـــغـری د ورور وای
تو لعنت زمـــا په غـــم شـــه زه یـــې زوړ کړم دی زوړ نه شو
کال په کال رانه کښت ریبي خو وړ ستـــرګـــې دی موړ نه شو

* * *

لا یې سیو ري ته ناست نه وم ځوانیمرګ شـــو بهـــار وســـو
سم چې ګل جوړ شو شملې ته ، شمله وســـوه ګلـــزار وســـو
چې راخوت دسهار ستوری ، ستوری وســـو سهـــار وســـو
هغه رنګه ځواني وسوه هغه دنـګ دنـګ ســپیـــدار وســـو
ځاریدې چې ور نه ښکلې هـــا دښکلـــو ســـردار وســـو
ګلالی لالی مې وسو ، وطن وســـو ځـــیـــد ښـــار وســـو
پر هر سر باندی اوربل دی سر دې پورتـــه کـــړه« شفیقه».

* * *

وروره ته خو دګور نه وې ستا ځـــوانـــي دګل ځـــوانـــي وه
ستا ښایست دګل ښایست وه ، ستا ثانـي دګل ثـــانـــي وه



سیـــندونـــه هم مـــري اســـــحـــــاق نـــــګیـــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا دخولې دتکبیر چیغه ددې کلي ودانـي وه
ته دسرو یاقوتو کان وې خو وطن کې ارزانـي وه
ورور دورور په لاسو وژنې دلته دا مسلماني وه
دلته داسې ناداني ده، دلته داسې ناداني وه
مګر ته یوازې نه یې دلته دنګ غرونه قتلیږي
دلته سیند پر چړو وژني دلته ټول وطن نړیږي.

۲۲ / ۴ / ۱۳۷۲

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داسې لور داسې لوونه

ورېځې بيا لامبي پر اور ووري پر ګلو
دازلمی سپرلی خونه دی د سوځلو
له اسمانه د سکروټو غر راپرېوت
سوځوي مې ښکلی کلی د سنځلو
بيا د ګلو د حيا پر ناموس جنګ دی
ځانګې سترې شوې د ځان پر قتلولو
د باغ سپين مړوند رېبلی دی اغزيو
پرې يې نه ښود چېرته جوړ ګرا ېوان د ښکلو
د سيندونو مست اوښان وسول له تندې
دهېليو پېغلې بيا لاړې له کلو
د سپوږمۍ پر وربل مري غونچې د ستورو
لمر د ځان جنازه وړي پر خپلو ولو
موج دوينو ګلان وکول سپرلی شو
څه حاجت شته؟ دګلاب او د سنبلو
بيا لنده نه شوه ړوډۍ د «عيسی» جام کې
پاتې نه شول هغه سره شراب د څښلو
د پيالو پر شرنګار يو ويده ويښ نه شو
نه ساقي شته نه کنډول د کړنګولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې شمعې د شپو د ہو پر تندي ونه ويشت

يو پتنګ نشته لمبو کې د لامبلو

داويدې سترګې د بڼ پرې رنې نه شوې

چيغې پر ہوتې رانجو کې د بلبلو

فلک لور پسې اخيستی سترې نه شو

ددې مستو چتو ستورو پر ربلو

نازولې غوټۍ نه شوې پکې بلې

تور لوګي دي چې ټيکري شول دوربلو

دماتم ډمو بنګړي د ښکلو مات کړل

غوخوي ورنه نکريزې له منګولو

په بر هر زړه مې لاس مه وهه جانانه

داخو سالو پټه نه ده د ګنډلو

زرغو شوی چم په چم بر سات داوښکو

قتل شوي موسمونه د خندلو

داچمن چمن وطن دارته بس نه شو

نه يو شين ډډ د چنار شته نه دولو

مني بيا ورته له سره سيخان سره کړل

دا لاله دي له ازله دداغلو

ددې خوارو په قسمت به باران نه وي

چې لمبې وروي پر کور د جل وهلو



سيـــندونـــه هم مـــري اســــــحـــــاق نـــــګيـــــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو پرې شوی رګ مو ښخ لکه تاک نه شو
یو سر نشته په دې ښارکې د ښندلو
نه د عقل پر آس سور، نه لیونی شته
نشته ژبه د زنځیرنه د وېلو
څه ایرې د بې قدرۍ وربانديې شنې شوې
دا درنې شنا ختې خونه دي دکتلو
ددې کلي ښکاریان مړه له سره وژني
غشي ولي بیا پر زړونو دبسملو
نه یو مټ دتیارو جنګ ته چېرته پاتې
نه یو لاس د خپل کرېوان د څیرولو
د لمبو تر خیمو یو «ابراهیم» نشته
پیدا نه شو یو «منصور» ددارختلو
بیالوېدلی دی «رستم» د«شغاد» څاه کې
لاره نشته دې ګړنګ نه دوتلو
نه یې ګرد په تورو دښتو کې د آس شته



سیــندونــه هم مــري          اســـــحــــاق نــــګیـــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ناري د شهسوارو ددانګلو

بیا یو شین زمری دې غرونو کې لوی نه شو

یو ه تشه جنډه نشته پر مورچلو

د شنو چیغو له کاروان سره سفر دی

ژبه نښتې په تالو کې د غزلو

سرله تورو خاورو پورته کړه« خوشحاله»

لا خو غچ د «هجري» پاتې پر «مغولو»

۱۳۷۲ / ۵ / ۹

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه جام، نه څادر

څوتور سرې

څو سپین سرې

«یو څو اوښې»

«څوپسونه»

څه غریب سترې کاروان دی؟

باد راوړې پانې رېږدي.

***

«قاف» لمبو پر سر اخیستی

ښاپېرۍ شوې مسا پرې

خدای خبر دی چې به دمه

بیا پر کومو غرونو کېږدي؟

***

څنګه رنګې میکدې دي

څنګه ښکلې شونډې سوځي

جانه بیا به دې ساقي شم

«که مې غم د ډوډۍ پرېږدي»

***

نه ترانګې د کېږدۍ شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ښکلې، نه ښادرونه

لوټ شوي د جام ناموس مې

پر شهيدې پګړې پښې ږدي

***

څو تور سري

څو سپين سري

«څو پسونه»

څه غريب، ستړی کاروان دی؟

باد راوړې پانې رېږدي

۱۳۷۲ / ۷ /۲۹

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپوږی ( ۲ )

ما خو ټول عمر له کوچینو سره مینه کړې

کوچي لوګي،

کوچي بادونه،

کوچۍ پیغلې،

او کوچۍ کېږدۍ

ماخو ټول عمر له کوچیو سره مینه کړې.

***

کله چې باد

زما د کور پر رژېدلو او ختېنو بامو

د خپل ناپایه سفرونو منزلونه وهي

زه ترې مدام

د خپل ورک شوي سپوږي

د ټوخي غږ اورم.

کله چې

ما د شو ګیرو د تورو غرونو له شا

دخوب کوچۍ

زما د سترګو په رڼې کېږدۍ راپېښنه وکړي

زه د کوچیو د کاروان

سینـدونـه هم مـري          اســــحـــاق نـــګیــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه مست

خوددې سترې اوښ

دغاړې له زنګونو ځنې

دخپل ورک شوي سپوري

سترې غزل اورم.

کله چې

د کوچۍ پېغلې درنګين وربل ماښام

او د کمځو د غځېدلو غرونو شپو ته ګورم

زه ترې مدام

دخپل ورک شوي سپوري

دپرهر جنو وينو

د شنوغوټيو شين سلام اورم.

کله چې

له ستړيوی منزلونو وروسته

د هغو دنګو غرو تر غاړو

دوړو وړو وريو

دخنداوو تمځايونه ګورم

چې ورته لپو کې اوبه ور کوي

او له شنو سترګو يې ستړياوې مينځي

ما خوټولو عمر له کوچيو سره مينه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

ای د بې ننبو

او بې کوره شنو بادونو په خیر

زموږ د کوچیو

لالهاند کاروانه !

ای ددې دنګو دنګو غرونو

او دلوېو دښتو

پر سپینو سپینو او سپېڅلو پیو

رالویې شوې شوې کوچۍ !

ای ددې غرونو د خیړیو

او چندړو د باغونو

پر لندو لښتو ویده کوچیه !

او ای ذغرونو دشپو نکیو

دشپېلیو پر وزرونو کې

راتاوې کېږدئ !

سبوری مې بیرته راکړئ !

زه مې یوازې دغم غر

او د خنداووجنازې

پرخپلو سترو

او بې کسو اوږو نه شم وړلای

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوری مې بیرته راکړئ !.

زه پر دې ارتې او پراخې نړۍ

ایکې یوازې

همدا سیوری لرم

سیوری مې بېرته راکړئ !

***

ما خو ټول عمر له کوچیو سره مینه کړې

کوچې لوګي،

کوچې بادونه،

ګوچې پیغلې،

او کوچې کیږدۍ

ماخو ټول عمر له کوچیو سره مینه کړې.

۱۳۷۲ / ۸ / ۲۶

لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرمنې ته مې لیک

# کورمې

شپې شي، شپې ومري

او دور ځو او ښې بیا وزېږي، بیا قتلې شي

خو زه ژوندی یمه د شپو، ورځو د قتل انتظار ته ناست یم

ویې څښنم، ویې خورم،

ګړی، ګړی ویده پاتې شم، بیا پا حیږم

پورته شم، بیا یې وڅښنم، بیا یې وخورم، بیا ویده شم

شپې شي،

شپې ومري،

او دورځو اوښې بیا وزیږي

بیا قتلې شي.

***

زما د ځنګې یخ وهلي ګلان لاړل

چې د ښکلي مشرق زلفو نه

په څېو کې د لمر ښکلي ګلونه کیږدي

او زه یوازې د پنجرې په ځنګ کې ناست یم

له خپل ځانه سره «ګاتې» کوم

کله نا ځکو ته لمنې اوبم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله انګړ کې له خپل سېوري سره پاڅم په «موسیو» سرشم

خود «موسیو» چم مې هم نه دی زده

کله د خدای له وېرې پاڅم

ستا لمن مخې ته واچوم په لمونځ و کوم

سترې ستومان شم پر لمونځونو

خو لمانځه نه وروسته

خولې ته دوعانه راځې

خدای ته دعا هم پښتنې ژبې ته سوال ښکاري

او زه د سوال او د سوالګر له نامه کرکه لرم.

شپې شي،

شپې ومري،

او دورځو اوښې بیا وزېږي

بیا قتلې شي.

***

زما د کور ښاپیرۍ تللې مالت د کوه قاف په سفر

نورمې د کور له دېوالونو ته

دعطرو ګلان نه ورېږي

هر شیبه

د سرو ګلونو د غوټیو د عطرونو پر ځای

دورور د چرسو او د شنو بنګو دودونه څښمه



سیـندونـه هم مـري                    اســـــحـــــاق نـــګیـــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک د ډوډۍ پر سرلګيادی

نا مينځلی لاس ګولۍ تاووي

بل د ہوبل د خولې مړۍ شماري

بل پخلنځی د شنو نسوارو پر شنو لاړو ډک کړ

نور ددې کور دعا دتونو په ښيښه کې خپل مخ نه شم ليدای

ښاپېرۍ ببرته راشه !

ګلونو راشئ ،

زما تشه ځانګه بيا ډکه کړئ !

۱۳۷۲ / ۱۰ / ۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غر(۱)

منم چې وطن وران شو مګر وران نه شو داغر
آسمان يې په سر کېوت خو ستومان نه شو داغر
حاجت څه د بيړۍ شته دامې کلی دامې کور
خبر دې چېرته نو حه په توپان نه شو داغر
هر ګانۍ يې رهبر دی هر پرخه يې قيام
بې تورې بې شملې نه شو حيران نه شو داغر
وربړې دې اورونه پرې داغاړه دايې سر
سو زبړې خوله هوډه پښېمان نه شو داغر
قربان يې شم له ضده چې يې هېڅ نکړو بدل
هماسې چې افغان وبل افغان نه شو داغر

۱۳۷۲ / ۱۲ / ۳

لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رحمان

وچې خاورې نه بهر شو

هومره لوی شو لکه غر

هغه ړوند سترګې پیدا کړې

هغه ګونګ شو ژبور

په بې پوندو پښو ګرځي

داسپوږمۍ ده که دا لمر

لوبه ځمکه یې پیدا کړه

هسک په تله برابر

داشنې ونې دي که ځانګې

ورته ټولو ایښی سر

هر څه پر مخې پ‌ءاته دي یادوي نو د رحمان

تاته چاوې چې دروا غ دي نعمتونه د سبحان

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک يې جوړ کړله کودړي

ځوک يې پاځوه له اوره

څه خوږې، تروې اوبه دي

ځي بهېږي لورتر لوره

تکه شنه هره دانه ده

هره ونه يې سمسوره

لکه غرونه بېړۍ ګانې

په داشنه درياب کې ګوره

ځوک پيدا کړي ځوک فنا کړي

ځوک تر کوره ځوک تر ګوره

يا خو وباسي له سينده مرغلرې او مرجان

تاته چاوې چې درواغ دي نعمتونه د سبحان؟

***

وخت دتلې رانږدې دی

نه بقا شته نه مهلت شته

که پيری دی که انسان دی

نه يې زور نه يې همت شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې لوګيو سرې لمبې دي

نه آرام شته نه راحت شته

دا اسمان به چوې له وېرې

داسې غم داسې هيبت شته

له آسمان او ځمکې ووځه

که دې توان که دې طاقت شته

چې کرل دې اوس يې رېبه داده ورځ دامتحان

تاته چاوې چې درواغ دي نعمتونه د سبحان؟

دا شعر له سوره رحمان څخه په الهام ويل شوی دی.

۱۳۷۲ / ۱۲ / ۱۴

لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیند

پیرۍ یې تېرې شوې هوښیار نه شو

چا وې د کلي سیند مهار نه شو؟

زه به رسوا کړم بې ننګې د څپو

که جاله وان راته په قار نه شو.

۱۳۷۳/۱/۶

کابل – ماهیپر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کرونده

ځمکه هېڅکله د سينې د سر شين شوی نازولی زړی نه هېروي

زړی هم مور غواړي.

***

باد ددې غره له تالا شوي کلي راغی

زموږ د ښکلې کروندې په په سپينو تيو کې يې پې، وچې کړې

زړي له لوږې مړه شول

او زه تنها پاتې شوم

د کروندې پر وچو تيو د ماشومو شهيدانو سرې جنډې شنې شوې

کرونده بوره شوله

کرونده زړه پر شاپرته ده

د آسمان د مور پر سپينو نازولو بچو ناړې شيندي

کرونده بادونه داد خيرې لمن پور غواړي.

***

کرونده ژاړي راته چيغې وهي

زويه! فيره او ناکامه شومه

سبا به سره اورونه مړه وي

او د کلي دغه سوړ تنور به ژاړي

او له لوږې به مري

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړشه ! د بلې کروندې د سينې زړې شه او وغوړېږه

زه به دې هيله مور شم

چې هابزګره او نهره پښغله راشي راته وخاندي

او ووايي چې ای موري !

دادی نن بيا مړه شوم

وچه ډوډی مې بيا له لاړو سره تېره کړله.

***

تنور لګيادی رانه اور غواړي.

۱۵ /۲ ۱۳۷۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کچل

یو سړی نوم یې حسن د کونډې زوی و
د کچل په نوم مشهور پر کلي، کوی و
پیدا کړی رب تنبل او هم بېکار و
همېشه به دی د مور پر اوږو بار و
بوه ورځ یې ابۍ وبوسته له کوره
څه په چل، څه په تدبیر او څه په زوره
کچل لاړه له خپل ښار ځني بهر شو
تر هغو چې پر بوې دښتې برابر شو
خوار او ستړی بوې ونې ته دمه شو
چې له لرې بوتولی ورته ښکاره شو
یو هجوم و چې پرې راغې د مچانو
سره جګړه وه چې پرې جوړه شوه بارانو
کچل دم ساعت پر تولو بریالی شو
له غروره هسې مست لکه زمری شو
بیا یې ولیکل پر غتو تورو باندې
چې ویده و د هغې ونې د لاندې:
«شل مې مړه، سل مې زخمي، سل مې آزاد کړل
دښمنان مې پر بوه ګوزار برباد کړل»

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې بو لښکر چې د سطان و
پر همدې لاره په کوم مقصد روان و
دوی لیدل چې یو سړی دلته ویده دی
او تر پاسه یې یو لیک په رپېده دی
لیک یې ولوسته لښکر ورته حیران دی
وې یې دادی چې رښتینی قهرمان دی
لښکر وخو ځېد په منډو خپل سلطان ته
وې یې راشه شاها ! ګوره پهلوان ته
سل آزاد ، سل یې زخمي ، سل یې وژلي
اتلان نشته تر ده چې مو ر لیدلي
ددې شاه چې له بل شاه سره جګړه وه
دبري اومات وېره ورسره وه
پر لیدو ددغه ځوان هومره خوشحال شو
ته به واچې دبري یې شین نهال شو
حسن راغی ددربار دغاړې ګل شو
د عیشونو تود باران وربانډې ټل شو
بله ورځ هغه د جنګ چغه خپره شوه
اول ټولو نه حسن باندې ناره شوه
د جګړې کالي یې واغوستل کچل ته
اوس یې بیا یې دمېړانې تود مورچل ته



سیندونه هم مري اسحاق ننګیال.

وې یې زین کړه هغه آس چې دې خوښېږي

مېړني پر مېړنو آسو سپر ښېږي

خو کچل چې لا د خره سپرلي یې نه زده

د جګړو پر مېړنو آسو یې څه زده ؟

کچل هغه آس راخلاص کړ له رسۍ نه

چې بې زار وله ازله زندګۍ نه

هغه اس چې نه مردارو ، نه ژوندی و

پرې سپور شوی د سلطان دا میړنی وه

ټولو ووی په رښتیا چې قهرمان دی

پرهمدې اس د جګړې پر لور روان دی

کچل ووې اوس مې وترئ پر پړې

چې چار پېر مې شي تر آس د بدن غړې

د کچل خو داکارونه و له ډاره

چې ګوزار یې ته کړي آس په سمه لاره

خو پادشاه وې چې داکار دی دنرانو

نه ویرېږي په تش لاس له دښمنانو

کچل لاره د جګړې په لور روان شو

سر لښکری ګډ د رزم په میدان شو

چې یې ولید د دښمن دلښکر سیوری

هلته جوړ شو له کچل څنې کربوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی روان شـــو چـــې تـــرمــځـــې یـــې شـــوه ونـــــه
هـــغـــه ونـــه چـــې لـــه بـیـــخـــه وه چـیـــنـجـــنـــــه
بـــیا لـــه ویـــرې یـــې تـــرې غـــیـــږه کـــړه چـارپـیـره
ونـــــه ووتـــه لـــه خـــاورې نـــه تـــر زیـــــــره
پـــــر آس ســـــپور ، ونــــه پــــه لاســو کـــې کـــچـــل
ښـــکاریـــده هـــغـــو دښـــمـــنـــو تـــه اجــــل
دښـــمـــنانـــو چـې یـــې نـــوم و اوریـــدلـــی
خـــو پـــه ســـتـــرګـــــو یـــې هـرګز نه ولیدلی
وې تـــــړلـی پـر آس ســـپور پـــــر مـــــوږ روان دی
ونـــــه بـــاسـي پـه لاسـونـو داڅـــــه ځـــوان دی
مــــوږ نـــه یـــو پــــر ښـــتـــیـــا دده د زور
داســـې بـــریـــښـــي لـــکـــه تـــنـدر ، لـــکه اور
دښـــمـــنـــانـــو دجـــګـــړې لـــه لـوري شا کـــړه
فـــتـــحـــه داســـې رب پـــر بـــرخـــــه دپـــادشـــاه کـــړه
پـــادشـــاه وویـــل کـــچـــل تـــه پـــهـلـــوانـــه
مـــبـــارک شـــه لـــور مـــې درکـــړه درتـــه ځـوانـــه
بـــیـــا کـــچـــل ســـــره لـــه نـــاوې راغـــی کـورتـــه
شـــهـــزادګـــۍ یـــې کـــړه نـــو کـــره خـپـلـې مـورتـه
اوس مـــیـــــړه دمــــیـــــړنـــیـــــو حسـن خان دی
هـــم بـــاتـــــو ر دی، هـــم اتـــــل دی ، هـــم ښـه ځوان دی.

۱۳۷۳/۲/۱۹ کابل



سیـنـدونـه هـم مـــري اســـــحــــاق نـــــګیـــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله پویان ته !

# یورنګ ــ یوباد

زه ددردونو رسیدلې فصل

زه مې دځوانو ارمانونو شهید

زه مې دپیغلو سحرونو قاتل

زه مې دستړیو منزلونو شهید.

***

زه له خپل ځانه ستړی شوی سیوری

زه له خپل ځانه ستړی شوی شاعر

زه هغه هیر ، هغه نیمګړی غزل

هغه له ستر ګو غورځیدلی شاعر.

***

زه رالویدلی دموسکا له غرونو

او راکې مړدی هسی سکور یمه زه

زړه کې هنداره دسبا قتله ده

لکه حباب هسې یو کور یمه زه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

زه ددی تورو شپو کیږدی، ته ناست یم

مانه دورځو تاج محل هیر دی

زه دتیارو دډمو رنګ وهلی

مانه دسرو شونډو غزل هیر دی.

***

زه دابلیس ناوې په ښکار وړی یم

زه دبد رنګې دنیا اور کې سوځم

زما یې خوله دشپې پر تیو ایښې

زه دکمبختو ستورو کور کې سوځم.

***

زه ددې وریځو سمندر کې لاهو

او ته ساحل راته دلمر ښیې

زه دلو لیو شپو په غیږ کې ستړی

ته راته غیږه دسحر ښیې.

***

ما دزړو بګوو چیغې وژنې

رانه پیښې څه دبلبلو غواړې

زه دبلا ژامو کې شپې تیروم

ته رانه عزم دخندلو غواړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

زما يې چيغې پر زنځير تړلي
لکه فرهاد راته تيشې راکوي
رما يې شونډې په توبو ګنډلي
ته ګناه کار راته نشې راکوی.

***

ګوره زه مړ يم ته آيت د سبا
راځه راځه آشنا يه هير مې که
رنګ مې وانخلې له دې سوي درمند
باد يم راوړی په باد تبر مې که.

۲۸ / ۳ / ۱۳۷۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غر ( ۲ )

غر څومره ښکلی دی؟

دتیږو دارام سین

دموسکا

وینبو څپوکې ویده،

غر

ددې شګو په تېکریو کې

دلمر دسرو انګورو

دباران هادې.

***

غر څومره ښکلی دی !

دلارې دکاروان

دتږیو اوبنو

هر قدم کې

دشنو پر خو ګړی

غرمو دمینو کیسو

سمسوره ژبه

او دښکلو ښاپیریو

دکمڅو دسرو ګلونو

سیندونه هم مري

(c) ketabton.com: The Digital Library

دباغچو مالي.

غر دښارونو

او کوڅو

او دبامونو

له تورتمو زندانونو نه دوتبو

شنو بادونو

دسفر او آزادیو ډگر.

غر دهوسیو او بازانو

ددی سترِیو سترِیو منډو

او خوبونو

دغه ښکلی

زړه را ښکونکی انځور.

غر څومره ښکلی دی اشنا

دا څومره ښکلی دی غر !

۲۷ / ۵ / ۱۳۷۳

لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل او خنجر

یورون د سبا باد یم تکل شته خو وزر نشته
دا څنګه پسرلی دی ؟ سحر شته مازیګر نشته
ای شپې ! ته دې له ستورو نه داوړی پلو ډک کړه
زموږ د ورځو برخه کې خو ځا ځکی دلمر نشته
جنډی نه شوې دیرو کې هغه شنې د چلم وریځې
وطن مې د شملو دی خو یوه هم پر سر نشته
یو ګل چیرته کمځو کې لکه ستوری زرغون نه شو
منګولې پر نکریزو او منګې پر ګودر نشته
راشنه شوه پر ژبه د چا بیا میوندې کړیکه
شپیلۍ پر کړو بریتو ، یو غمې پر خنجر نشته
ننګیاله چې دې خوا کې نه « خزان » شته نه « ټکور » شته
والله چې په دې ښار کې غزل نشته ، هنر نشته .

۱۳ / ۶ / ۱۳۷۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کجاوې !

څوک دی ؟ د کوم ځای دی ؟ او چیرته درومي ؟

نه پوهېږم !

چې د سهار د شنو وږمو د شنې زېږ دا شیبه کې

د جامو غر په اوږو مات کړم

د شنه خوب د شنو اوبو په سین کې ولامبم او ستړی شمه

دی شي نږدې

سپینې جامې راځنې وتښتوي.

او دغنمو پر وریښمینې وخیږي او چیغې کړي چې:

ای لامبو زنه،

اې د باغ مرغیو !

مادرته سرې ، تورې جامې راوړي

راشئ دا سپینې او خیرنې جامې وغورځوئ !

څه شپه وروسته وروسته د دې کلي د مرغیو

او کبانو جامې نوې شي

سین تور شي

ونې تورې

کلی سور

او کلی تور غوندې شي

سیـندونـه هـم مـري                    اســــــحــــاق نــــګیــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا کجاوه پراوړو بار کړي

خدایزده چیر ته به ځي.

* * *

کله چې پاځم

هغه وینم چې روان دی

او ددښتو پر نوویو لارو منډې وهي

او کجاوه یې زما زما له تکو شنو خو بو ډکه ده

بیا دکوچیو دکاروان مخې ته تم شي

او هر خوب مې

موټی موټی پروریو او اوښانو ویشي

کجاوه بیا تشه شي

بیا درمو له مخې شنه وانبه راټول کړي

کجاوه له سره ډکه شي

موسکی شي

بیرته وخوځیږي

شپه شي ، تیاره شي

تورو وریځو سره یو ځای شي

باران شي

او له سترې کجاوې سره راوڅڅیږي

بیا دغنمو پر وریښمینو زلفو وخیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چیپې کړي چې:

جامې مو سرې

جامې مو تورې ،

او خوبونه مو ژیړ !

داسې یو زیرې راته وکړي

او روان شي

خدای زده چیرې به ځي؟

۱۸ / ۶ / ۱۳۷۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چوپټیا

زما دکور څراغ ماښام نه تر سبا سوځي

او له ماښامه تر سبا.

دخپلې ښکلې تنهایۍ له تورو زلفو سره مینه کوم

مایې دزړه پر دښتې کور کړلی

مادچوپټیا له سپینو تیو نه

دژوند دچینې غړپ کړی دی.

* * *

زما دکور څراغ ماښام نه تر سبا سوځي

خوبه مې خیال

لکه یتیمې مرغلرې

دغزل له یا قوتي شونډو راونه څڅېږي

نور به دسترګو له هنداړو نه دخیال

او دغزل شنه انځورونه ټول کړم

نور مې دخیال واګې چو پټیا ته ښنم.

۲۴ / ۶ / ۱۳۷۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعبدالقهار عاصي پر شهادت

يون منصوره ويرنه:

# زه هم د رځم !

موږه چې سترګې غوړولي
او موږ چې دادی سترګې غوړوو
دمينې کيسه مو نه ده زده
موږ مينه نه پيژنو
وينه پيژنو
وينه او مړينه زموږ بر خليک دی
وينه او مړينه زموږ تاريخ دی.

* * *



سيـنـدونـه هـم مـري اسـحـاق نـګيـال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږلا مينه نه ده ليدلې

مينه هغه کوچی باد دی چې پرغولي مو هيڅکله شين نه شو

موږ مينه نه پيژنو

زموږ نوم يې له وينې او مړينې سره تړلې دی

رښتيا ،

د « حسين » او « يزيد » کيسه دې زده ده؟

پيړې پيړې کبږي چې

د « يزيد » په لاس کې توره شته ده

يوه توره تُوره

يوه سره تُوره

هغه تُوره چې « حسين » پرې هره ورځ وژني

او د « حسين » پر مرۍ يې راکاږي

مګر تا د«حسين» مړينه ليدلې ده ؟

مګر دا « يزيد» نه دی چې هره ورځ مري؟

« مګر دا « حسين » نه دی چې هره ورځ زيږي؟ »

هو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور، مینه نه پیژنو

وینه پیژنو

وینه او مینه زمور بر خلیک دی

وینه او مرینه زمور تاریخ دی

ــ خو څرنګه برخلیک ؟

د « حسین » برخلیک !

خو څرنګه تاریخ؟

د « حسین » تاریخ !

رښتیا ،

زمونږ نوم یې د « حسین » دنامه سره تړلې دی.

ای تاته وایم !

مور دې په یاد یو ؟

زمور جنګړې دې په زړه دي؟

او کله دې زمور په جونګړو

هغه بې پیبرې لوګي نه دي هیر؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته چې خاوره يو ازې يوه ولويشت ده

نيم يې زندان دی

او نيمه يې هديره

هغه زموږ کلی دی

او هلته زموږ جونګړې شنې دي

هلته چې دنغريو پر سرونو

لوګي له لوږې مري

او اوبه له تندې جل وهي

هلته زموږ کلی دی

زه او ته هلته پيدا يو

زموږ دکلي لاره پرګلونونه

پراغزيو ده

پر دغو لارو زموږ پيلې او تناکې پيښې

پر لوټو

پر کاڼو لګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ لارې قاتلې دي

زموږ لاروي قاتلان دي

دغه سترې او قاتلې لارې

زموږ سترېو کاروانونو ته

اوبه نه

وينې ورکوي

زموږ د سترېو آرمانونو وينې

هو کې !

موږ مينه نه پيژنو

وينه پيژنو

وينه او مړينه زموږ برخليک دی

وينه او مړينه زموږ تاريخ دی

رښتيا ،

کله دې د سيندونو مړينه ليدلې ده ؟

ګوره ! سيندونه هم مري

او زموږ نوم يې

د سيندونو له نامه سره هم تړلې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

ای ! کله چې تپې یرېښتې

لکه دوینو څاڅکي

دانه دانه له آسمانه څاڅي

تا د اسمان د زړه چاودون شیبه لیدلې ده؟

ای ! کله چې وریځې

د سپوږمۍ د سپین کمیس تنې پرانیزي

تاد ستورو په ستر ګو کې

دوینو چغارې لیدلې دي؟

او کله چې ږلۍ

دغوټیو موسکی شوندې

پر غاښونو څیري

ته دونو او ګل بو ټو دویر جن غزل کاڼو

پرزړه ویشتلی یې؟

هو کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ مري

او ستوري هم مري

خو ته يې چيرې هديرو ته ناست يې؟

داتيارې دي چې هره ورځ مري

اودا

سپوږمۍ او ستوري دي چې

څو مري هو مره زيږي.

* * *

موږ چې را زيږيدلي يو

او موږ چې دادی ژوند کوو

له غزل سره زيږيدلي يو

او له شعر سره مو ژوند کړی دی

غزل مو ددوډۍ مالګه

او شعر مو دکور چت دی

زموږ ژوند شعر دی

يو تريخ ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو تا کله د غزل مړینه لیدلې ده؟

او کله د شعر مړینې ته ناست یې؟

مور مینه نه پیژنو

وینه پیژنو

وینه او مړینه زمونږ برخلیک دی

وینه او مړینه زمونږ تاریخ دی

رښتیا ،

زمونږ نوم یې د شعر له نامه سره تړلې دی.

* * *

پو هیږې؟

زه او ته له یوې ونې یو

ته لاړې

خو باور لرم چې زه هم درځم

څو دا شلیدلې ریښه یوه شي

باور لرم !

باورلرم !

۱۳۷۳ / ۷ / ۲۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مور ته مثنوي

بوسم؟ مـــوري د اغـر د غـمو چيرته

بـوســـم داهد يري پر اورږو چـپـرتـه

دی راتــه مـيـراث يو سور گريوان خونه

دی دايــو يـعـقـوب او يـو كنغـان خونه

يوسف هره لوېشت ثاه ده هره ثاه كـې

يـوسـف د هر كاروان د پښو درزاكـې

* * *

چرې مـورې پـه وينو كې خوتــېــږي

چــرې لـكـه باران پـر مـوږ وريــــږي

دا پـر ېو ( حسين ) ژړا خـــونــــه ده

دا يـــو ثـــو ورثـــې كـربلا خو نه ده

راغــې پـــه سـر راتـه بـادشاه شويزيد

زموږ د كلي شهـنـشا شـو يـريـــد.

* * *

مورې په زړه كې ېو پـرهـر خـونـه دی

مورې تـنـها قـتـل د لـمـر خـونـه دی

دلــتـه هـر ستوری او سپوږمۍ قتله ده

دلتـه هر گـل، هره غوټـۍ قـتـلــه ده

مورې لـوگـې شـو او سـوزېـږي وطـن



سيــندونـه هم مــري

اســـــحـــــاق نـــــگيـــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـورې په سـرو تورو قتـلـېږي وطن.

* * *

مـورې يو ويـر او يـو نـاكام خونه دی
دايو خوشحال او يو بهـرام خـونـه دی
دلـتـه يـوازې مـسيـحـا خـونـه دی
دلـتـه يـوازې يـهـودا خـونـه دی
دلـتـه هـركـانـی او انسان شو قابيل.
هر يو لـسـتـونـی هرګريوان شو قابيل

* * *

مورې يو غر دلـتـه آبـاد خـونـه دی
هغه پامير، هغه شـمـشـاد خـونـه دی
دلـتـه كـبـان دلـتـه سيندونه سوزي
دلـتـه لـه تـنـدې بـارانـونـه سـوزي
د بـاغ نـامـوس راتـه اغـزيو لوټ كـړ
پـت دكـېـږديـو مـې پرديو لـوټ كـړ.

* * *

مـورې شـمـلـې شـته خو سرونه نشته
ديـرې مـو شـتـه پـكـې كټونه نشت
چـلـمونه مات شول بـادونـه راغـلـل
چـنـارونـه مات شول هـغـه دكـلـې
ګودر مـوري زخمي دی موري وران دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ګـودر يـو جـل وهـلـي بـيـابـان

*   *   *

دي مــوری يــو غم او زړه چاودون خونه

دي مــوري دويــنــو يـــو جيحون خونه

موري دلـتـه هـر كـانبي كي جيحون دي

موري دلته په خپل كور كي بيلتون دي

ولګيد مــوري يــو تـنـدر دې پر كور

ولګيده سـتا پـــر سپيـخـلي لمن اور

*   *   *

ژاړوم مــوري زړګـــي دي راچي ويې

ژاړوم دا مـــات منګی دې را چی ويې

شومه زه دې د مــړې ونــې بـلـبـل نـه

مه سـويــوكـمـخو ته دي ګل نه شو

خواركه ستر ګو ته اوښكې خو پيالې

دعـادې نـه غـــوا ړم ښيرې خوراكه

١٩/٨/١٣٧٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زیری ( ۱ )

زړګـــیـه زیـــری زیـــری چـې وړمـــه دسبـــا راغـــلـــه
زمـــادتیـــارو کلـــي تـــه ډیـــوه دسبـــا راغـــلـــه
بـــاور مـــې کلـــه نـــه شـــو چـــې بـــه بیـا پیښنه راوکړي
دې قتلـــو پســرلیـــو کې غـــونـچـــه دسبـــا راغـــلـــه
حیـــران وم چـــې مـــاشـــوم غزل به کوم غوږ کې ویده کړم؟
کانـــه کانـــه مالـــت تـــه مـــې نـغـمـــه دسبـــا راغله
کلونه پس به بیـــا پـــر جـــل وهـلـــې دښـــتـــې ووري
لـــه سپینـــو پـــرخـــو ډکه لـــو پـــتـــه دسبا راغله
نه مړ نه یې ژوندی کړم دې مـغـــول یـــوازیـــتـــوب مـــې
ای وړیـــو حـجـرو زیـــری پـــښتـنـــه دسبـــا راغـــلـــه.

۱۳۷۳ / ۹ / ۲۵

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیمګړی غزل

ولـول زلفـې خـورې کـړ غـــوړوه رابـــانــدې شپـــې

لـــه تـــورو شپـــو دې جـــارشـــم وورووه رابـانــدې شپې

ړمنـــځ دې کړو کـــاکـــل کـــې آخـــر زړه راتـــه زخـمـــي

هـــر ځـــاځــکـــې يـــې شـــو ستـــورې ځځوه راباندې شپـــې

ما ستا دخيال يو سيورې کړ دشپـو لـــه سپـــوږمـــۍ پـــور

سپوږمۍ شه لکه خيـــال مـــې بـلـــوه رابـــانــدې شپـــې

هـــــر خـــوب مـــې وړې وړې دی هـــر خـــوب وهـلـی جل

کيږدۍ مـــې دليـــمـــو شـــه خـــوره رابـــانــدې شپـــې

ستـــا ستـــرګـــې پـښتنـــې دي زه يـــو ستـــړی مسا پـــر

دسترګو په حـــجـــرو کـــې تـــيـــروه رابـــانــدې شپـــې

بـــس دومـــره چـــې سپـــرلـــی شـــم او يو ګل شم دکمځو

خړوب مې پدې شپـــو کـــړه بـهـــوه رابـــانــدې شپـــې

ارمـــان مـــې دنيمـــګـــړي غـــزل هيـــڅ نـــه شـــو پـوره

په ليچـــو مې سر کيـــده زنـــګـــوه رابـــانــدې شپـــې

۲۷ / ۹ / ۱۳۷۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپیلۍ ( ۱ )

دغــــره پــــه ذهــــن کې خــوره شـــوه شپیلــــۍ
پــــــه ســـرو ممـــانـــو میلمنــه شـــوه شپیلۍ
دادکـــــــیـــږدۍ پـــلـــو خـــو واړوئ لـــښ
تــلــلــــې کــــوچـــۍ وه راستنــه شوه شپیلۍ
وري زلمي شول ، اوښـــې پیغلـــې شــــولــې
لکه خیږۍ په غـــرونـــو شنــــه شـــوه شپیلۍ
ستـــورو جـــامـــې داتـــڼ واغـــوستـــلـــې
دهســـــک ددښتــــو تـــرانـــه شـوه شپیلۍ
پښتني غرونــو پـــکـــې ســـاه پـــو کـــړې
څکـــــه درنـــه او پښتــــنــــه شـــوه شپیلـــۍ
راته یې ښکل کـــړلـــې غمبـــورې دخیـــال
بیا دغـــزل دکـــور ږیـــوه شـــوه شپیلــــــۍ.

۱۳۷۳ / ۹ / ۳۰

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زرتشت خوب

زرتشت تر ونې لاندې پروت دی

دسترېيا او خولو دا خونړې سيلاب يې باد ته ايښې

زرتشت بې خوبه ،

زرتشت جل وهلی

زرتشت له ډېرو مو دو پس دسترېو سترکو تورو څمڅو کې

دخوب له پرښتو سره تر غاړې وتی

زرتشت ويده دی

زرتشت جل وهلی.

* * *

زرتشت ويده دی

زرتشت جل وهلی

زرتشت دخوب دپرښتو دوربلونو دما ښام پر ځنګله نه مړېږي

زرتشت دښکلو پرښتو داننګيو په هنداروکې خوبونه ويني

زرتشت ويده دی

زرتشت جل وهلی

ای دځنګلونو

او دغرونو لويه خدايه !

نه پوهيږم هغه مار چيرته دی ؟

۱۸ / ۱۱ / ۱۳۷۳ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راته ونا څه هنداري !

نن مې اوښکې

دادسترګو له صدف نه څڅېدلې مرغلرې

زما د څېرې او بو وړې ګرېوانه خړې ډولۍ کې

لکه ناوې سرې منګولې د بڼو په ځنګله ايښې

د پښتون کو ناوکۍ ده

په خوله ژاړي

په زړه خاندي

نن مې اوښکه ناوې شوې

راته ونا څه هنداري !

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن مې کب د سرو ويرونو

دغمونو دويرجن سيند

دتورتمو ، ليونيو اوياغي څپو دزړه پټې کيږدۍ نه

دښکاري خندا دجال مزوکې کبوت

نن مې لوند ګريوان وچ شوی

خو يو څاڅکې پکې شين دی

ته به وايې دلمر کور دی

ته به وای دسپوږمۍ شپه ده

نن مې اوښکه ناوې شوې

راته ونا څه هنداري !

۱۳۷۳ / ۱۱ / ۲۷

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درځنې لاړم کليه !

څو مره ښايسته دي

زموږ دکلي چم کې

دادشنه سين په شنو اوبو کې

دکبانو بڅي.

څومره ښايسته دي دې ويالو کې

دهيليو دغه سپينې لونې

ددوې نازکې چغې.

* * *

څومره ښايسته دي

زموږ دکلي

دسپيدارو تر ټيکربو

غرمني خوبونه

او مازيګر په شنو چينو کې

دکرۍ ورځې ستړياوو مينځل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

څومره ښايسته دي

زموږ د کلي په چيلو کې

دانګورو ښيښې

او د ګيلا سو دوړو وړو نيالګيو

ګڼې ، ګڼې شنګلې

چې سرې مرۍ يې دي

زموږه د باغو

د ښاپيريو ياقوتي غوږوالۍ.

* * *

څومره ښايسته دي

زموږ د کلي

د غوزانو هسکې ، هسکې ونې

او د ښاخونو په هر رګ کې يې

د مست زړګي دوينو لپې

چې ترې غريبې پيغلې اخلي

خپلو شونډو ته

د حسن خدايي رنګونه.



سيندونه هم مري اسحاق ننګيال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

ځومره ښايسته دی

دې ګودر کې

زموږ د پيغلو د شينکيو منګو ټيو

د چاودون

او ماتيدلو اواز.

څومره ښايست ده

دا زموږ د لوګرو

دا هار ديره.

زه درنه ځم

د خدای پا مان

درځنې لاړم کليه !

ما دې د حسن په مالت کې

د دې وخت د سوداګرو

وينې څښونکې سترګې چيرته پريږدي ؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دروغ

ډيرو ډيرو ښکلو مې

پردښتې د سينې ، د تورو زلفو شپې زرغونې کړې

ډيره داورينو اننګيو دلمبو د سيند څپو کې

زما د شونډو بيړۍ تاوه شوه راتاوه شوه

شپه د تورو زلفو

او وړمه دااننګو شوم

خو داګل

او دا شاعر شاعر زړګې د چا نه شو

ډبرې مودې وشوې چې مې زړه

د ستا دزلفو په ځنګله کې

د ماښام د شپو ستورې دی

زه د هيچا نه شومه

يوازې ايکې ستا شومه

تا هم راته دروغ ووې دروغجنې،

درواغجنې !

درواغجنې !

هغه ګل، هغه شاعر زړګی مې بېرته را !

۱۳۷۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزلبولې

مايې په سترګو کې کــــــېږدی وهـــلې

خدايه !ګرادب کې مې بيـــــرې وهـــلې

چې يې په شپو کې خپل غرهم شي تـرې ورک

هغو کمځو کې مې غـــــوټـې وهـــلې

داچې يې نن لاره کې سم شيـــــن شـــومه

نيمو شپېو کې مـــــې پـــيرې وهـــلې

دادباران څه زړه چاودون خـــــونـــــه و

ما يې پر بام باندې سلـــــګۍ وهـــلې

ترې غزلبولې چغې همــــــــــنه اوري

بيا يې پر ټپ راته پــــــتې وهـــلې.



سيـندونـه هم مـري اســـــحـــاق نـــګيــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیند ته غزل

رژیږي پانې پانې تش ګریوان شولې ای سېـــــنده !
یو ښاروې دهندارو ولې وران شولې ای سیـــــنده !

یوه مسته نغمه نه شوې په وراکې دکبــــانـــو
نه دې سپینو هیلیو ته جانان شولې ای ســــینده !

پرون خو دشیبو دناوې پیغله ښکـــــلا تـــه وې
خو نن یې لکه زلفې پریشان شولې ای سینــــده !

سپین ږیری جاله وان دکلي نشته مودې وشــــوې
دا اوس ولې په سترګو کې حیران شولې ای سنده !

آشنا ګوره چې بیا دې دڅپو زمري ګونــــګې دي
آرامه غلو وهلې یو کاروان شولې ای سیـــــنده !

یو لور وې دشنو ولو خو اوس ښکاري چې په خپله
کبږدیو غوندې ونه دبیا بان شولې ای ســـینده !

۱۳۷۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

دغره تر غاړی ناست یم شپه سپوږمۍ سره کومه
خبرې دې جانانه ! له شپېلۍ سره کومه
ستا سترګې خو کوچۍ شولې ایلبند په ایلبند ګرځي
اوس جنګ د هغو سترګو له هوسۍ سره کومه
نازونه خو تا کول پر ما بانډې زوال شول
د خال پر ځای دې مینه تر وږمۍ سره کومه
ماخوب درځني وړی دی خپه چې نه شې ستورو !
ګیلې یې لکه وربځې له سیلۍ سره کومه
یو غر دې او ځو کاڼې یو شنه کبله نشته
باران شوم ژړا ګانې له کېږدۍ سره کومه.

۲ / ۱ / ۱۳۷۴

لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپیلۍ ( ۲ )

شپیلۍ د پرخو پرخو شونډو په غرمو اوري
شپیلۍ د سترې شپنې لارې ته کېږدۍ وهلې
شپیلۍ په للمو للمو غرو اوري.

* * *

شپونکیه ! ماته دې شپیلۍ مه شه
د جل موسم دی،
د جل شپې دي،
او دوریځو اوښې بیا شنډې دي
راته یو ځاځکی د باران خوشه !
باران پښتون شو
د خپل کور پر بامو نه وریږي
باران ورغلی په پردیو اوري.

* * *

شپیلۍ پر للمو للمو غرو اوري
شپیلۍ د سترې شپنۍ لارې ته کېږدۍ وهلې
شپیلۍ د پرخو پرخو شونډو په غرمو اوري.
۸ / ۱ / ۱۳۷۴
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غوښتنه

ما دې دتن سپینې ښیښې نه هغه سره شراب لا نه دي څښلي
مادې یوازې دوه غوټې، دانګو ښکل کړې
خمار دې کړمه خو نشه دې نه کړم
دبیسدی، هغه شیبه دې نه کړم
تندې اخیستې یم
شراب قطره قطره خو راکړه
دمر غلینو ښیښو منځ کې
دخوږې ګناه کاله ته
اجازه خوراکړه !
۱۳۷۴ / ۱ / ۱۴
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوینو غزل

مــــا دې اوړدې لارې څارلې خو اشنا مه راځــه
قــدر دې نشته پسرلېه پر دې خوا مه راځـــه

مــوړه د شپې د تیو روړدي یو سبا څــه کـــوو
وړانګې دې ټولې کړه ورځه دلته سبا مــه راځه

مــوړ د مرګي غشي پر زړه هرما زیګر خوړلـــي
د نـــظر غشیـه پر دې سوې کربلا مـــه راځـــه

دلتـــه سارا د دیدن قتله ده ،هرکانې قـــتـــل
دلتـــه یو پل د مجنون نشته دی لیلا مه راځـــه

دویـــر په چم کې خنداګانې اوریدی کله شـــم؟
یـــو اسویلې شه راته ډکه له خندا مه راځــــه

د ذهـــن وران یو کور مې شته پکې دوینو غزل
دې بې قدرۍ کې د ښایست غـزلې بیا مه راځه

۱۵ / ۱ / ۱۳۷۴
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غر ( ۳ )

غر مې دزړه پر هره پاڼه لکه ګل شين دی
غره مې دزړه سمسورې دښتې کې کيږدۍ وهلې
لکه دستا چې کشماليو کې کا کل شين دی.

* * *

زړه مې کوچی دی
وينه مينه پکې غره کرلي
کوچی بوډا شو ،
کوچی مري ،
خو لا دغره په مينه موړ نه شو
کوچی دغره په شګو ناست دی
دغره کاڼو ته لمو نظونه کوي
کوچی چنار دی پاس دغره په تور وربل شين دی
غر مې دزړه پر وطن ټول لکه کابل شين دی.

۲۵ / ۱ / ۱۳۷۴
لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غر ( ۴ )

ماته دغره له لاسو بوی راځي

میرېږ ویدېږ دي ما ړوند سفر په خوب کې وینې.

* * *

هلته په غر دشنه سپرلي دد سترخوان پر سر لګیا وي

دباران په ړنو څاڅکو به لاسونه مینځي

غره به دڅانګو پر وریښمینو تیو خوله ایښې وي

اوګلورینې پیی به څاڅي څاڅکي څاڅکي له ګریوانه دغره

هلته به سپین سحر ساقي وي

دغوټیو کنډ و لیو کې به وېشي دوړمو شراب دغره پر جل وهلو کاڼو
هلته به سیورو دڅېر یو ته شپونکی آشنا شپیلۍ غږوي.

ماته دغره دلاسو بوی راځي

میرېږ ویدېږ دي زما ړوند سفر په خوب کې وینې.

۸ / ۳ / ۱۳۷۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آس ( ۲ )

آس لکه بوت هسې حیران ولاړ دی

نور یې له پوندو نه ګردونه دزلمو پر څټو نه وریږي

آس لکه مست ښامار ،
دغاړې هسک بیرغ پر خپلو شَلو او خوب وړو اوږو نه شي وړلی.

* * *

آس لکه بوت هسې حیران ولاړ دی

نور یې دتورو غزلونه دګامونو تندرونوکې زرغون نه شول

نور یې دلوړو غرو له څوکو نه رانه وړلې دشنو شنو توپانونو کیسې

دا آس بې تورې ،

بې جنډې

څومره بد رنګ ښکاري !
۱۰ / ۴ / ۱۳۷۴
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوب

پریږده یوه بله پیاله هم په سر واړومه

* * *

بیګاه مې خوب لیدلی

له سرو ګلابو پرښتو راته جامې اُودلي

ستوري مې زانګې دګریوان په لیکو

دلاسو غل مې رانه ورک دی

ستا دزلفو تو رو شپو نه راته شپې راوړي

او دغنمو نارنجي فصل کري راته په سترګو کې

دوړو نارنجي خوبونه.

* * *

پریږده یوه بله پیاله هم په سروا ړومه.

□ / ۴ / ۱۳۷۴ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غر ( ۵ )

غر ،

سیند ،

څیړی:

زه له همدغو جوړیم

غر مې هډوکي

سيد مې وینه

او هر رګ مې دڅیړیو څانګه

زمايې نوم دغره او سیند اود څیړیو په لاسو لیکلی.

***

غر دڅیړیو شنه شمله په سر دکلي پر دیرو خوردی

دخدای له شنه تخته پرېووري لکه سپین باران

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپیغلو پیغلو ستورو خورې

سیند یې تر غیږې لاندې ناخې

او ځپې ځپې تیونه یې اوبه اوبه شول.

* * *

سیند ،

څیړې:

زه له همدغو جوړ یم

مور مې دغره دسرو لمرو نو دتو پان هغه زړه ابۍ ده

چې دغرمو سپرغۍ سپرغۍ امیل پر غاړه

تږوله ورځ

دلمر په سرو وړانګو ډوډۍ پخوي

پلار مې دغره هغه ګربت دی

چې تر سیورو دوزرونو یې

دوریځو دکاروان دتو پاني اوښانو پل وچ دی.

• * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

غر ،

سیند ،

ځیرۍ:

زه له همدغه جوړېم

چې دګناه او ګناهونو میندې لنګې شي

له خولې دجبرئیل نه دغضب ځګونه لارې وکړي

نوح مې دغره پر سر کیږدۍ غوړوي

زموږ غرونه توپان نه پیژني

دآزادۍ او عشق نومونه ملا یکو ته زما دغرو شملو ښوولي.

***

مور مې دسیند څپو ته ناسته ده

پلار مې ګوربت دی

راته بو لي دځیرېو دشنو ځانګو

او دلوړو لوړو غرونو دشملو سرود.

۲۰ / ۴ / ۱۳۷۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داکښتونه ــ دابادونه

داتر څو پر کلي سور باران داوښکو ؟

داتر څو دتورو وريځو چپاوونه؟

داتر څو قتل دلمر ، قتل دسيرو ؟

داتر څو زما کښتونه ،ستا اسونه ؟

***

دا تر څو زګيروي دباغ ، دسپوږمۍ چيغې ؟

داترڅو دشپو په مو ټو کې قمچينې؟

داتر څو دبې حيا پردي پر تورو

راته وژنې پښتنې پښتنې مينې ؟

* * *

داتر څو دمينې تور سفر ته لارې؟

داتر څو نيزې دباد ، کمځې دګلو ؟

داتر څو په دې حجرو ير غل دواورو ؟

داتر څو تبر په غاړه کې دولو ؟

* * *

داتر څو دا خوارې ځمکې ، خوارې سپارې ؟

داتر څو دغه نهر نهر فصلونه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

داتر څو زخمي ورغوي دلوګرو ؟

داتر څو يې له تنها کو نه باجونه؟

* * *

داتر څو دريا سپين څادر پرولو ؟

داتر څو په رنها ورځو کې لمونځونه؟

داتر څو تسبې په بنګو کې بړلې؟

داتر څو په تورو شپو کې ګناهونه؟

* * *

داتر څو مې بې پتې د سرو غو ټيو ؟

دا تر څو دستا اغزي زما باغونه؟

دا تر څو په دې پردي پردي ټوپکو

قتلوي دازما خويندې ، زماورونه؟

* * *

داتر وطن زموږ واک دپرديو ؟

داتر څو وطن زموږ حکم دنورو ؟

داتر زموږ دباغ پيغلې بلبلې

ګډوي راته حجرو کې دسرو زرو ؟

* * *

داتر څو به نه آذان نه جوماتونه؟

داتر څوبه نه ساقي نه يې جامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داتر څو دابليس سره لمبه په لاس کې

راته سيزي کله کور کله ښارونه؟

* * *

داتر څو دورور په وينو کې منګولې؟

داتر څو دمو ر په سترګو کې کوکارې؟

داتر څو مې دوطن آبۍ شهيده؟

داتر څو مې دولس دالارې لارې؟

* * *

ما ويل چې که ها سيو رې دلته وشي

زه به بيا لکه انګور بيرته زلمی شم

ما ويل چې که ها لمر بيرته ژوندی شو

زه به ټول لکه ماښو ورنه لوګی شم.

* * *

ماويل چې که دا شپه چيرته سبا شوه

بيا به نه زيږي بګوې له تيارونه

ماويل چې دآسمان شمله به وچوي

ددې ښکلو ښکلو ستورو له غونچو نه.

* * *

ما ويل چې يوځلي که سپرلې شو

بيا به جوړ شي پر کمڅو دګلو غرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماویلې که یوه شپه شوه وینه

بیا به زیږي له لښتیو نه سیندونه.

* * *

خومې کښت دې لیونو آسونو لوټ کړ

دلورونو غاړې یو وړلې زنګونو

دکوچیو دکاروان مخې ته تم دي

دا آسمان آسمان اغزي زما دغرونو .

۱۳۷۴ / ۴ / ۳۱

لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

موسم وه د جل ، رانه باران شولې ورېمې !
خادر مې شوې ، تنې مې د ګريوان شولې ورېمې !
دا زه وم چې مغرب ومه د ښکلو سجدو
داته يې چې سجدو ته مې يزدان شولې ورېمې !
دا زه هغه زه نه يم ټول تصوير يم ستا د مخ
زه سيوری ستا د سترګو ، ته مې ځان شولې ورېمې !
يوه شمعه مې بس وه د تياره کاله د شپو
تيارو ته مې د کلي چراغان شولې ورېمې !
تالو کې ژبه وچه د غزل مې وه پرون
نن ټول شومه غزل چې مې جانان شولې ورېمې !

۵ / ۵ / ۱۳۷۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اورنی پر درمندونو

دلته مه راځه آشنا پر کلي جنګ دی
هر مالت او هر ګودر په وینو رنګ دی
دلته ښکلي کمڅی سپورې دي باغ نشته
دلته میشت د تیارو زور دی څراغ نشته
دلته شنه دي لور تر لوري توپانونه
دلته مړه دي په نغریو کې اورونه
دلته ځاله د ګوربتو په اورسوې
دلته زیړي له زمریو نه بګوې
دلته شرنګ نشته مړوند کې د بنګړیو
دلته پل کلي کې ورک دی د سړیو
دلته مري له ډیرې لوږې تنورونه
دلته اور اخلي له تندې نه سیندونه
د پردیسو ګاولي نشته په دیرو کې
د رباب ستونې وچ شوی دی حجرو کې
دلته ټیټې د پښتون لوړې شملې دي
سپکې شوي مو د میندو لو پټې دي
هر قدم کې پایکوبې ده د دیوانو
هره لویشته کې کورګی دی د پیریانو



سیندونه هم مري اسحاق ننګیال.

لمريې وواژه د شپو دلته يرغل دی
قتل شوی مې په شوندو کې غزل دی

تاووي راته پر ژبو زنځيرونه
سروي راته ککرو کې اورونه

د رښتيا لوريې چې ويښه کړه تربور شو
چې د حق ناره يې جګه کړه منصور شو

چې يې «نان» ته «ډوډۍ» وويلې فاشيست شو
چې يې ږيره پر مخ نه وه کمونيست شو

يو خنجر دی څو چړې دي څو لاسونه
راته ريبي د وطن د مور ګونه

رالويدلې د نيکه د سر پګړۍ ده
خواره شوې د زړې ابۍ کېږدۍ ده

يو «اکبر» بيا د دې غرونو بچی نه شو
يو «ايوب» د ميوندونو سړی نه شو

فرهاد شته دی ، تيشه شته خو غږ يې نشته
پښتانه هسې ژوندي دي زور يې نشته

داچې نن د خونړي کاروان رهبر دی
داو بو د ژيو هغه سوداګر دی

د زرتشت اوريې شهيد کړ سيلاب راغی
اورنې پر درمندونو درياب راغی.

۲۲ / ۵ / ۱۳۷۴ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زیږدا

هغه ګړۍ خدای دجنت د ښکلو حورو

دلمبو پانږو کې

دښکلا ګلو ته په لپو ورکولې اوبه

چې ته راوزیږیدې

او ته دخدای دباغیچو دسرو ګلونو

هغه شنه «وږمه» شوې.

۱۳۷۴ / ۷ / ۶

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زیری ( ۲ )

زما په سترګو کې يې سين فصل دوير کرلی

دلمر زخمي زخمي کوترو ته

يو زيری دباران خو مې شه !

کو چيان په سره وچکالۍ راغلل

دی وړو وړو وريو ته داوښکو دستر خوان خو مې شه !

۹ / ۷ / ۱۳۷۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې ننبې

پوهيږم نه،

له کومه ځايه يې پر ما باندې پيښنه کړې ؟

دلته يې سيورى هم د ځمکې په سر خونه دی

په سپينه تنده کې يې ننبه د تبر نشته

د زلفو باغ نه يې د ښار د بازاري گلونو بوی نه خيږي

نه يې خو ښکلو اننگو کې د شنو کليو د تاودو بادونو مچه ښکاري

پو هيږم نه،

له کومه ځايه يې پر ما باندې را پيښنه کړې ؟

دا سې حيا د پريښت سترگو کې هم نشته

دا سترگې نه دي

د حيا چينې دي.

۱۳۷۴ / ۷ / ۲۶

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غر ( ۶ )

دباد له څپو مې دغره د هغه شنه ځنګله سلام راځي

باد مې دغره دسپينو کاڼو په هنداروکې دخپل زلميتوب خوب ليدلی

بادمې دکلي دتيارو شپو تورو زلفو ته دغره درڼو ستورو کجاوې راوړي.

* * *

که چيرې نه وای غره !

زما په سترګوکې نو ځالې دګربتو ځائيدلې کله ؟

ما به دلمر تڼپي توزنو ته دپاڼو پر ورنونو طلائي خوبونه چيرې پلټل؟

اوته که نه وای غره !

مادخپلې هسکې غاړې دغه دنګ آس ځغلولو چيرې؟

۱۳۷۴ / ۷ / ۲۲

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوب ته سرود

خوبه !ځادر راباند وغوړوه

نور مې ویده کړه چې وینښتیا وو ستړی کړی یمه

نور مې ویدهکړه چې له وینښې نه مې کرکه راځي

زه چې ویده یم

خوبه !ځادر راباندې وغوړوه !

خوبه قربان دې شم

نور ماته ددې ورځو دابر بنډې پیغلې مه را ښیه

زه یې دسترګو په هندارو کې

داور اودسکروټو او لمبو ازانګې نه شم لیدای

خوبه !ما بو ځه بیا دهغو تورو شپو غیږې ته

زه خپله لاره بې له شپو په رڼو ورځو کې موندلای نه شم

ورځ مې دسترګو په هندارو کې اورونه کري

خوبه ویده مې کړه

ځادر راباندې وغوړوه !.

۱۳۷۴ / ۷ / ۳۰

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تش صدف

خانګه مې وچه ده غوټۍ نه لري
هغه کوچۍ یم چې کېږدۍ نه لري
هغه صدف یم چې ترې لوټ شو سیپۍ
زه هغه شپه یم چې سپوږمۍ نه لري

۱۴ / ۸ / ۱۳۷۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد رشاد ته دهغه دڅلور اویا یمې کلیزې په مناسبت

# جام جم

مشوانی یې رانه یووړه قلم نشته
بت پرست یم خو مې ښکلی صنم نشته

یوځې ته ئې دامنې ؟ چې ټول وطن کې
بې له څوتنو نه زوی دآدم نشته

ستا درنې پګړې ته څه وکړم حیران یم
دې مالت کې بې له ځوزو شرشم نشته

نن دې نوم ځکه په خوله اخیستې نه شم
ما مینځله خو جانانه زمزم نشته

زه دې سترګو کې هر رګ دجهان وینم
څومره دروغ دي دا چې بل جام جم نشته

۱۷ / ۸ / ۱۳۷۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له خوشحاله تر ننګیاله

مـــالـــي راشـــه اغـــزو دزړه پـــر ګل وهـلـــــی یـــم
« سقاو » پــــر زړې ټــــورې د « مغــل » وهـــلـــی یـــم
رقـــیـــب بـــه مـــې دزړه لـــه ویـــنـــو تـــشـــه « ژی » کـړې ده که
خوسر مـې دایـــل نـــه دی کـــه یـــې ســـل وهـــلـــی یـــم
یـــو ګل څـــه پـــه کـــمـــڅـــو کې دپښتو دناوې نـــه یـــم
نـــــاره د « انـــالـــحـــق » یـــې پـــه کاکل وهـــلـــی یـــم
حیـــــران یـــم د « اکـبـــر » پـر مـړې بیا څه پسات شوی
پـــردیـــو مـې دخـــپـــل کـــور پـــه درشـــل وهـــلـــی یـــم
تقدیر به موږ داسی له خوشـــحـــالـــه تر نـــنـــګیـــالـــه
همـــدا چـــې کلـــه غیـــرو ، کلـــه خپـــل وهـــلی یـــم.

۱۳۷۴ / ۱۰ / ۷

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (( یا سیر )) نه مري

« یاسیر» روان دی د ایمان بیرغ په لاس کې

د خپل ژوند د وروستني ټکي شهید په خپلو وینو مینځي

« یاسیر » له سره زیږي

« یاسیر » په زړه د انالحق فصل کرلی

اهریمن د تو پانونو پری څپیړې او تندر پرې سپرغۍ وروي

فصل مرګ نه پیژني

« یاسیر » د شنه فصل دوړو پرورینښمینو کمڅو سوری کړی.

* * *

« یاسیر » دلر له کلي ځي دزنداني ستورو خلاصون ته

توری وریځې د شهید زړه په سرو وینو ولي

« یاسیر » د ښکلې ځوانیمرګې سپوږمۍ غوږ کې د مسیح دژبې دم درغید لو ولوست

« یاسیر » د خپلو نارو ونه ددې شپو په آسماني دښتو کې کښینوله.

« یاسیر » روان دی د سفر دلارې غرونه ، ځنګلونه ریبي

« یاسیر » دیوانو ته بلنه دجګړې ورکړي

« یاسیر » لګیا دی د منزل مزې په پښو کې دیاران شیندي

او ورته ښیي د فلاح سرود.

« یاسیر» د خدای ( ج ) د پاکې مینې دآسمان ستوری

« یاسیر » د « قاف » د غره د څوکو د ښایسته ښکلو مریانو غزل.       ۱۳۶۴ ۱۲/۳       کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دچغو تصویر

زما دچیغو شین تصویر دې مات کړ
زما نصیب زما تقدیر دې مات کـــړ
هغه ریبار خوب مې اوس هم نه راځي
څه د دیدن ښکلی زنځیر دې مات کړ
راته په برندو سترګو ګوره خو مـــه
زما دزړه دکوټې تیر دې مات کـــړ
شپه شهزاده وه ، کیسې وې دعشق
دغه دټول عمر شوګیر دې مات کـــړ
چې یې راوستې زلزلې پر وطــــن
ګرانې کچکول دکوم فقیر دې مات کړ

۱۳۷۴ / ۱۲ / ۱۶

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غر ( ۷ )

دغره پر کلي مې د سرو ګلونو سيند راغی

زما دغره په وينو سرې تيرې ډولۍ شوې

د سپرلي ناوې ته

غرمې دوينو او ګلونو دغه سرې سرې پګړۍ دواړه تړي.

* * *

دويځو اوښې مې دغره په تورو څڼو

هر سهار څري

غرمې شپونکی دی

دشنو پاڼو په شنو لوښو کې دتورو شپو له تيو څڅې ستوري لوشي

غرمې رمو سره نارې د سرو لمرونو کوي

غر مې دوينو تار په لاس کې

له غوټيو نه جامې جوړوي.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

غر مې ځيرې ځيرې راخور دی

پر تپې ګو ربتو سيوری کوي

غرمې لاسونو دزخمي زخمي ګور بتو کې

له شپو سره جګړې ته

درنو ستورو لورونه کړي

زما دغره ګربت دزړه درنو وينو دياقوتو له ديرې نه راته باد دآزادی وروي

زما دغره نوم

د سرو وينو

او دګل

او آزاديو نوم دی

غرمې دوينو او ګلونو دغه سرې سرې پګړی دواړه تړي.

۲۳ / ۱۲ / ۱۳۷۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوب په آینه کې

لمر شو د شنو پرخو ښیښېیې راته ماتې کړلې
څه د ګلپیغلو لو پتې یېرا ته ماتــې کــړلــې
ګوره ګو زار مې د پښتون آشنا څه سم ولګید
زولنې پاتې شولې پښې یې راته ماتې کړلې
زما د زړه خمُ یې که تش کړ ، تشوي دې خیر دی
څو مره ظالمه ده پیالې یې راته ماتې کړلــــې
مایې د سترګو آیینې کې ویو خوب لــیدلــی
دې مې کور وسو آیینې راته ماتې کـــــړلې
داسې سجدې چې وایی ړوند خونه یې مـــلا
چیرته سجدې وکړم کعبې یې راته ماتې کړلې.

۱۳۷۵ / ۱ / ۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذبیح الله انیل ته:

# له ابلیس سره

کلونه وشول چې مې روح

دخدای دمینې دغوټیو په شینکې ځولۍ نه ځائیږي

ما دابلیس اشنا دښکلو ستګو پاڼو کې

دحسن او مینې غوړولی ځادر

خدای رانه کرکه لري

مګر شلعر ابلیس مې سترګو

او دشونډو چاودو دښتو کې لګیا دی

راته زړې دغزل کري

ځوک مې دښکلې شاعرۍ په قدر نه پو هیږي.

• * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې شپه شي

دخوږې ګناه دپيغلې دسرو شونډو جام په سر واړوم

ابليس دحورو دسرو شونډو له سرو پاڼو

کليمې پټې کړي

او دغزل لونګين خور کړي زما دشونډو پر شاعرو پاڼو

کله دې خوب کې د «حوا» دچمبو غږ ليدلی ؟

چې يې غزل ته «آدم» مست شي ان له شپې نه تر سبا پورې

هغه چمبه ، هغه غزل زه يم

نو ته چې ځې را پسې ژاړې ولې؟

لکه ابليس درسره مل يمه زه .

۱۳۷۵/۱/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

داستاد روهي په مړينه :

# هغه غر ، هغه سيوری

ډک جـــام مـــې لــه منـــګلو دجـــانـــان ونـــړيـــده
يـــو ستـــوری لـــه لمنـــې دآسمـــان ونـــړيـــده
داشپــې بـــه دکيســـو دزمانـــې راتـــه څـــوک راوړي
ای عشقـــه چـــې ربـــاب دادم خـــان ونـــړيـــده
يو شين قامت چې ړنګ دی او يو شين سيوری چـې نشتـــه
يو ګټ مـې لـه دې غـــره نـــه دافـــغـــان ونـــړيـــده
حيـــران يـــم دغـــزل شبـــنـــم بـــه خدايه چيرته تم شي
زموږ چـې دشعـــرونـــو ســـا يـــبـــان ونـــړيـــده
ځـــولـــۍ بـــه څنـــګه ړنـــګه دپښتـــو دابـــۍ نـــه وي
يو غـــرغـــونـــدې روهـــي دروهستـــان ونـــړيـــده.

د ۱۳۷۵ کال غبرګولی.



سيـنـدونـه هم مــري اســـحـــاق نـــګيـــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویر ، مینه

هلته پر مړو ژاړي
خو زه او ته لکه جوړه بتکې
دغیږو غیږو څپو غرونو کې بر بنډ نا څو.

* * *

هلته پر مړو ژاړي
هلته دوچې کر بلا دتیږو ښار کې
د سرو وینو نا لیدلې سرې غوټۍ ښکلوي
خو زه دکب په شانې
ستا دمچکو سمندر کې لامبم
ته لکه سره انګور په وینو لنده
زما دلاسو دونې څانګو کې ټالونه وهې
موږ نه « یزید » او نه « حسین » لیدلی.

کابل
دعاشورا ورځ
۱۳۷۵ / ۳ / ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیر محمد کاروان ته:

# مینه او ژوند

یوه زړه ونه خوره ده پرې
تر سیوري یې یو ځوان ناست دی
یوه د سپینکۍ پیشو یې غیږ کې ویده
او دورځېانې په هر توري کې یې سترې ستګې.
شونډې چلم ته ور نږدې کړي
ورنه واخلي دلو ګیو امیل
ورو ورو په شونډو کې موسکۍ شي
د پیشو په غوږ کې نارې کړي او وو ایي چې:
پیشو تا مینه کړې؟
مینه د چرسو یوه شنه نشه ده
مینه ورځېانه ده
په ژوند کې یې یو ټکې د رښتیا نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو ! پوهیږې چې ژوندون څه دی؟

ژوند دشنو چرسو دوربینمینې نشې شین واټ دی

چې دآرمان آس پکې وځغلي

او ستړی شي

او مري پکې

او دکو څو سپو ته یې تشه شانکیسه پاتې شي

پیشو تا مینه کړې !

پیشو ! ژوندون څه دی؟

□ / ۳ / ۱۳۷۵

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوچې په باران کې

ستورو د شپې پرتیو خوله ایښې آرام ویده دي

د شپې ماښې نه سپوږمۍ پیغله زلمو ونو ته نه راګوري

نري باران ووري

او د بادونو هوسۍ

دځواني دښتې دتیونو پرګلو نو څري

هلته یو ستړی کوچی

دپټاسو دستمال په لاس کې دباران دطلائي مچو

له شنې وراتیږي

په لاره ځي ، ځان سره وائي کوچی:

نري باران دی

له کېږدیو نه دسپو دوینښې غږ نه راځي

درخو به خوب وړې وي

درخو به څوک وینښه کړي ؟

ستورو درواغ وویل.

۱۳۷۵ / ۳ / ۲۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کله چې لمر ګل وکړي

کله چې تال دشپې را وشلیږي

دسترګو په هندارو کې دلمر کوترې ځالې وکړي

کوترې سپین وزرونه پرانیزي

دخوب دشنو ځنګلونو ماتو څانګو نه دانې ټولې کړي.

کله چې مخ دسهار ګل شي

او دشاتو مچې ټولې شي پرې.

کله چې کاڼې دښونځیو دتبیو تندې ښکل کړي

او ما شومه نجلۍ

له تور کمیس او سپین سالو سره په لاره کې خوره وره شي

لکه دوریځو او سپوږمۍ دودیدلو شیبه.

کله چې ووړ ما شوم دتورې تختې مخ باندې

دسپین تباشیر خال کیږدي

او شیبه وروسته ماشوم وړۍ شي

دوور جزدان له واښکونه دړیو مهار لرې کړي

دوچې ډوډۍ ښکار وکړي

راشئ مین شئ پرې

او مینه وکړئ

زه چې زلمی وم هره ورځ مین وم.　　　　۳۰ / ۳ / ۱۳۷۵ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دباغ غزل

سپر لی شو پیغلو دښتو ته ورمړ کې وایي څـــه
ای ونې ! شینکی باد درته نغمو کې وایـــي څـه
شاعر سیـــند مې نن خدایزده چې لیکلی کوم غزل
لړتم شه ورته عشقه ! چـــې څپـــو کې وایي څه
رمو ته دګلانو سهار څـــه ویـــل شپیـلـــی؟
کوچۍ موسکا دې ګوره چې آینو کې وایي څـــه
یو وړم دې کیږدۍ نه دګریوان ووت څه یـــې وې
یو خوب دې په ټوکریو دلـــیمو کـــې وایـــي څه
یو باغ یې خو زرغون کړ چې غوټۍ وکړي لاسونه
ستا خیال مې نور دسترګو په زانګو کې وایي څه ؟

۱۳۷۵ / ۴ / ۴

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو شين انځور

له مانه څه شی غوړې ؟

ماته د پلار د مړينې وروسته

دری ځیزونه په میراث پاتې دي

اس

او حجره

او يوه سره پر وينو وللې توره.

* * *

له مانه څه شی غواړې ؟

دغه دمنډو

او دوينو

او ډوډۍ دواده شين انځور ؟

۱۳ / ۴ / ۱۳۷۵

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ببه

کلونه وړاندې مې ورته ووې:

دا دشونډو خاڅکی په څو دی ؟

وې: ستا دپلار اونیکه وینه.

اونن مې بیا ترې پوښتنه وکړه:

ټول پیغلتوب دې وایه په څو دی؟

راته یې ووې:

ګرانه !

یوازې یوه ډوډۍ !

۱۳۷۵ / ۴ / ۳۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه پرښتې

دوه پرښتې لکه جوړه بتکې

زما دکور په آئینو کې لا مبي

* * *

پرښتې !ای پرښتې !

لاس دې زرغون ،

پل دې زرغون،

خو ووایه نن دې راته څه راوړي؟

« هغه زرغون ګل د سپوږمۍ څنګ نه»

* * *

پرښتې !آی پرښتې !

لاره دې سپینه،

شپې دې سپینې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایه تاراته نن څه راوړي؟

«داد سپینکي لمر دلاس سپینه توره»

* * *

پر پګړۍ ګل،

لاس کې مې توره شنه شوه

پښتو ! سپین آس شه

چې دوخت دمغول جنګ له ورځم.

۱۳۷۵ / ۵ / ۲

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ونه

سکروټې دي ، لمبې دي خو ته کېږې يوه ونه
کلونه پس دې ښار کې زرغونيږې يــــوه ونـــه
رګ رګ کې يې د پاڼو خير که وينه پاتې نه ده
رينبنه يې په اوبو کې ده غـــوړيــږې يوه ونه
د ځانګو په کيږديو کې يو غږ د شپېلۍ نشته
کوڅې ښارو رادرومــــه چې لوييږې يوه ونه
منم چې په لو ګر راته کښــــت لوکړي دلونګو
تالونه دلاره کلـــه تيـــريـــږې يـــوه ونـــه ؟
سپيرو سپيرو شملو ته ته به سبا ګلونه راوړي
په سر مې چې نن سيوری سيوری کيږې يوه ونه.

۱۳۷۵ / ۵ / ۸

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داجل ، دا برسات

شوګیر چې درته شپو پر څنـــو مات راوړی دی

یو خوب مې درته سترګو کې سو غات راوړی دی

داډک جام چې نن ریږدي پــــه لاسو کې دفرعون

موسی له کوه طور ځینـــې تـــورات راوړی دی

داچاویل چې وریږي د پـــښتـــون شولې حجرې؟

دې وریږو میکا ئیــــل ته هم خــیرات راوړی دی

شیبه پر لمبو ســـره ده او شیبه پر ګلو ســـره

دې خـــاورې کـلـه جل ، کله بر سات راوړی دی

ساعت وروسته رازیږو دا ساعت خیردی چې مرو

تقــدیر راته بس دغسې حیـــــات راوړې دی

سپیـځلی مسلمان دی خو یې زده نه شوه سجده

دې قام ته خدای دخپل غرور زکات راوړی دی

۱۳۷۵ / ۵ / ۳۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخوب کوترې

مابیګاني خوبونه

دښکلي سیند په طلایي هندارو ټول مات کړل

دخوب زخمي زخمي کوترې مې

دسترې او کوچي سیند څپو کیږدۍ کې نه ځائیږي

کبه !

داڅه مې وکړل؟

سیند مې دخوب زخمي کوترو ته یو بام نه لري

دسیند لاسونه خودغره کاڼو پخوا پرې کړي

څوک به زما دخوب کوترو ته په لپو کې دانې ورکړي؟

کبه !

داڅه مې وکړل

زمادخوب زخمي زخمي کوترو ته

یو سیوری، یوپنا خوشه !

سیندونه هم مري اسحاق ننګیال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کبه !

زما د خوب زخمي زخمي کوتروته

دسترې درد دوا خو شه !

« نه... نه !

مور مې لګیا ده له سهاره تر ماښامه په زړو ګوتو جامې مینځي

لور مې تمامه ورځ آینې سره خبرې کوي

زما هم خوب راځي»

سیند لا روان دی

سید بهیږي پسې

د خوب کوترې مې کوچې شوې بیرته نه مستیږي

کابل

۱۳۷۵ / ۶ / ۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مات لمر

یو ستوری ستورو وواژه یو لمر د سبا مـــات شـــو

دغرونو په لاسو نو مې یو غر د سبـــا مـــات شـــو

منم چې سپین سبا دی شپه کوچۍ شـــوه چیـــرته لاړه

موســـم د سبـــا راغـــې خـــو وزر د سبـــا مـــات شو

دابیا مې دنشو په ګنـــاه څـــــه نیســـې زاهـــده؟

ساقي لاړه منصور شو او ساغر د سبـــا مـــات شـــو

دا شپې پرېږده اوږدې شي ان چې ستوري څانګې وکړي

کلاله ! ستا په لاس کې چې هنر د سبـــا مـــات شـــو

موږ وړ درنا نه یو تنبتیـــدلـــــو وریځـــو راشـــــئ !

رهبر د سبا نشته دی ، لښکـــر د سبـــا مـــات شـــو.

تله ۱۳۷۵

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه دار ـــ هغه چنار

پښتنـــو وینـــو غوټـــۍ وکـــړې بهار دی
ساقي ګوره چې پیړۍ وروستـــه مـــو وار دی
پـــوروړي څـــه دتـــاک دپیغـلـــې نـه یو
هر یو رګ یې زموږ دسرو وینـــو آبشـــار دی
زنګ وهلې تـوره غـــړپ دلمبـــو غـــواړي
ســـاقـــي زار شـم راکوه یې چې خمار دی
لا دژیـو ســـوداګـــر سـره جـګـــړه ده
لا خـــو پاتـــې جـــوړ دهـغـو اوبو ښار دی
رباب ګونګ دی آدم هیـری چیـغـې غـواړي
چا تـــرې وړی ددرخـــو دغـــاړې هـــار دی
شنـــو زمـــریـــو ددې غـــرو تـه خبر ورکړئ
چـــې آبـــاد لا دزړو بـــګـــووغـــار دی
بـــیـــا پـــر غـــاړو دشملو غرونه اوچت شول
اور ګـــډ شـــوی دټیـکریـــو پـر بـازار دی
هره پیغله ملالـــۍ ، هر ځـــوان ایـــوب دی
هرسنګر مو ســـور میـــونـد دکنـدهـار دی



سیـندونـه هم مـري　　　　اســـــحـــــاق نـــګیـــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وريځو دامو ديو ځـــو ستـــورو نيـــزې دي

لاکاروان مو دلمـــرونـــو خـــو پـــه لار دی

آزموينې ته يې وختـه !څه حاجـــت شـــتـــه؟

يو پر دوو تـــوتـــو لوی ، بـــل پـــر انګار دی

هـريـــو ښاخ يې چـــې وً دار دژيـــدارانـــو

هـغـــه وور نيالګی هسک شوی لوی چنار دی

تـــه پـــه نـــشتـــه غـــوږ کړه خولې په سر وړه

ماتـــړلـــی دخوشحـــال بـابـا دستار دی

اوس نـــو زرلالـــي دنـــورو ترينه زار کړئ

چې مې ځوړند خپل لالـــی پـــر سـر ددار دی.

کابل

۱۳۷۵ / ۸ / ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینې ته ...

مینې !له شرمه درکتلی نه شم

پیریان د «قاف» له غرونو راغلل

بیا دعشق پرښتې دګریوانه غاړې ته لاس اچوي

ابلیس لګیادی پرزمزمو ،دګناه خپله کیږدۍ غوړوي

مینې له شرمه درکتلې نه شم !

* * *

مینې له شرمه درکتلې نه شم

سیلۍ الوتې زموږ دباغ

دسرو ګلونو دښایسته وو

پاکو میندو په کمڅو کې تومتونه اوبې

مسیح تیره توره په لاس دتومتونو په

واتونو کې زنګیږي او خپل غم ته خاندي

نور په دې ښار کې لیونی دمینې پاتې نه دی

مینې له شرمه درکتلې نه شم !

* * *

مینې له شرمه درکتلې نه شم

چې مو هر غږ پر هوا خورشي دلته ځمکه ، دلته خاوره

ترې دغرو په څیر ماران زیږوي

سیــندونــه هم مــري　　　　اســـــحـــــاق نـــګیــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته جنډه دیوه نر په قبر هم نشته

شیطان پر ځمکې باد شاه شوی او زمو ږه پر سرونو

هغه تخت د سلیمان ګرځوي

پیریان یې حمد بولي ،

او به زمو ږ له لپو تښتي او بادونه مو په کاڼو ولي

دلته له زړه اسم اعظم هیر دی

مینې له شرمه درکتلی نه شم

* * *

مینې له شرمه درکتلی نه شم

نور مو د کلي دګلونو په کاله کې

پیغلتوب دګل غوټیو چیرته هم نشته

او ابراهیم دخپلې ښکلې نازولې دجمال او دعفت

دلوټ کوځو کې دغارت قصې ته خوب وړی دی

نور مو دباغ نجونو ته « هسکې » او « کږې » شملې

دښمنې ښکاري.

مینې له شرمه درکتلی نه شم !

۱۶ / ۹ / ۱۳۷۵

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپه

ای شپې !

راځه چې څو د خوب په کرونده کې مې ځائیږې خونه

*

شپه دکمځو دغرونو ټال کې ځنګیدلې راغله

پلو دتورو وریځو

پکې پاولې دستورو

لکه:

کوچۍ پیغلهرمه کې دښایسته وریو.

خودسپوږمې هنداره ماته ای شپې !

ته به دخپل حسن

اوعشق

دپیغلتوب تما شه چیرته وکړې ؟

۱۳۷۵ / ۱۳ / ۱

کابل

# غزل

بیا رانغلې بڼو ته په پښتو وزرونو
زما د خوب کوترې ستا د سترګو له بامونو

ځلو وهلي ګوره څه خواره واره پرې ګرځي
د شونډو بوراګان مې ستا د شونډو پر ګلونو

په خپل شرنګ به وېده شمه ، په خپل شرنګ به راویښ شم
بنګړي مې کړه دلیچو ګرځوه مې په لاسونو

زما مینه یو سیند دی او ستا زړه وً ورکوټی کلی
دا سیند چیرته جانانه او کیږدۍ د حبابونو

لا ښکاري چې موده د لیونتوب مې پوره نه ده
یو څوک راته ناري وهي د غرونو له سرونو.

۱۳۷۶ وری

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

ښايي چې ژوند يو ګنهکار وي
چې تراوسه پورې
لادزمان دآسماني سکوت
دد نګو ، دنګوغرو غاړو کې
لکه پر غز «حنيفه»
چې دالله دمخلوقاتو د «قاتل»
او دسرو وينو دسيلاب دبهوونکي په نوم
دخداى له شرمه
زنداني دتورې دتورې خمڅې پاتې
هاسې دخپلو سرو غچونو
پر کوم خوب تللى وي
ځکه:
دژوند دبندګانو هغه شنه خوبونه
دشيطانانو
له تور جنو خوبو
تور پاتې شول.

کابل ۱۳۷۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داحجرې او دا شملې

نه ساقي شتــه ، نه جانان شته مازيگر دى
ځو مره تږى د پـيـړيـــو مـــې ساغـــر دى
پسرلى نه دى پـــرى نوم د سپرلي مه ړدئ
ډوب په وينو کې يو سور چريک دلمر دى
دنـــارنــجــو ښاخ منـــم ورته بنګړى شو
خــومات شوى مې مړوند د سپين سحر دى
نــازولې سپوږمۍ مـــه خـيــږه شـــه تمه
چــې دوريځو اوښ ولاړ درته پــر ســر دى
شــنه منګي مې د جنکو پر ولو مــات شول
دنامــرده مغل يـــــون پـــردى ګـــودر دى
رانه اخـلي دړنو ستـــورو نـــامـــوس مې
چې ويده د شپې په تيکو کې خنـــجـــر دى
ته دې غشي وو روه ګوندې چې ويــــښ شم
لامې پاتې ځاى په زړه کــې د پـــــرهـــر دى
دديرو دقام شملې ورنـــه لـــو ګـــى کـــړئ
دحجـرو طـالب ختـلـــې په سنــګــر دى.

۱۳۷۶ / ۱ / ۱۹

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیک

ځو میاشتې وشوې چې در تللې نه شم

لاړو ډېرې شنې دي

ګلان داوښکو وورووم

ټوله ورځ دستا دیاد ښکلې ځانګو ځنګوم.

* * *

همدا چې لمر شین شي

زموږ دښار هغه زړې دښتې کې

زموږ دښار مین په کاڼو ولي

زموږ په ښار کې دمینو دسنګسار پسرلی بیا راغلی

نولو پټه دې غواړم

پکې دخپلو تورو سترګو یو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنارنجي غړېږ ورېښمينو تار واوبه

راويې ليږه

چې ستا ياد هغه خيالي حورې مې

زانګو نه باد يو نه سي

راته سنګساريې نه کړي

څو مياشتې وشوې چې درتللی نه شم

لاروکې ډېرې شنې دي

۱۲ / ۲ / ۱۳۷۶

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړوند

مړوند يو خوب ، مړوند سترېا نه لري

مړوندد غرابۍ پۍ رودلي

* * *

تاد سکندر کله ژړا ليدلې؟

يو سپين مړوند پرې د سرو تورو ګوزارونه کوي

يو سپين مړوند يې دغرور دآسو يال ريبلی

* * *

سکندر له ليرې لارو راغی د پيلانو له سرو تير شوی

سکندر دپارو پا ميزا دښاپيريو شنه خوبونه ويني

ددغو ښکلو ښاپيريو شنه خوبونه ويني

يو سپين مړوند ورته وتی

ورباندې تندر دمړوند ووري

خوای دسپين مړوند «روښانه» پيغلې

تورې په ورو ،

تورې په بام وروه

سکندر په تورې هغه سپينه ډوډۍ نيمه کړله

نقاب دې سپين مړوند ته اور واچوه.

١٩ / ٢ / ١٣٧۶ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دلور غزل

پلــو پــرې دمــخ خــور کــړه غــوړيــدلــي دي ســرونــه

جـانـانــه ! ستـا وربــل تــه مــو کــرلــي دي ســرونــه

دې قــام تــه مــنصــور وايــه کــوم دار شته دی که نشته؟

لــوګــرو کــه هــر څــو ورنــه ريبــلــي دي ســرونــه

ديــار د سيمـــې دښتـــه کـــې دهـــار نسيمـــه وروځـــه

غمـي نه دي دې ټـال کـې زنګـيـدلـي دي سرونـه

څـــراغ چــې شـــي دې دښـــتـــه کې دوخت سترې کاروان ته

په لوړ ښاخ دچنار کـې ځـړيـدلـي دي سـرونـه

چـې سـرې سيلـۍ شـوې ګونګې او دلور غزل يې وچ کړ

هـــرګل مـــو هـــرې پــاڼــې تــه ښنـدلي دي سرونه

ايرې شول خو يو چـم دټيـټـيـدلـو يـې زده نـه کـړ

الله مــو دغـيـرت پـر لمبــو وللــي دي ســرونـــه

رقيب پر ډمو وپلــوره مــوږ ســر داو کـــړ پـــه حـــورو

يــو چـــاتــه پــه سوغــات کــې مــو ليږلي دي سرونه.

۲۵ / ۲ / ۱۳۷۶

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

سپــرلــی کــه راوړای نــه شــئ ترې دسترګو انځور راوړئ

دې شپــو تــه سبــا نشتــه یــوه لپــه دنـــور راوړئ

منم چې یو سر نشته دی چې غـــچ یـــې دســـر واخــلــې

دې دار ځـنــې مــلــګـرو خــو داســر دمنصــور راوړئ

چــې پښــو لانــدې کــړ وریځو ، چې دشپو ډمې پرې خاندې

دلمــر تــپــې آســونــو نــه لــویــدلــی غــرور راوړئ

دســتــرګــو تــور مــو بــار کــه د « یعقوب» کړ پر اوښانو

دې وړې میــلــمنــې تــه لــږ دستــورو انــګور راوړئ

راځــې چــې تــور مــاښــام کــې ، رانه وړي چې زلمی عقل

یوه یې له تــاکــونــو نــه پــه بــدو کــې لــور راوړئ

پــه شــونــډو کــې همــت کــه دخنـــدا راوړلــو نشتــه

دې ښار ته خو تــابــوت د ځــوانیــمــرګــه ســرور راوړئ

۱۶ / ۳ / ۱۳۷۶

لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما دچم ونه

زما دچم ونه بر بنډه ده
شرمیږم ورنه
دباد رهزنو ترې دشنو پاڼو جامې وړې دي
په سپین ټټر يې يو څو څاڅکي دي د خامو پیو
څانګې يې زړه روي،
تیونه يې ارې وړي دي.

* * *

ونې ! سپرلی دی
واورې نشته چې کفن شي درته
زما دمور شنه لوپټه هم بېګاه غلو وړې ده
مامې خيالي څادر ګرو کړ د کلو وړی وم
دپلار شمله خومې له وخته تو پانو وړېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

زما دچم ونه بر بنډه ده

شرمیږم ورنه

مور مې سرتوره ده

ټیکری نه لري

نه څه شمله شته

نه څه خور دی څادر

زموږ دیرې مازیګری نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو سيو ری ، يو ګل

مرغيو ! چوپ شئ ماله خوب راځي

دلته دزړونو باغچې شنډې دي

يو سيری او يو ګل نشته

دلته د سين سپينو هندارو کې

دلمر

د طلايي کبانو رنګ تور شو

دلته د شونډو دموسکا وو هوسۍ

قتلې شولې

غشو يو وړې

او بنګړيو اله سپوږمې

دلته د تاک پيغلو ته

د ستورو بنګړي نه اچوي

مرغيو

چوپ شئ

ماله

خوب راځي

مرغيو چوپ شئ مله خوب راځي !

* * *



سيـــندونـه هم مـــري اســـــــــحـــــــاق نـــــګيـــــــــــال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته دباغ دشهزادګۍ بکارت مات دی

د سپرلي ښکلې شهۍ

دقاف دیوانو وړي

دلته پرونو

د «ایوب» سیوری راخوردی

هرې پانې

هر اندام نه يې چینجيووري

دلته تیارې

دشپو په بلاربو اسپو راغلې

درنها در مو لو کوي

دلته کورونو ته

دژوند له شوم شیروار نه دسپیدو کټوې تشې رازي

مرغیو !

چوپ شئ

ماله

خوب

راځي.

۱۲ / ۴ / ۱۳۷۶

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګناه

څومره نيکمرغه يم ګناه کومه

تمامه ورځ وريځې دباد له ژرندو باسم

اودلمر په تناره کې پسرلي ته ترې ډوډۍ پخوم

څومره نيکمرغه يم ګناه کومه.

* * *

زما دکور داديوالونه

دڅو خاورو

څواوبو

اودڅه لمر

څو ترکيبو نه نه دي

زماله کوره ديوالونه دښيښو راتاو دي

زما او زما دکاله خټه يې

دتاک

اودانګورو

اوشرابو

پهلاسو ايښې ده

مامې دسترګو درانه نور په وسعت

سيندونه هم مري                    اسحاق ننګيال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره شراب څښلي دي.

* * *

دوره مغرور يم چې

دهسک دنازولي دربار سيري لاندې

خپله ځواني راته پيغور ښکاري

خو مانه لوی غلام دښکلو نشته

يوه شپه زما دلاس بيړۍ

دښکلو د سينو په سمندر کې

ستړې شوې نه ده

زه لکه پلار هسې يم

پلار له مړينې نه يوه ګړۍ دمخه هم

دشنو غنمو وږو لاندې

زموږ دکلي دبزګر له ارتينې سره بربنډ پروت و.

۱۳ / ۴ / ۱۳۷۶

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کله چې لمر شین شي

کله چې لمر شین شي

ستا دبادونو شنه ګلان مې دزړګي پر مسا پرې دښتې ځانګې وکړي ،

وغوړیږي

کله چې لمر شین شي.

* * *

کله چې لمر شي

ستا دبادونو طلایي کبان په ښکلو او زرینو وزرو

زما دسترګو په چینو کې ستا دسترګو تصویرونو نه خوبونه مینځي

کاه چې لمر شین شي.

* * *

کله چې لمر شین شي

ستا دیادونو هغه پیغله هوسۍ راشي

تربیګاه زما دزړه په جل وهلیو کروندو کې څري

کله چې لمر شین شي

* * *

زمادزړه دښته کې ځاځکي دباران نه ووري

زمادسترګو چینه وچه ده، داوښکو مرغلرې ورنه غلو وړې دي

څوکاله وشول چې ږلۍ مې دزړګي پر فصل ووري اوکیږدۍ مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپانونه وړي

نوستا دياد هغو ګلونو ته باران ،

هغو کبانو ته اوبه،

اودې هوسۍ ته شپونکې څنګه شم؟

* * *

بيګاه شپونکی باد ستا دځنو له غرو راغی

په پګړۍ کې يې يو ټکې ديو ګل نه و

له نرۍ ملا نه يې دلمر هغه زرين وستنې نه و راتاو

چاپې په تشې اوريښې ريښې بخخۍ کې يو دستورو نارنج نه و ايښې

نور مې په کلي کې بادنه چليږي، باد مسا پر شو ورنه

څومره تنها ،

څومره يوازې ده

زمادکلي ښکلې نازولې سپوږمۍ.

* * *

بيګاه مې خوب ليدلې:

زموږ دکلي د چناروتر شنو سيو رو لاندې

په هغو لويو پلنګي کټونو

يو څو کارغان ناست دي

ږلۍ دلښتو وروي پرې، ګډوي ځان ته زموږ دکلي سپينې هيلۍ

زموږ دکلي په ديره کې دچلمو دکړو وږو لو ګيو پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورې ورې دي دښايسته هيليو تکې سرې دپيغلتوب وينې

کلي کې يو سيو رى دبريتو

اويو شرنګ دسپينو تورو نشته

رښتيا !

دکلي په ديره کې

دزلميو څېورو

داتڼ هغه سکنى ماښام درياد شط که نه؟

* * *

ستا دبادونو شنه ګلان مې

دزړګي پر مساپرې دښتې ځانګې وکړي

وغوړيږي،

کله

چې

لمر

شين

شي.

۱۳۷۶/۷/۱۲

پيښور ـ پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

څه ښکلی سوداګر دی څومـــره ښکلی باران پـــلـــوري

یو آس د سپینو ور بځودی دور بځو ګــلان پـــلـــوري

د ستورو په تېښو یې جـــوړې کـــړې ورتـــه څـنـــې

نن دلته په دې چم کې بو کا فردی بـتــــان پـــلـــوري

یو بار یې درنګ راوړو د سپرلي جـــوار ګـــر ګـــورئ

چې څومره یې ګران راوړو چې یې څومره ارزان پـــلـــوري

یو شین لوګی راخوردی یو سور اوردی لګـــېـــدلـــــی

یو مست زردشت راغلی دی یو غلـــی آذان پـــلـــوري

بازار یې د نور لوټ کړ د آسمان سپینـــې کـــوتـــــرې

له لمر ځیني تېګ اخلي او د ستورو کاروان پـــلـــوري

د باد په نیلي سپور د سهار سپین شـــهـــزاده راغلـــی

د شپو بر بندې پېغلي پرې شلېد لی ګرېوان پـــلـــوري.

۱۳۷۷ کال د پسرلي لومړۍ شپه

**لغمان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسحاق ننگیال وروستی غزل

# یو باد یو منصور

یــو بــــادر راګلیدلي مالــه ځــانـــه سر وړي

د زړه اس مـــې لـــه بـــاره د ارمـــانــه سره وړي

د شـپـــو پـر اوښ یو غل دی زمونږ کلي ته راغلي

ګـــلـــونـــه او بـــاغـــونـــه له باغوانه سره وړي

یــو پـــل وم چـیـرته لړې ستا پـه لاره زرغون شوي

یـــو لـــوټ مـــې ا وس له بادو له بارانه سره وړی

یو ځوک دي ستا د لا شراب یې ټول راځني وڅښل

دا سـره کیږي دی، د خوب مې له تو اپانه سره وړي

زمـونږه یې په سترګو کې د شپو دوړي شینـدلي

دا لـــوي کـــاروان مو ځکه له ښاروانه سره وړي

نـــاري د انـــا الـحق یې ورته و چي کړي پر ژبه

منـصـــور وطـــن مې دارته له ایمانه سره وړي

۱۳۷۷.۱.۱۷

لغمان

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library